

پښتو پښنو يـه (گـرامـر)

PASHTO GRAMMAR

دويم لاسوهلی ازمينښتی چاپ

پوهندوی دوکتور مجاور احمد زيار

Dr. M. A. Zyar



ادب پـوهنځی

د ۱۳۵۷ وری

نيو ليك (فهرست)

سرليك	مخ
پادښت	الف
پښتويه(گرامر)	۱
لومړ ی برخه ـ غږ پوهه (فونو لوژي) :	۱
دويمه برخه ـ گرۍ پوهه(مور فولوژي) :	٦
تـوم گرۍ پوهـه	٦
نوزي (جنس)	۷
پيږ(حالت)	۱۰
ناوښتونی نومونه	۱۲
خيزنوم(اسم)	۱۳
ستاينوم(صفت)	۱٤
شميرنوم(عدد اسم)	۱٦
نومخری (ضمير)	۱۸
ځانگړي نومخري (شخصی ضميرونه)	۱۸
تولنو مخري (ملکی ضميرونه)	۱۹
نغوتنومخري (اشاري ضميرونه)	۱۹
پوښتنو مخري (استفهامی ضميرونه)	۲۰
وييکنو مخري (اداتی ضميرونه)	۲۱
اړيکنو مخري (ارتباطی ضميرونه)	۲۲
غبرگون نومخري (انعکاسی ضميرونه)	۲٤
ناتيکنو مخري (ابهامی ضميرونه)	۲٤

سرليك	مخ
گډ تولنومحري (اشتراکی ضمير)	٢٧
تول ـ ځانګړي نومحري (شخصی ـ ملکی ضميرونه)	٢٧
لومړي کړ اووند (تمرينونه)	٣٢
دويم کړ اووند (تمرينونه)	٣٣
دکړ ګړ پوهه يا دفعل صرف	٣٤
کړ نوموونکی (مصدر)	٣٤
دکړ اوړ ونی توکونه اوار خونه	٣٥
اوړ ونونه (ګردانونه)	٣٩
د تيرمهال کړ اوړ ون	
روز دنی تيرمهال (اعتيادي ماضی)	٤١
لنډ تيرمهال (قريبه ماضی)	٤٢
لرتيرمهال (بعيده ماضی)	٤٣
ګومانی تيرمهال (احتمالی ماضی)	٤٤
ارمانی تيرمهال (تمنايی ماضی)	٤٥
اړونی تيرمهال (شرطی ماضی)	٤٧
توانی تيرمهال (امکانی ماضی)	٤٨
ټينګاري تيرمهال (تاکيدي ماضی)	٤٨
هيښنی تيرمهال (تعجبی ماضی)	٤٩
پوښتنی تيرمهال (استفهامی ماضی)	٤٩
نالیزند کړ (لازمی فعل)	٥٠
بشپړ تيرمهال (مطلقه ماضی)	٥٠

سرليـــــك	مـــخ
خبري تيرمهال	٥٠
لنـــدې	٥٠
لـــر	٥١
نابشپر	٥١
روز دنى	٥١
ارمانى	٥١
توانى	٥٣
گومانى	٥٣
تينگاري	٥٤
پوښتنى	٥٥
اړوتى	٥٥
د اوسمهالکړ اوړون	٥٦
بشپړ اوسمهال ـ خبري	٥٦
اړوتى	٥٧
ارمانى	٥٧
پوښتنى	٥٧
هيښنى	٥٧
توانى	٥٨
امري	٥٨
تينگاري	٥٨
غږښتنى	٥٩

سرليـــــك	مـــــخ
گومانی	٥٩
نابشپړ اوسمهال	٥٩
اړوتی	٦٠
ارمانی	٦٠
پونښتنی	٦٠
هيښنی ــ گومانی ــ توانی ــ امري ...	٦١
نالیزند (تل ــ) ــ بشپړ اوسمهال	٦٢
خبري ــ اړوتی ــ ارمانی	٦٢
نابشپړ اوسمهال	٦٣
خبري	٦٤
داوسترمهالکړ اوړون (دمستقبل فعل گردان)	٦٥
نالیزندځ ــ ولاړ ــ	٦٥
دکړ رغاونی (ساختمانی) ډولونه	٦٦
یوستوي ــ بیلښتی (ساده ــ اشتقاقی)	٦٦
خواپرخوا (سست ترکیبی)	٦٧
ترښتی (ترکیبی)	٦٨
دویمه برخـــــه :	٦٩
ناوړیدونی گړونه	٦٩
کړولونه (قیدونه)	٦٩
ویښکی (ادوات)	٧١

سرلیـــــك	مـــخ
اړیکوییکی ـ ورتنی وییکی ـ تړ وییکی	٧١
تولوییکی ـ سربلونه	٧٢
٣ـ کـــــړ اوونه (تمرینونه)	٧٨
٤ـ کړ اوونه	٧٩
دپښتو گړ ونو انځورلیك	٨٠
د ریمـــه برخـــه :	
غونډ له پوهه (نحو)	٨١
غونډ له(جمله)	٨١
دغونډ لی جوړ ښت	٨١
دغونډ لی رغنده توکونه	٨٥
اوډ ون (ترتیب)	٨٧
دغونډ لی بشپړ اند توکونه(اهنگ ـ خج ٠٠٠٠)	٨٨
دایښی اوایښونی سمون	٩١
نوموالـه اوکړ واله غونډ له	٩٣
دغونډ لی مانیز ډولونه	٩٤
دغونډ لی جولیز ډولونه	٩٥
یوستوي غونډ له	٩٥
غبرگغونډ له	٩٦
گډ ه غونډ له	١٠١
گډ لی غونډ له	١٠٣

سرلیک	مخ
گړنی (اصطلاحات)	۱۰۵
غونډ له پوهیزه شننه (نحوي تجزیه)	۱۰۷
کړاوونه	۱۱۵
نوې نومونی	۱۱۷
وین پانګه	۱۳۲
اخځلیک	۱۵۷

یادښـــــــت

دنوي اوزاړه ترمنځ یوه نه شلیدونکی شخړه یو دیالکتیکی قانون دي ۰ هر زوړ څیز اوپدیده په خپل ځان کی دننه دیوه وریسی نوي اړ پیچ (ضد) زړي روزي او په همدې دود اودوی دوګړنی ټولنی بشپړتیا یی بهیر مخ پروړاندي درومی اولـــه دي سره یی انداوپوهه ۰ په دي توګه له مهال تیریدنی اوځانګړو ځانی او جهانی اړونو سره سم بشري پوهنه تل بدلون اونوي کیدون مومی اوهمدغه بدلون اونوي کیدون یـــی بشپړتیایی تګلوري ورسیخوي ۰

زموږ په وروسته پاتی ټولنه کی دنورو بشري پوهنو په لړ کی ژبپوهنه هم نـــوي دودیدونکی ده او زموږ له ټولنیزو اړونو سره سم یی یو رنګ لاسم دود نه وي موندلـــی چی په نوره نړۍ کی هغه بیا دوخته زوړ وي ۰ که څه هم لږ ترلږه شل کاله پوره کېدونکی دي چی نوي ژبپوهنی دادبپوهنځی له لارې زموږ هیوادته سررادننه کړې خوبیا یـــی هم نه یواځـــی دزړې دودیزي ژبپوهنی اوپښویی ځاي نه دي نیولی چی لاکورټ یی ترې ســـر هومره هم نه دي هسک کړي ۰

دعبدالاحد یاري دنوي ژبپوهنی څولوستونه اولیکنی لادشاګردانو مغزو ته سمی نه وې رسیدلی چی درښتین ژبښودنی بیاټول افغانستان نیولی وکه له الهامه تیرشو ، دپښتو څانګی پازوال استاد شاکر دنوي ژبپوهنی دپیښاوو په توګه نه دومره اکادمیکـــه زده کړه اوسمبالتیا درلوده اونه یی ورسره لږه کی زړورتیا چی هغه زړه ژبښودنـــه لږ ترلږه له پوهنځی څخه وباسی ۰ ده چی دژبپوهنی مؤسسی او پښتو څانګی دژبنیو څیړنو او ښوونی بشپړ مونوپول یی په لاس کی وله ((فونیم وڅه ته وایی ـ مورفیم وڅـــه ته وایی؟)) پرته نه نور څه زده وو او نه یی ترهغه زیات څه وړاندې کړای شـــول ۰

نو په دي توگه به ترې پخپله دپښتو ژبپوهنی یاپښتو پښوبی په باب څه هیله شوي واي ۰

دتزي نوي ژبپوهنی (دپښتو ټولنی د ۱۳٤٤ خپرونی) اود پالوال نوي مصدر (داد بپوهنځی د ۱۳۵۰ خپرونی) بیاهم زاړه غوږونه یوڅه وبنگول اودایی لږ ترلږه وښووله چی نوي ژبپوهنه یاپښوبه څه مانا !

ما دژبپوهنی دیوه نوي زده کوونکی او پښتو گړ دود څیړونکی په توگه د سویس له زده کړونه لهبیرته راستنید و سره له زړي ژبپوهنی اوزړې ژبښودنی سره یوي مخیزي نه پخلا کیدونکی سرغړاوي ته راودانگل اوخپله لومړۍ دنده می داوبلله چی له پښتوڅانگی څخه همدومره دزړي ژبښودنی ټغرویلږ دوم لکه کوم کار چی په دري څانگه کی الهام او نگهت کړي دي اوترخپل مسلکی واک اووس پورې دنوي ژبپوهنی په رڼاکی دیوي نوي ښوونځیوالی (مکتبی) پښوبی اوژبښوونی بنسټ هومره کیږدم ۰

زه داباتی نه وهم چی دغه پښوبه په تیوریک ډول دکوم ډیر تازه او لوکس ژبوهنیز ښوونځی (لکه ترانسفورماسیونل ـ ژنراتیف گرامر) ښکارندویی کولای شی او سل په سلوکی دپښتو یو بشپړ سپړیز (تشریحی) گرامر اوسی خودا په ډاډ ویلای شم چی دودیز نورماتیف گرامر هم نه دي ۰ داچی لیکنی اوعلمی پښتو لامنځ ته نه ده راغلی اوهرچا خپله کلیواله او ځانگړي پښتو رامخکی کړیده نو کیداي شی ځینو گوتنیوونکو ته زمادغه پښوبه یو نورماتیف گرامر واییی ځکه ماد نورو پرخلاف ځانته یوا ځینی پښتو امرلی اوغوره کړي ده اودگرامري دودونو (قاعدو) اوټولیو (کتیگوریو) په سپړنه ایستنه اوویشنه کی می دټولو پښتو گړ دودونو دیوي گډې امرلی (انتخابی) بڼی اراو معیار په کار اچولی دي په دي چی د ((پښتو)) گرامر لیکنه اود ((پښتو گانو)) گرامر لیکنه سره توپیرلري ۰

دموخی اومرام له پلوه مازیات دپښتو څانګی د شاګرد انو راتلونکی اړتیا په پام کی نیولی ده ۰ هغه داچی دوي په داسی یوي نوي پښتونی سره پرخپل خپل وار په منځنیو او لوړو ښوونیزو څانګو کی سمدلاسه دزړې ژبښوونی پایته رسیدل اوله دودې لویدل هومره ونښوولای شی اوپرځای یی دنوي ژبښوونی یوه وزمه هومره خپره کړي داسی نوي ژبښوونه چی هم تخنیکی اومتودیکسی نویوالی لري اوهم ژبنی نویوالی ۰ او زمایه ازمینت ددي لاسوند چی ماولی دغه دوه اړخیز نویوالی ته پریووار را ودانګل ، دا دي چی یوائی په دې یوه نویوالی له زړې ژبښوونی او پښتونی سره مبارزه بیاهم نیمګړي وه ۰ د ((حرف یاتوري))ـ((مصدر)) ـ ((فاعل)) او ((مفعول))غوندې کرغیړنی نومونی چی استادیی په ویلو او شاګردان یاشاګردانی یی په اوږدلو شرمیزي نور هماغسی له دوند او مودې وتلی بریښی لکه پخپله دزړي ژبښودنی کړغیړن دوداو تخنیک ۰

که څه هم د دې نوي غورځنګ دغه دویم اړخ راته داپنځه شپږ کاله د سړې کاسه کی اوبه راکړې اودزړي لیاري پلویانو می دکوټلو لپاره همداپلمه ونیوله خوما هرڅه دیوه ((علمی بري)) په خاطر وزغمل او ډال می پرځمکه کښی نښود ۰ همدغه زغم او تینګ هوډ اوویلاړو چی تر بري یی ورسولم او هغه داچی دغه نوي پښتو به می له ټولو نویو نومونو اوترمونو سره هم شاګردانو وسهلاي شوه او زده کړ اي شوه او هم می د شاګردانو شاګردانو ۰ داد بپوهنځی دناپښتو څانګو او ځینو نورو پوهنځیو لپاره له همدغه ګرامر څخه لوستونه برابر شول او همداسی یی پسی دهیواد نورو ډیرو ښوونیزو مرکزونو ته لارپیدا کړه اولا پیدا کوي یی ۰ دملالی لیسی پښتو څانګی زما له همدغه ګرامر څخه یووتلی لوستلیکی کاپی کړ او دهغه لیسی په درسی کتابونو کی یی ورته ځای ورکړ ۰ بی له دي چی زما له شاګردانو څخه کوم یوه هلته ښکارندوی کړي وي ۰ له دي ټولو خبرو سره سره زه بیاهم خپله پښتویه یوه بشپړه اوبی ((خو)) نه بولم اونه یی بوللاي شم ۰ هماغسی چی زما

دغه پښویه د پوهاند رښتین ترژبښودنی نوي ده او د هغی ځای یی ونیو همدغسی به په ځا پسی د دوکتور تزي هغه هم زما تردي نوي وي او ځای به یی نیسی • مقصد یوه نوي لاره هومره می وایستله اوس نو هر نوي ژبپوهاند او پښو یپوهاند کولای شی بی له کـــوم سرخوږه د نوي ژبپوهنی د هماغه بیخی نوي ښوونځی په رڼا کی د لازیاتی نوي پښتو ژبپوهنی او پښتو پښویی په باب تازه نوښتونه او نو چارونه وړاندې کړي • نه یواځـــی په گړ هار ښلکی په چار او کړن سره زما د دغوځای ونیسی او په دي توگه د نوي نړۍ او نوي پیړۍ له پوهی او تخنیك سره د پښتو او پښتنو په پیژندویی او روز دیدنه کی ترمـا زیاته ونډه واخلی •

تل دې پرناپوهی باندي د پوهی بـــري

اوپر زړو باندې د نویو لاسبـــري

پوهندوی دوکتور مجاور احمد زیار

نادرشاه مینه د ۱۳۵۶ د کب ۱۵

سید مسافر

پښـــــويـــه (گـــــــرامر)

پښويه دژبپوهنی يوه ستره سپړيزه (تشريحی) برخه ده چې په دوديزډول پـــه ښوونځيو او ژبنيو زده کړو ځيو (کورســو) کی ديوي ژبی يا دهغی دمعياري ليکنی بڼـی دزده کړې داسانتيالپاره لوستل کيږي، ياپه لنډ ډول :

پښويه ديوې ژبې له بيلا بيلو جوليزو توکونو او دودونو څخه غږيزي ياپه لنډه وينا پښويه ديوي ژبی درغاونی (جوړښت) سپړنه (شرح) ده چی داسپړنه له درو اړخو څخه ترسره کيږي :

۱ــ غږ پوهه (فونو لوژي) .

۲ــ گړ پوهه (مور فو لوژي)

۳ــ غونډ له پوهه (سينتکس) .

لومـــــړی برخـــــه

غږپوهه (PHONOLOGY)

غږپوهه په ټولـيز ډول ديوې ژبی لومړنی ساده توکونه (غږونه) کتی اوڅيږي اوپه لنډ ډول پردوو څانگو ويشل کيږي :

۱ــ اواز پوهه (فونيميکس) .

۲ــ سپڼپوهه (فونيتيکس) .

اواز پوهـــــه : اواز پوهه ديوې ژبی ارزښتناک غږونه (اوازونه) ترڅيړنی لاندي نيسی .

اواز : (فونيم) هماغه داوريدو وړ سپـڼ ياغږ دي چی دغږيزو غړو او ساهوا په مرسته پريووار له خولی راوځی پخپله کومه مانا نلري خو په ويو نو (کلمو) کی مانيز توپير پيښوي نکه پوراو تور چی ديوه اواز په بدلولو سره دوه بيلا بيل ويـونه دي .

سپڼپوهـــــه : سپڼپوهه ديوې ژبی ټول غږونه يا سپڼونه که ارزښت ولري ياونلري يومخيز ترڅيړنی لاندې نيسی د ساري په ډول (د) دپښتو يو ارزښتناک غږ (اواز) دي خو په ويی

یاڅپه کی له راز راز دریځ (موقعیت) سره بیلابیلی بڼی ځانته غوره کوي . داسی چی وینگ (تلفظ) یی دویی یا څپی په یوه برخه کی زور وروي اوپه بله کی کمزوري یانیم کمزوري لکه په (دود) کی چی لومړي (د) تر دویم هغه غښتلی ویل کیږي اودویم . بیخی د (ت) وینگ ته نژدي کیږي . نودفونیتیکس له پلوه پرلومړي دویم او ... (دالونو) ویشو او دفونیمیکس له پلوه یی دهماغه یوائینی (دال) په توگه پیژنو .

په دې توگه هره ژبه یو ټاکلی شمیر اوازونه لري خو سپڼونه یی هرڅومره کیـــــداي شی .

دپښتو اوازونـــــه : یوه ـ یوائینی ـ گډه لیکی معیاري پښتوټول ۳۶ اوازونه لري چـــی پرڅلورو ډلـــوویشل کیږي :

۱ـ خپلواك (واول) چی راپیداکیدل یی بی له کوم ستر هوایی بندیز څخـــه ترسره کیږي او شمیریی اووته رسیږي .

زور	a	لکه	سر	sar
زورکی	ə	لکه	تره	trə
الف	ā	لکه	کار	kār
اوږده ې	e	لکه	ادې	ade
لنډه ي	i	لکه	ښادي	šādi
اوږدو	o	لکه	اور	or
لنډو	u	لکه	سور	sur

۲ـ بیواك (کنسوننټ) چی له راپیداکیدو یاله خولی څخه دراوتو پروخت د ساهوا له بندیز سره مخامخیږي اوشمیریی (۲۷) ته رسی .

پ	(بـــې b)	لکه	بر	bar
پ	(پـــې p)	لکه	پور	por
ت	(تـــې t)	لکه	تور	tor
ټ	(تـــې ṭ)	لکه	تـــول	ṭol
ج	(جې j)	لکه	جور	jor
څ	(څې ǰ)	لکه	څور	ǰwar
څ	(څې c)	لکه	خار	cār
چ	(چې č)	لکه	چار	čār
خ	(خې x)	لکه	خول	xol
د	(دې d)	لکه	دود	dod
ډ	(ډې ḍ)	لکه	ډاډ	ḍāḍ
ر	(ړې r)	لکه	زور	zor
ړ	(ړې ṛ)	لکه	ړوند	ṛund
ز	(زې z)	لکه	زر	zar
ژ	(ژې ž)	لکه	ژر	žar
ز	(زې ẓ)	لکه	زیره	ẓira
س	(ســې s)	لکه	سم	sam
ش	(شې š)	لکه	شل	šal
ښ	(ښې ş)	لکه	ښل (زینه)	şal
غ	(غې ǧ)	لکه	غرمه	ǧarma
ك	(كې k)	لکه	كر(كشت)	kar

گ	(گې g)	لکه	گر	(ظلم)	gar
ل	(لې l)	لکه	لار		lār
م	(مې m)	لکه	موړ		moṛ
ن	(نـــن n)	لکه	نن		nǝn
ڼ	(ڼـې ṇ)	لکه	بڼ		baṇ
هـ	(هې h)	لکه	هلك		hal•k

۳ـ نیمواك (نیم واول) هغه اوازونه دي چی دخپلواکو او بیواکو دواړو دنده پرځای کوي یا په بله وینا که په یوه څپه کی دزړي یا هستی (حرکت) کارورکړي د خپلواك بڼه غوره کوي که نه دبیواك . په ترتیب سره لکه په بیل bol اوبیا byu کـــی . دنورو خپلوانو ژبو غوندي پښتو هم دوه نیمواکه لري :

و	(w)	لکه	ور	war
ي	(y)	لکه	یور	yor

٤ـ غبرگغږونه (دیفتونگونه) هغه اوازونه دي چی دخپلواکو اونیمواکو په ملگرتیا منځ ته راځی اولکه پوستوي اوازونه یووار پتـلیز (پیوسته) له خولی راوځی . دیوه غبرگغږ لومړي ټوك یو خپلواك او دویم ټوك یی یو نیمواك اوازوي اوداچی پښتو نیمواك اوازونه دوه دي نوبه دې توگه یی یو ډول غبرگغونه په و(w) جوړیږي اوبل ډول یی په ي(y) چی ټول شمیر یی یوولسوته رسی .

لومړي ـ دی(y) غبرگغږونه :

نرمه یا زورواله ي	ay	لکه	سړی	saṛay
اي	y	لکه	ځاي	zā y
درنه یا زورکی والی ئ	y	لکه	مړئ	maṛ y

وي	oy	لکه	زوي	zoy
وي	uy	لکه	بوي	buy

دویم — دو (w) غبرگزونه :

او	aw	لکه	لو	law
او	w	لکه	کټو	kaṭə w
او	äw	لکه	پړاو	paṛäw
او	ow	لکه	اوری	owrə y
یو	ov	لکه	لیو (کاه گل)	low
یو	iw	لکه	ټریو	triw

څپه : څپه ، هجا یا سیلاب هغه اواز غونډ (فونیمی گروپ) دي چی یا یو خپلواک وي اویا له یوه خپلواک اویوه یا څو بیواکو څخه جوړ وي اوپه یو ځایی ډول له خولی راوځی لکه په (ادوم) کی چی دوه زړي (خپلواکه) لري لومړی څپه (الف) اودویمه (دوم) ده یا شخوند sxwand چی یوزړي (a) لري اوپنځه بیواکه نو یوه او زده څپه گڼل کیږي ۰ څپه هرو مرو مانا نلري د ساري په توگه کور هم یوه څپه ده او هم یو ویی ځکه مانا لري مگر (اغی — زه) په اغیزه کی دریواړه څپی ځانته جلا جلا مانا وي نلري ۰

خج یا فشار (اکسینت) : خج هغه چار (عملیی) ته وایی چی د ژبنیو تو کونو په لړ کی یو توک په زور او شدت سره وویل شی ۰

په دي توگه خج په درو ډولو وشل کیږي :

غونډ له ییز (جملوي) خج — وییز (لغوي) خج او څپیز (هجا یی) خج لکه په (زه پوهنتون ته ځم z ə pohantun ta j ə m.) کی یو غونډ له ییز خج راغلی او هغه هم پر (u) اوپه یوه وخت کی وییز خج هم دي ځکه د

غونډلی دنوروویینو په ترڅ کی یوائی د (پوهنتون) ویی خج اخیستی او هم څپیزخج دي

ځکه دپوهنتون د دري گونو څپو په ترڅ کی یوائی یوي څپی

خج تر لاسه کړي دي ٠

دویمه برخه

گړ پوهه (صرف Morphology)

گړ پوهه د پښویی هغه برخه ده چی دگړونو (مور فیمونو) له رغاونی اوړون (گردان)

او دهغو له ځیلونو (ډولونو) سره کار لري ٠

گـــــــــړ : گړ هغه کوچنی مانیز ژبنی توک یا مانیز یوون (واحد) دي چی که وشنل شی

اوازونه تري لاسته راځی اوپه دي توگه خپله مانا له لاسه ورکوي ٠

څانگـــــــــی : گړ پوهه دگړونو د ډولونو له مخـــی په دووڅانگو ویشل کیږي : یوه

داوړید ونیو (گردانید ونکو) گړونو څانگه اوبله دناوړید و نیو گړ و نو څانگه ٠ داوړید ونیوگړ ونو

څانگه بیا دوي برخی را اخلـــی :

١ــ نوم گړ پوهـــه ٠

٢ــ کړ گړ پوهه ٠

نوم گړ پوهه :

په نوم گړ پوهه کی د نومونو ډولونه اودهغه اوړ ونونه (گردانونه) څیړل کیږي ٠

نـــوم : هغه ویـــی دي چی بی له زمانی اړیکی (دکړپه توپیر) د راز راز څیزونو

او ښکارند و (پدیدو) څرگند ونه کوي لکه تیږه ، لرگی ، سړي ، سړیتوب ، ښایست ، روغ ، روغتیا ،

روغوالی ، زه ، ته ، دي ، یو ، دوه ٠٠٠٠

دنومونو ډولونـــــــــه :

نومونه پرڅلورو ډلو (گروپونو) ویشل کیږي :

١ــ څیزنومونه (اسماء) ٠

۲ـ ستاینو مونه (صفات) ۰

۳ـ شمیرنومونه (اعداد) ۰

٤ـ نومځیري (ضمایر) ۰

دنوم اوړون اړخونه :

نومونه په ټولیز ډول د درو اړخو (وجوهو) له مخې اوړون موس لکه نوزي ، ګڼه ، پیر ، خرڅلورم ډول (نومځري) یې پرهغو سربیره دیوه بل اړخ (وګړي) له مخې هم ګردانیږي ۰

۱ـ نوزي (جنس) چې نوم نرینه دي لکه ګیدړ ، سور اویا ښځینه لکه ګیدړه ـ سړه ۰

دنرینه نوم نښې : داوروسته نومونه زیاتره نرینه دي :

۱ـ چې وروستی اواز (فونیم) یې بیواک (کنسوننت) وي لکه : کور ، ختیځ ، هلک ، غټ ، ویاړ ، هیواد ، غورځنګ ، اورمیږ ، لاس ، پټ ، چرګ ، بیدوده (مستثنی) زیاتره دخپلوانو نومونه لکه : خور ، مور ، ترور ، نزور ، نندرور ، ورندار ، تندار ۰ یاهغه ښځینه نومونه چې په وینګ کې زیاتره خپل پای خپلواک غورځوي لکه ستن ، څنګل ، لار ، ترخځ ۰ همداراز ډز (ډزې) اومټ (مټې) ۰

۲ـ له زورکې والی ی (ay) او ه (۸) پرته هر نوم چې په غبرګغږ (دیفتونګ) پای ته رسیدلی وي لکه سړي ـ لرګی ـ ځای ـ بډای ـ زوي ـ لوي ـ څارندوي ـ پیژندوي (مشهور) بوي ـ خوي ـ کډو ـ لو ـ جړاو ـ پړاو ـ کړاو ـ نیاو ـ لیو ـ تړو ۰

۳ـ هغه نومونه چې په زورکې پای کیږي لکه تره ـ پسه ـ لیوه ـ وراره ـ زړه ۰ بیدوده لکه : خوله ـ وباله ـ ترله ۰

٤ـ هغه نومونه چې په لنډو (u) پای ته رسي لکه چاکو ، ټټو ، یابو اردو (عسکري) ، لاټو ، لاهو ، کاهو ، ماکو ، پټو ، پیښاوو (مقلد) ، سانډو (باجه) ، ساهو (ازاد) ، بازو ۰

دښځینه نوم نښې : داوروسته نومونه زیاتره ښځینه نښې (پایلی) لري :

۱ـ له زورکې اولنډ (و) پرته هغه نومونه چې په خپلواکو (واولو) پای ته رسي لکه ادې ، ناوي ، خوږه ولې ، ښادي ، ورورې ، ودانې ، ورانې ، منهه ، پزه ، ښځه ۰

رڼا ، بریښنا ، بیدیا ، لوړ تیا ، نڅا ، ځلا ، ورا ، بلا ، ژړا ، خندا ، غلا ، ملا (کمر) ،
شا ، ویسا ، پښتیانا ، اریانا ، پیشو ، زانگو ، درخو ، بیو ، پیلبو (بریښنا) ، شادو ، بیزو ۰۰۰۰

بیدوده لکه: دادا (پلار) ، ماما ، کاکا ، لالا ، بیړا ، بډا (مقابل) ، بومیا (پیشوا) ،
هوسا ، جلیا ، ملیا (باغوان) ، کوڼا ، ړوندا ، سبا ، میلمه ، کوربه ، غوبه ، لربه ۰۰۰

۲ـ د [illegible] په غبرگغږ پای کیدونکی نومونه ، لکه: کټو (کټوه) ۰

۳ـ په زورکی والی ی (غبرگغږ) پایکیدونکی نومونه ، لکه: ډوډی ، هوسی ، کبلی
(غزال) ، شړی ، مړی ، اډی (کور دخورد) ، ډی (کلك دنده) ، متهی ، گدی (فاحشه ، اریکه ،
مسند ، قنجوغه) ، نجلی ، مخی (بدلگری نجلی ، معما ، چیستان) ، نتکی ، شپیلی ۰۰۰۰۰۰

دگڼی (عدد) نښی:

الف ـ دنرینه گڼی (جمع) نښی په داوروسته ډول دي:

۱ـ ان ، زیاتره هغه نرینه نومونه ډیرگړي (جمع) کوي چی بیواکپای اوساوالاوي ،
لکه هلکان ، پړانگان ، مچان ، کبان ، چنگاښان ۰

ځینی خپلواکپای نرینه نومونه لکه لیوان ، ټټوان ، اسان (اسونه) ، پسان (پسونه) ۰۰۰۰

۲ـ ونه ، زیاتره بیواکپای بی سا نرینه نومونه ډیرگړي کوي ، لکه سیندونه ، ډنډونه ،
میزوانه ، کتابونه ، لاسونه ، نسونه ، سرونه ، پلونه ، خویونه ، بویونه ، تویونه ، وربویونه ۰

ځینی خپلواکپای نرینه نومونه لکه ترونه ، وریرونه ، زړونه ، ځینی ساوالا بیواکپای
نرینه نومونه لکه پلرونه ۰

۳ـ زورکی ، ځینی لنډ څپیز اوخپلواك (وای) منځی نرینه نومونه ډیرگړي کوي ،
لکه: خره ، غله ، دښنه ، مله ، مړه ، وازره ، پښتانه ، شپانه ، خوازه ، تراخه (ترخه) ،
زږه (ززه) ، ماغزه ۰

٤ـ لنډه ي (i) ، هغه نومونه ډیرگړي کوي چی په نرمه ی ay پای وي ،
لکه لرگی ، سړي ، ځلمی ، نښتی ، غویی ، ویی ، توکی ، پیاوړي ، روي ، گوي (غاښی) ، غاښی ۰

ددي روستاړي بلګړ ان اوونه هم لږ و ډيرراځی لکه ځلميان غويان ويزونـــه

خرڅيـــونـــــه ۰

۵ــ يا ن چې دا ن بلګړ دي او ځينې غبرګڼزپاي او خپلواکپاي نرينه نومونه ډيرګړي

کوي لکه ميرزايان ، اشنايان ، سويان ۰۰۰۰

٦ــ ګا ن چې دا ن يو بل بلګـــړ دي اوځينې خپلـــواکپاي نرينه نومونه ډيرګړي

کوي لکه منډاګان ، لاټوګان ، کډوګان ، تټوګان ، ماماګان ، کاکاګان ، لالاګان ، بيړ اګا ن ،

ډاګان (ډا) ، ډواګان ،

بيډوده لکه ميلمانه ، زامن ۰

ب ــ ډ ښځينه ګڼـــې (جمع) ننې په دي لاندي ډول دي :

ا ــ اوزده (ي) ، هغه ښځينه نومونه ډيرګړي کوي چې په زوړيا زورکی پاي ته رسي ۰

لکه : منـــې ، پزي ، ځولی ، ويالی ، ورانګی ، ځانګی ، سانګی (نيزې) ، پانګی ، ډيوي ،

شونډي ، سکروټـــې ، پلی (پې) ، ټوکی ټکالی ، غلی ، ملی ، خړي ۰۰۰۰

۲ــ زورکی واله ی y ے ، هغه ښځينه نومونه ډيرګړي کوي چې په لنډه ي

پاي ته رسيدلی وي ، لکه ودانی ، خپلوی ، ښادی ، ناروغی ۰۰۰۰۰

۳ــ وي wo هغه ښځينه نومونه ډيرګړي کوي چې په الف يا اوزده (و)

پاي ته رسي ، لکه ژړاوي ، خنداوي ، ملاوي ، ټخاوي ، زانګووي ، پيلبوڼي ، ښکالووي ،

پيـــــرزووي ۰

باګړين ګانی هم راځی لکه شاګانی ، ټخاګانی ، بريښناګانی ، زانګوګانی ،

بيزوګانی ، همداراز ورندارګانی ، نندرورګانی ۰۰۰۰

٤ــ آنی ، زياتره هغه ښځينه نومونه ډيرګړي کوي چې پاي ته ين لنډ ه ي

راغلی وي لکه بيبيانی ، شاديانی ۰ او ديوي بلی ننې (يندي) دبلګړ په توګه ، لکه :

ډوبيانی ، مزډورانی ، تروړانی (تريندي) ، مورانی (ميندي) ۰۰۰۰

۵ـ یندي ، هماغه بیواکپایه خپلوان نومونه ډیرګړي کوي چې ورسره لنډون مومی لکه میندي ، خویندي ، نزیندي ، تریندي .

۶ـ صفر دامانا چې په زورکی واله ئ باندي پای نومونه بی له کومی نښی د ډیرګړي په توګه هم راځی . لکه : کړ کی ، بجلی ، ډوډئ ، څپلی ، ټټرئ (واسکټ) ، بلګړیس (یانی) هم یو څه دودلري . لکه : کړکیانی ، بجلیانی ، کوچیانی ، موچیانی ، کبلیانی ، کچنیانی ، چینکیانی ، تروریانی (تروری) .

بی دوده (مستثنی) . لکه : نجونی او نجونه ، لوڼی .

۳ـ پیر (حالت) . چی نوم په خپل چاپیریال (غونډ یاغونډ له)کی څه حالت لري . لکه (پلوشه راغله ، پلوشی ډوډئ وخوړه ، دپلوشی ورور ناروغ دي ، له یوه لاسه ټک نه خیژي) دلته ګورو چی (پلوشه ، یو اولاس) څنګه خپل حالتونه او بڼی بدلوي .

په پښتو کی دیوه نوم پیرد کړوال جار (فعلی عملیی) اوویکو (اداتو) له مخی څرګندیږي اود پیرنښی یی هماغه پایلی یا روستاړي دي چی په پای پوري یی نښلی . نومپیرونه په د اوروسته ډولودي :

۱ـ کړند پیر (فاعلی حالت) لکه ځلمی ډوډئ وخوړه . ځلمی راغی . ځلمی ډوډئ خوري . په د ریواړو غونډ لوکی ځلمی کړند پیر لري یا په بله وینا په د ریواړو ځایو کی ځلمی کړند (فاعل) دي .

۲ـ لنډ کړی پیر (بی واسطه مفعولی حالت) لکه : بارك اوبه وڅښلی . بارك پلوشی ته لیکی (کتاب) ورکړ . خوازك پلوشه ووهله . په دي غونډ لو کی (اوبه ، پلوشی اوپلوشه) لنډ کړی (بی واسطه مفعولونه) دي یا په بله وینا لنډ کړي پیرلري .

۳ـ لرکړي پیر (بالواسطه مفعولی حالت) . لکه : ببرك زمرك ته لیکانی ورکړ سنګ اڅك ته خبره وکړه . غرزي ماته روسی ژبه رازده کوي . په دي غونډ لو کی زمرك

اخك او(ما) لركي دي پاپه بله وښا دغه ديوال ه نومونه لركي پيرلري اوپه همدغسر غږدوالسو کې (ايکاني ، خبره او وړمن ژبه) لنډ کړي بلل کيږي ، پاپه بله وښا دغه ديوال ه نومونه لنډ کړي دي ،

۴ـ لوښتن پير (الى حالت) ، دامانا چې ديوه لوښي يا الى په وسيله يوکار ترسره شوي وي لکه : توريالي په بياتي ژړل شو ـ بريالى په ليکاني يو ليک وکښ ـ گلخانکه په کاشغه ټولې خوري ، په لغو د رو بيلگو کې (بياتي ، ليکاني او کاشغه) لوښـــــن يا الى نومونه دي اوپه دې توگه لوښتن پيرلري ،

۵ـ ټولپير (اضافي حالت) ، هغه نوم چې يو شه وړوي اړه لري ، ټولنوم (اضافي حالت) گڼل کيږي اوټول پير (اضافي حالت) لري ، لکه : دوالى اوپه ښې دي ، د زمري کور ښکلى دي ، د اسمان ستوري په وړځ کې پټيـزي ، (ويالى ، زمري او اسمان) ټولنومونه دي ياپه بله وښا دغه د نومونو ټولپير غوره کړي دي ،

۶ـ ژتون پير (فشايي يا مفعول منه حالت) ، دامانا چې يونوم د يوه کار پيلېځ (منشا) گرځيدلى وي ، لکه : له کډ هاړه راغلم ـ له بډو وانه زيږي ، دلته (کډ هاړه ، بډو او بډو) ژتون پيرلري ،

۷ـ تون پير (طرفي يا مکاني او زماني حالت) همدارنگه مفعول اليه يا استقامتي او معيتي حالت) ، هغه نوم يا ځانښوم چې د يوه کار ظرف گرځيدلى وي او يا ورته يوکار متوجه شوي وي ، تونښوم بلل کيږي اوپه دې توگه تون پيرلري ، لکه : په کور کې ځوک نشته ـ په شپه کې خلـــک لږ نګريږي ـ زه د ورځې کارکوم ، دلته (کور ، شپه اوورځ) تونپير يا ظرفي حالت غوره کړي دي ،

۸ـ بلن پير (ندائيه حالت) ، کله چې نوم ته بلنه يا غږ شوي وي ، بلنښوم (منادا) بلل کيږي او حالت ته يې بلنپير وايي ، لکه : اې هلکه ! يه خلکو ! واځليه ! (هلکه ، خلکو او ځليه) بلن پيرلري ،

یادښت : که یوه نوم په کوم پورتنی پیرکی خپلی بڼی ته بدلون ورکړي وي . او ښتی نوم بلل کیږي یا په بله وینا هغه نوم اوښتی پیر (مغییره حالت) لري او که اوښتنه یی نه وي موندلی نو ارنوم ورته وایی او حالت یی ار پیر (اصلی حالت) بلل کیږي .

دنوم پیر (اسمی حالت) نښی (پایلی) ، زیاتره له ګڼی (جمع) هغو سره سمون لري . لکه ځلمی ـ دځلمی ، پلوشه ـ دپلوشی ، شپون ـ دشپانه ، غل ـ غله ... پرته له ان اووې او د هغو له بلګړونو (لیوان ، سیندونه ، بیبیانی ، شادیانی ، ژړاوې) او د بیواکپایو ښځینه نومونو (میندي) .

ډیرکړي (جمع) نـو مونه بیا په یو مخیز ډول خپل اوښتی پیر په (و) ښیی . لکه : دښځو ـ سړیو ـ هلکانو ـ خویندو ـ بریښناګانو ....

په دي توګه په ان ، وې ، ونه ، انی ، یندي او د دوي په نورو بلګړونو (الومورفونو) جمع کیدونکی نرینه او ښځینه نومونه له (بلن پیر) پرته نوره او ښتنه نلري . البته په بلن پیرکی بیواکپاي نومونه خپل پاي په زورونو (فتحو) روستاړي کوي . لکه په هلـکه ! یه مورې ! یه پښتنو ! داوښتونکو نومونو فورمول په دي ډول دي :

زه ، ته (دحال مفعولیت پرته) ، دي ، دا ، هغه ، هغه ، څوك ، سړي ، ښځـه ، پښتون ....

ـ وییکی (ادوات) یادلیږند تیرمهال کړند والی (متعدي ماضی فاعلیت) = ما ، تا ، ده ، دي ، هغه (په زورکی) ، هغی ، چا ، سړي ، ښځی . پښتانه .....

نا اوښتونی (تغییر نه موندونکی) نومونه : ځینی داسی نومونه شته چی په یو ګړې بڼـه په اتو واړو پیرونوکی کوم جولیز اوښتون (تغییر) نه مومی او هغه دادي :

۱ـ الف پاینومونه : لکه کاکا ، ملا ، دادا ، پښتیانا ، اریانا ، پکتیا ، سبا ، یما ، کیشکا ، لوړتیا ....

۱ــ و ــ پای‌نومونه(لنډ یا اوزده) ، لکه زانګو ، بیزو ، درخو ، تتـــو ؛

۲ــ دوزنه‌ي ــ پای نومونه ، لکه ؛ نجلی ، لیونی ، څوکه ، سپوزمه ...

۴ــ زورکی پای نومونه ، لکه ؛ نیکه ، تره ، زړه ، وږاړه ، واده ....

۵ــ همدغسی زورپای (ستای) نومونه چې هم بدلینه کاریزي اوهم نرینه اوڅخاځه له دري سره ګډون لري ، لکه ؛ واده ؛ واده (بریان) بنایسته ــ ساده ــ پیاده ــ شهزاده ، ملګرتیا ، ګډیه ، خپلوي ، ورونه ، ... پلانۍ ډبان پیرله‌مخی .

۱ــ زیاتوونه پیلاکپای بدلینه او همدغه پاکپای نرینه نومونه چې په‌زورکی نه لږ‌ډیرګي کیږي لکه ؛ په موږ ! په تروي ! په‌خوږ ! په دوړه ! په پلار ! ...

۲ــ وي غبرګنز ــ پای نومونه لکه ؛ په‌زوبه ! په پرهندوبه ! په ساتندوبه ! لویه ! سویـــه !

۳ــ وي غبرګنز ــ پای‌نومونه ، لکه ؛ په بربه ! په خوبه !

د نومونو څلورګونی ډلـــه ؛

لومړي ــ خیزنوم (اسم) ؛

خیزنوم چې دوديز (عیني) ژبپوهان یې (اسم) بولي ، یوداسې نوم دي چې نیغ په نیغه دیوه خیز یا بنکارندې (پدیدې) نومونه (نامګذاري) اوخرګندونه کوي او داوروسته ډولونه لري ؛

۱ــ پخپلوم (ذات اسم) ؛ چې په یوه ننګیږدونکی (خاص‌کیدونکی) اړه لري ، یاپه بله وینا داسې یو خیزنومي چې زموږ په‌حواسو حس‌کیدای شي ، لکه ډبره ، لرګی ، اوبه ، هوا اود اسې نور .

۲ــ مانا نوم (مانا اسم) چې په یوه نه‌ننګیږدونکی (غیرخاص) خیز یاپه لږه وینا په‌یوې بنکارندې (پدیدې) پورې اړه لري او همغه نومي ، لکه بنایست ، ښکلتیا ،

روغتیا ، هیله ، ننگ ، پت ، میړانه ، پیاوړیتوب ، رخه (کینه) ، خوښی ، خوږ (درد) ، وبر ، زغم ، اندیښنه ، لویی ، درناوي ، سپکاوي ، ښیگڼه ، بدي ....

٣ـ ځانگړنوم (خاص اسم): چی یو ځانگړي څیز ، پدیدې ، وگړي یا ځاي نوموي ، لکه پښتو ژبه ، پښتو نواله ، خوازك ، زرمینه ، ننگرهار ، کندهار ، پکتیا ، هند ، ایران .....

٤ـ ټولنوم (عام اسم) . داسی څیز یا ښکارنده نوموي چی ځانگړي او خاص نه وي بلکه ډولونه او ځیلونه ولري . لکه ونه ، هلك ، نجلی ، هیواد ، څاروي ، وگړي ، اولس ، تړون ، ژمنه ....

٥ـ نوږ نوم (جنس اسم): چی په یوه شمیرید ونکی څیز (جنس) اړه لري . لکه: زر ـ اوبه ـ اوسپنه ـ اور ....

٦ـ غونډنوم (جمع اسم): چی یوه ډله او غونډ نوموي . لکه: ټولی ، ټولگی ، گوند ، ټبر ، گورم (پاده) ، رمه .....

٦ـ انگینوم (صوت اسم): چی د طبیعی یا مصنوعی اوازونو انگی یا انگازه (پژواك) نوموي . لکه: درز . دروز . درزي . درزا . درزهار . گړب . گړوب . گړبی . گړبا . گړبهار . ترپ . تروپ .....

دویم ـ ستاینوم:

ستاینوم (صفت) چی په خپلواك ډول څه نه نوموي بلکی دیو څه څرنگوالی نوموي یا په بله وینا یو ستاینوم په یوه څیز نوم اړه لري او د هغه څرنگوالی ښیی ، لکه تود ، سوړ ، غټ ، ووړ ، تور ، سور ، ښکلی ، ښایسته ، غښتلی ، کمزوري ، روغ ، ناروغ .....

په پښتو کی ستاینوم د لوړ تیاد پوړونو یا د لږ والی ، ډیروالی ، سستوالی او توند والی بیلا بیلی ښکاره دري گونی درجی نلري لکه په دري ژبه کی په ـ بهتر ـ بهترین یا بزرگ ، بزرگتر ـ بزرگترین .

له دې کبله یو پښتو ستاینوم د ووبیکو (اداتو) په ملتیا خپل پوړونه یا درجـــی او طبقی ښکاره کوي لکه ښه ـ ډیر ښه ـ لاډیرښه یا سپین ـ ډیر سپین ـ خوراسپیـــن ـ ترټولو سپین ـ زښت زیات سپین اوداسی نور ۰

د ستاینوم ډولونه :

ستاینوم په دوه ډوله دي ، لنډ او لـــر ۰

لنډ ستاینوم ، هغه دي چی ترڅیز نـــوم دمخه اوورسره جوخت راځی اولنډ په لنډه یی ستایی ، لکه توره دړه ، روغ سړي ، ښکلی نجلی ۰۰۰۰

لرستاینوم ، هغه دي چی ترڅیز نوم وروسته راځی او له کړوالی برخی (مسند) سره پیوستون لري ۰ که څه هم هماغه څیز نـــوم ستایی ۰ لکه : دړه توره ده ـ سړي روغ دي ـ نجلی ښکلی ده ۰۰۰۰۰۰

لرستاینوم زیاتره دکړول (قید) په توگه هم کارول کیږي لکه هلک پلی راغـــی ـ اسمان په ستورو (ښه) ښکاري ـ پلوشه (ښکلی) برېښی ـ زه کورته (ډیر) ځم ۰۰۰۰۰

دستاینوم اوستایلی (صفت او موصوف) گردانی سمون :

په پښتو کی ستاینوم (لنډ یالر) اوستایلی یا هغه څیز نوم چی ستایل کیږي ۰ دنوم اوړون د د روگونو اړخو (نوږي ـ گڼی ـ پیر) له پلوه سره زیاتره سمون لري لکه : ړوندغل ـ ړنده غله ـ ړانده غله ـ ړندي غلی ـ دړانده غله ـ دړندي غلی ـ دړندو غلو ۰۰۰۰۰۰

یا په نابشپړ ډول اوبا لږترلږه دیوه یا دووارخوله پلوه ۰ لکه : لوي غل ـ لویه غله ـ لوي غله ـ لویی غلی ـ دلوي غله ـ دلویی غلی یا سپین غل ـ سپینه غله ـ سپین غله ـ سپینی غلی ـ د سپین غله د سپینی غلی ـ د سپینو غلو ۰۰۰۰

په دي توگه ځینی ستاینومونه له خپلو اړوندو (مربوطو) څیز نومونو (ستایلیو) سره بشپړ اوړون مومی او ځینی نیمگړي ۰ لکه پـــه دي لښتیلیك (جدول) کی :

شين ختک ـــ	ـ	شنه ختک ـــ ي
د شنه ختک ـــ ي	ـ	د شنو ختک ـــ و
شنه هند وانه ـــ	ـ	شنې هند وانې ـــ
د شنې هند وانې ـــ	ـ	د شنو هند وانې ـــ و

د ريم ـ شمېرنوم (عدد اسم) :

شمېر نوم هم د ستاينوم غوندې په خپلواک ډول کومه نومونه نه کوي بلکې په يوه څيز نوم اړه لري ٠ خو د ستاينوم غوندې يې څرنګوالی نه چې څومره والی او پورې والی (تدرج) ښيي ٠ لکه يو ـ دوه ـ دري ٠٠٠٠ يا لومړي ـ دويم ـ دريم ٠٠٠٠

د شمېر نوم او شمېرلی (عدد او معدود) ګردانې سمون :

په پښتو کې شمېرنوم لکه لنډ ستاينوم ترڅېل اړوند څيز نوم (شمېرلی) د مخه راځي او ډېر لږ ورسره او ړون مومي ٠ هغه دا چې لومړي دوه (يو) او (دوه) ورسره د نوزي او پيرله مخې ګردانيزي او نور پورته ورسره يوازې د پيرله مخې ٠ لکه په دې لښتيليک کې :

يوغل	يوه غله
ديوه غله	ديوې غلې
دوه غله	دوې غلې
د دوو غلو	د دوو غلو
د دري غله	د دريغلې
د د رو غلو	د د رو غلو
څلورغله	څلور غلې
د څلورو غلو	د څلورو غلو
٠٠٠٠٠٠	٠٠٠٠٠٠٠

د شمیرنوم ډولونه :

شمیر نوم د اوروسته ډولونه لري :

۱ـ آر شمیر (اصلی عدد) لکه یو ـ دوه ـ دري ـ څلور .....

۲ـ پوړ شمیر (وصفی یا رتبی عدد) چی د خپل شمیرلی پوړ اورتبه ښیی لکه :

لومړي ـ دویم ـ دریم ـ څلورم .....

۳ـ ووړ شیمر (کسري عدد) ، چی د اړوند څیز نوم (شمیرلی) ماتوالی اوبرخه والی ښیی لکه دویمه ـ دریمه ـ څلورمه .....

لسی (دهه) ، سلی (سده) زری (هزاره) یوډول گروپی شمیر نومونه دي .

٤ـ ویش شمیر (انقسامی عدد) چی د اړوند څیز نومونو ویشنه او جوړه جوړه کونه څرگندوي اوپه دي توگه د ووړ شمیر غوندې له ډیرگړیو (جمع) څیز نومونو سره اړه لري نه له یوه سره ، لکه : یو یو ـ دوه دوه ـ دري دري ـ څلور څلور .....

۱ـ اټکل شمیر (تخمینی عدد) چی د یوه څیز نوم (معدود) پرځای غبرگ غبرگ څیزنومونه ښیی . اوبوهم نه ټاکی لکه : یو دوه ـ یو دري ـ دوه دري ـ دري څلور ـ یولس ـ لس شل ـ شل دیرش ـ پنځوس شپیته ..... په دي توگه اړوند څیز نومونه د دواړو شمیر نومونو ترمنځ اټکلیداي او نومیریداي (انتخابیداي) شی . یا لومړي یا دویم اویا دهغو ترمنځ .

دغه جوړه جوړه شمیر نومونه زیاتره پرله پسی وي لکه یو دوه ـ دوه دري اویاپه یوه ټاکلی اوعام منلی واټن سره لکه اته ـ لس یالس شل مگر ښایی هیڅ یو پښتون دوه څلور ـ دري پنځه ـ څلور شپږ .... ونه وایی . البته (یو) له هرپورته شمیر سره جوړه کیداي شی خو هغه هم زیاتره د پیژند (حرف تعریف) په توگه چی اټکل ورسره په څرمه (ضمنی) ډول هم څرگندیږي .

څلورم ـ نومځـــــــري (ضمير)

نومځري هغه ويی دي چی ديوه نوم ښکارندويی کوي ، دهغه پرځاي راځـــــی اويا يی ملګرتيا کوي . اودهمدغی دندي له مخی دنومونو په ډله کی ځاينيس . له نورو نومونو (څيزنوم ـ ستاينوم او شميرنوم) سره دنومځري توپيردادي چی دا پردروګونو اړخو (نوزي ـ ګڼی اوپير) سربيره دوګړي (لومړي ـ دويم اودريم) له مخی هم اوړون مومی . (وينفريد اولريښ دژبپوهنی قاموس ۹٤۲) .

دنومځرو ډولونه : نومځري دجولی اوچارله مخی پردې وروستيو ډلواوډولـــو ويشـــــل کيږي .

۱ـ ځانګړنومځري (شخصی ضميرونه) . چی دوه ډوله دي : غښتلی ـ کمزوري :

الف ـ غښتلی (منفصل) :

ګڼه / وګړي	يوګـــــړي (مفرد)			ډيرګړی (جمع)
۱	اريـــر		اوښتی پيـــر	مـــوز
	زه		مـــا	
۲	تـــه		تـــا	تاســـی
۳	نرينـــه	دي هغـــه	ده هغـــه	دوي هغـــوي
	ښځينه	دا هغـــه	دې هغی	

ب ـ کمزوري (متصل) :

ګڼه / وګړي	يوګـــړي	ډيرګـــړی
۱	مې	مو
۲	دې	مو
۳	يـــې	يـــې

۲ــ تولنو مخري (ملکي يا اضافي ضميرونه) ° چې تول (ملکيت) اوړوندي (متعلقيت) ښيي ° دغه نومخري هم پرغښليو او کمزوريووښل کيږي :

الف ــ غښتلي (منفصل) :

گڼه / وګړي	يوګړي		ډيرګړي
۱	زما		زموږ
۲	ستا		ستاسو
۳	نرينه	ددې	ددوي
	ښځينه	ددې	

کمزوري تولنومخري کټ مټ دځانګړيو کمزورو هغوغوندي دي لکه :

گڼه / وګړي	يوګړي	ډيرګړي
۱	مې	مو
۲	دي	مو
۳	يې	يې

۳ــ نغوتنومخري (اشاريضميرونه) ° هغه نومخري چې وګړو يا څيزونوته نغوته (اشاره) کوي اود هغو دنومونو ځاي نيسي اوپا ورسره لکه ستاينوم ملګرتيا کوي نغوتنومخري دنوزي ــ ګڼې ــ پيرــ اويواځې ددريم وګړي اوواټن (فاصلې) له مخې اوړونلري °

گڼه / وګړي		يوګړي		ډيرګړي	
		اړپيرــ	اوښتې پيرــ	اړپيرــ	اوښتې پيرــ
۱	لنډ	دغه دغه	دغه دغس	دغه	دغو
	لر	هغه	هغه هغس	هغه	هغو
	لالر	هوغه	هوغه هوغس	هوغه	هوغو

٤ـ پوښتنو مځري (استفهامي ضميرونه): چې د يوې پوښتنې لپاره په کار لوييږي او د وګړي ـ څيز ـ مهال ـ تون ـ څرنګوالی او څومره‌والی له مخې ډول ډول دي .

اوړون يې زياتره يواځې د پيرله پلوه لږ و ډيرترسره کيږي :

ـ څوك (چا) ، چې د وګړي يا وګړو لپاره راځي چې څه يې کړي يا يې کوي يا پري څه شوي يا کيږي . اوزياتره د پوښتنې غونډلو (جملو) په سرکې راځي .

څوك راغی ـ راغله يا راغلل؟ . څوك ځی؟ ـ چا وويل؟ ـ څوك وايي؟ ـ څوك يې وواهه؟ ـ ووهله يا ووهل؟ ـ څوك ووهل شو؟ ـ ووهل شوه؟ ـ ووهل شول يا ووهل شوي؟ ـ څوك وهل کيږي؟

څوك داړيك اوناټك نومځري په توګه هم کارول کيږي او همدا رنګه د پيژند (حرف تعريف) کار هم ورکوي لکه څوك مې وليد ـ نن يو څوك راځي .

ـ کوم : د وګړي يا وګړو ـ څيز يا څيزونو لپاره راځي چې د نورو پوښتنو مځرو پرخلاف پر پيرسربيره د نوږي له پلوه هم اوړون لري . لکه په دې وروستيو غونډلو کې :

کوم سړي راغی ؟ کوم سړي وويل ؟ د کوم سړي رنګ ژيړ وي ؟ کومه ښځه راغلی ؟ کومې ښځې وويل ؟ د کومې ښځې رنګ زيړ وي ؟ کومو ښځو ـ سړيو وويل ؟ د کومو ښځو ـ سړيو رنګونه ژيړ وي ؟

ـ کله : چې مهال پوښتی او هيڅ اوړون نلري ، لکه کله به راشی ؟

ـ چيري : چې تون (ځاي) پوښتی او هيڅ اوړون نلري . لکه چيري ځی ؟

ـ څنګه : چې د يوه وګړي يا څيز يا يوه چار څرنګوالی پوښتی ، لکه څنګه راغی ؟ څنګه راغله ؟ څنګه کار دي وکړ ؟ څنګه نجلۍ دې وليده ؟ څنګه ليکی دي وپيره ؟

ـ څه : چې زياتره د يوه څيز يا وګړي پيژند نه پوښتنې اوزياتره په ډيرګړي او نوږ نوم (جنس اسم) پورې اړه لري ، بې له دي چې خپله بڼه واړ وي ، لکه : داڅه دي ؟ داڅه دي ؟ څه دې وکړل ؟ څه دې راوړل ؟ څه يې نرخ دي ؟ څه يې ارزښت دي .

ـ څو : چې د وګړو يا څيزونو شمير پوښتی نو ځکه تل ډيرګړي دي لکه :

څو نجونې راغلی ؟ څو هلکان راغلل ؟ څو ختونه دې وپيرل ؟ البته څو په يوه بله مانايو کړول (قيد)

هم دي لکه څونه رانغلي زه نه راځم چې ځينې ليکوال په ناسم ډول دعلتيه ويسکي په توګه

هم کاروي لکه د رمل وخوره ... څو (چې) روغ شي

... څومره ؛ چې زياتره د څيزونو ، وګړو شمير او د جنس (نوزي) او همدا راز

د څرنګوالي او کيفيت ګڼه (مقدار) او درجه پوښتي ، لکه :

... څومره ختونه دي ويول ... څومره شاګردان لوست واين ؟ څومره غنم دي وپلورل ؟

څومره ښکلي دي ؟ څومره ښه دي ...

— ولې : چې ديوه چار او پيښې ، لامل او نوښتن (عامل او سبب) وپوښتي ، لکه :

ولې راغلي ؟ ولې لوست نه ولين ؟ ولې خاندي ؟

... بلوي پا کړ ولې (تستې يا قيدي) نومځري هغه نومځري دي چې له اره ديوه کړ

او چار سمت او بلو څرګندوي ... په توغ کې (په ضمني توګه) د ځانګړ نو مځرو کار هم ورکوي او

هغه هم په بيچار (مفعولي) حالت کې ...

... تولي د ري ... لري او هره ښه يې ديوه وګړي (يوګړي يا ډيرګړي) ښکارندويي

کـــــــوي :

ګڼه / وګړي	يوګړي	ډيرګړي
۱	را	را
۲	در	در
۳	ور	ور

۶ـ ويکو مځري (اداتي ضميرونه) ، چې له ويـکو (اداتو) څخه منځ ته راځي

او داړوند اداتو له چار او دندي سره سم د نو مځرو ځاي نيسي :

ـ پکې (د ران) چې يونوم په تون پيرکې ښيي لکه :

باغ واي د ګلونو يکې ناست واي زه اوته (خوشال) .

ـ پس (بسویش) چې نوم په تونپیرکی ښیی لکه د زهرو ګولی خورم پس (ملنګ جان) ٠

ـ باندې (بالایش) چې یو نوم په تون اوهغه هم په پورتنی (استعلایی) پیرکی ښیـــــی لکـــه :

ګل واي غوړیدلی باندي ملاست وایزه اوته (خوشال) ٠

ـ پري (بران) هم (باندې) ورته د نده پرځاي کوي لکه :

ماپري سرکیښود ـ پیس می پري پوردي ٠

ـ پـس (به ان) چې (په اوپري) هم ویل کیږي په یوه لوښنی (الی) پیرکـی دیوه نوم ځاي نیسی اوله (پري) سره یې په دي غونډه لوکی تویپر کولاي شو :

زه په ښتو لیکه کوم (من په پښتو می نوښتم) زه پرښتو لیکه کوم (من د ریارهٔ پښتومی نوښتم) ٠

تري (ازان) چې یونوم په وتون او تون او هغه هم په کښتنی (استفلایـی) پیرکی ښیی ٠لکه :

ماتري واخیست ـ ماتري لاندې کیښود ٠حینی له دغوییکومځروسره پلوي نومځري هم مختیارې کیداي شی لکه را ـ د ر ـ وریاندي ٠٠٠ مګر دوریکی پرځاي (ورکی) ویل کیږي لکـه له نورو اوسریلوسره (ورلاندې ـ ورته ـ ورسره ـ ورځخه ٠٠٠) ٠

۷ـ اړیک نومځري (ارتباطی ضمیرونه) : چې په یوه غونډه له کی د تیري یا راتلونکی غونډه لی له یوه څیز نوم یا نومځري سره راز راز اړیکی ټینګوي ٠ په دې توګه په دې وروسته ډولـــو ویشل کیـــږي :

ـ چـی : لکه خوازك چی د ببرك ورور دي ؛ ننګرهار ته ولاړ ـ ننګرهار یومښیمه ده چې تودې هوا لري ـ زموږ هیواد په داسی ځاي کی پروت دي چې سمندر ته لارنلري ـ هغه کال ډیرودان وي چې ډیر اورښت ولري ـ زموږ هیواد دومره ښکلی دي چې له سویس سره سیالی کوي ٠ زه دومره کتابونه لرم چې له شمیره وتلی دي ٠

ـ چې یـــی : یوټر ښتی (ترکیبی) یا دوه توکیزه (دوه جزیی) اړیک نومځري دي ٠ چې هم په تیره غونډه له کی له راغلی نوم سره اړیکی ټینګوي اوهم د هغه کړنو والـــی (فاعلیت)، کړیوالی (مفعولیت) اوتولوالی (ملکیت یا اضافت) څرګندوي ٠ لکه : پکتیایوه داسی سیمه ده چې یې ځنګلونه نوم لري ـ سنګ ځکه بریالی شو چې یې زیار ایستلی وـ ماشوم هله په ژړا شو چې یې مور وواهه ٠ په دې وروستی غبرګه غونډه له (مضاعفـــه جمله) کی

(چې يې) هم له (هله) سره اړيکی ښيي اوهم دماشوم کړيوالی (مفعوليت) او تولوالی (ملکيت له مور سره) ۰

څوک چې : يوبل ترښتی اړيک نومځي دي چې يوالی هغه وخت د څرګنديدلو (فرعی جملی) په سرکی راځی چې ترآ ړي دمخه وي نو ځکه وايو (څوک چې خوب کوي نړي کتې به زيږوي) نه داچې ووايو : (نرګتې به زيږوي څوک چې خوب کوي يا لکه اجمل ختک چې وايي : (ځی ۰ هغه خواږوته جنت وګتو ـ څوک چې له مورې دوزخيان پيدا دي) ۰ ددي ګرامري بڼه . دا ښی ښکاره ده چې دويمه (څرګنديدونکې له) پرارمړی (اړي غوندې) دمخه کړو (څوک چې له مورې دوزخيان پيدا دي ـ ځی هغه خواږوته جنت ګتو) او يا داچې څوک تري وغوړ ځوړ ۰ په دې ډول دتورو ژبو لکه اروپايی هغې په پيښود ناسم ۰ غوندې لو بيلګې دادي ۰

غرزي کند هار ته ولاړ ۰ څوک چې هلته خپلوان ګوري پتنګ په لومړي ګنډبريالی شو چاچې زيارايستلی و ۰۰۰۰۰۰

سم يې : غرزي کند هار ته ولاړ چې هلته خپلوان وګوري ـ پتنګ په لومړي ګنډه بريالی شو چې يې زيار ايستلی وه ۰ ۰۰۰۰۰۰۰

همدارازچيرې چې ـ کله چې ـ کوم چې ـ څه چې ـ څوچې ـ څومره چې ۰۰۰ ۰ واخله ۰ لکه په دې غوندې لوکی : غرزي کند هار ته ولاړ چيرې چې خپلوان ګوري ـ زه هيواد ته هغه وخت را ستون شوم کله چې ډيره وچوبه وه ـ مايو ليکانی واخيست کوم چې بنه کارکوي ـ کار بنه دي څه چې نيکمرغی راوړي ـ پنځه کتابه مې واخيستل څوچې زما په کاروو ـ دوه منه غنم مې وپيرل څومره چې مې پيرلای شول ۰۰۰۰۰

همدارازچيرې چې ـ کله چې ـ کوم چې ـ څه چې ـ څوچې ـ څومره چې ۰۰۰ ۰ واخله ۰ لکه په دې غوندې لوکی : غرزي کند هار ته ولاړ چيرې چې خپلوان ګوري ـ زه هيواد ته هغه وخت را ستون شوم چې ډيره وچوبه وه ـ مايو ليکانی واخيست چې بنه کارکوي ـ کار بنه دي چې نيکمرغی راوړي ـ پنځه کتابه مې واخيستل چې زما په کاروو ۰۰۰۰۰

PROPERTY OF PACKU 5596

په دي ډول پښتو له آره همدايو (چې) هم داړيك وييكې په توگه كاروي اوهم يې داړيكـــــنومځري په توگه او د پورتنيو پوښتنو مځرو (څوك ـ كله ـ چيري ....) ملگري كول ورسره بې ځايه دي په تيره په آره غونډ له اوباپه داسې څرمه كې چې تر آري وروسته راځي. البته څوك ـ كله چيرې اونورپوښتنو مځري چې له(چې) سره ملگري كيږي يواځې د اړيكو ييكو (ارتباطي ا داتو) چار څرگندوي نه داړيكو مځرو، لكه څه چې كري هغه به ريبـــــي ـ څنگه غرهسې يې كرپوړي ـ هله به خبرشي چې تارو جبې له ورشي ـ چيري دي ښـــــه هلته دي شپـــه ! څومره چې گوړه اچوي هومره خوزيږي .....

٨ـ غبرگون نومځري يا انعكاسي ضميرونه :

هغه نومځري دي چې ديوه چار هم كړند اوسي او هم كړي په پښتو كې داراز نومځري نومونو ياځانگړنو مځروسره د ((ځان)) په ملگري كولو لاسته راځي چې زياتره په همدي يوه يوگړي (مفرده) بڼـه هرځاي را تلاي شي لكه : ځلمي ځان ژوبل كړ ـ ځلمي او زمري ځان (ځانونه) ژوبل كړل هغه ځان ژوبل كړ ـ هغوي ځان (ځانونه) ژوبل كړل . دپوره څرگندتيـــا لپاره له ځان سره (خپل) هم ملتيا كوي لكه هغوي خپل ځان وژغوره .

٩ـ ناټيكسنو مځري (ابهامي ضميرونه) : چې ديوه ناجوت (نامعين) وگړي ياڅيز لپاره راځي او دبيلا بيلو دندو له مخې په لاندي ډولو دي :

ـ هر، چې زياتره په بوگړي اړه لري او دنوزي او پير له مخې لزو ډيراوړون لري، لكه هر ځلمي ـ هره پيغله ـ هرخت (كميس) ـ هره گنډۍ (كرتۍ) ـ هري پيغلې . په اوښتي ډيرگړي كې لكه هرو پنځوشاگردانو ته يو يو ليكې ورسيد . يازبه په هرو دوو اوونيوكې سينمـــاته ځم .

ـ بـــــل : يواځې د شميريدونكې يوگړي نوم پرځاي راځي اويا ورسره دنغوتنو مځري غوندې ملگرتيا كوي . لكه : بل ځلمي ـ بله پيغله ـ دبل ځلمي دبلې پيغلې ....

ـ نور : یواځې د ډیرګړي یا نوز نوم (جنس اسم) ښکارندویی اوملګري کوي اوڅه ناڅه اوړون لري لکه نور هلکان ـ نوری پیغلی ـ نورغنم ـ نوره وسپنه ـ نوره خاوره ـ نورې اوبه ـ دنورو هلکانو ـ دنورو پیغلو ـ د نورو غنمو ـ دنورې وسپنی ـ دنوري خاوري ـ دنورو خاورو ـ دنورو اوبو .....

ـ ټول : دنورغوندې په ډیرګړي او نوز نوم اړه لري اوله لویدیزي پښتو پرته هماغسی اوړون مومی لکه ټول هلکان ـ ټولی نجونی ـ ټول تیل ـ ټوله خاوره ـ ټولی خاورې ـ ټولو هلکانو ـ د ټولو هلکانو ـ ټولو نجونو ـ د ټولو نجونو ـ د ټولو تیلو ـ د ټولی خاورې ـ د ټولو خاورو .....

ـ واړه : دټول هممانیزدي خوبواځی د نوزي اوپیرله مخی اوړون او اوښتون مومی ـ لکه واړه هلکان ـ واړي نجونی ـ واړو هلکانو ـ واړو نجونو ـ واړه خاوره ـ واړي خاوري ـ دواړي خاورې ـ دواړو خاورو .....

ـ دواړه : تل دوګړي (تثنیه) دي او د (واړه) غوندې په نوزي (جنس) اوپیر اړه نلري لکه : دواړه هلکان ـ دواړې نجونی ـ دواړو هلکانو ـ دواړو نجونو ...

ـ څه : پر [illegible] پوښتنو مځري سربیره یو ناوړیدونی ناټیک نومځري هم دي لکه : څه می ولیدل څه نشته ـ چی نه کار هلته څه کار . څه له نورو ناټیک نو مځرو او ځینو ستاینو مونو سره تړښتی ناټیک نومځري جوړوي لکه : بل څه ـ نور څه ـ هرڅه ـ هیڅه (هیڅ څه) لږ څه ـ ډیر څه . همدارنګه له پیژند (یو) سره لکه یو څه .

ـ څو : هم پرپوښتنو مځري سربیره یو ناوړیدونی ناټیک نومځري دي لکه : څو پیسی می په کار دي ـ څو میاشتی په کار دي چی زه کتاب ولیکم . څو له پیژنداو ځینو ناټیک نومځروسره تړښتی ناټیک نومځري جوړوي لکه : یو څو ـ هر څو ـ هیڅو (هیڅ څه) ...

ـ ځینی : د ډیرګړي او نوز نوم ښکارندویی کوي لکه ځینی شاګردان ځینی شاګردانی ځینو شاګردانو .....

ـ هیڅ : دیوه ناټاکلی څیزیا څیزونو نشتوالی ښیی او کوم اوړون نلري • لکه :
هیڅ هلك ، هیڅ هلکان ، هیڅ نجلی ، هیڅ نجونی ـ هیڅ هلکانو ـ هیڅ نجونو
هیڅ غنم ـ هیڅ غنمو • • • • • له پیژند(یو) او زیاترو ناټیك نومځرو سره دلومړي ټوك
په توګه تړښتی (ترکیبی) ناټیك نومځري منځ ته راوړي لکه : هیڅ یو ـ هیڅه ـ هیڅو ـ
هیڅو مره ـ هیڅ کوم ـ هیڅ بل ـ هیڅ نور ـ هیڅوك ـ هیڅکله ـ هیچیري (هیڅ چیري)
هیڅ دواړه یاپه دري ټوکیز تړنګ (دري جزئی ترکیب) کی لکه : هیڅ کوم یو ـ هیڅ کوم
څوك یاپه څلورو ټوکیز تړنګ کی لکه : هیڅ کوم یونیم ـ هیڅ کوم یوبل • • • • • •

ـ څوك : هم پریوښتنو مځري (او اړیك نو مځري) سربیره یوناټیك نومځري
هم دي چی هم دڅیزنوم ښکارندویی کوي اوهم دپیژند (ارتیکل) لکه : نن څوك راځی ـ
څوك یوکار کوي ، څوك بل ـ چامی لیکانی واخیست ـ څوك سړي راروان دي ـ څوك ښځه
می ولیده • په نورو پیرونو کی لکه : چاته می لیکی ورکړي دي خواوس می هیردي ـ له
چانه می لیکی واخیست بیامی هیرشو ـ خپل کار په چانه کوم ـ ځلمی له چاسره پریوه لارنه ځی
زه څوك نه وهم ـ پرچا کار نلرم ـ څوك چی بل چاته کوهی کینی • پخپله پکی لوییږي ـ
له ماسره دچاڅه کاردي په شپه کی چاته ورتګ ښه نه دي • • • • • •

له پیژند (یو) او ځینو نو رو ناټیك نو مځرو سره هم تړښتی (ترکیبی) ناټیك
نومځري جوړوي • لکه : یوڅوك ـ هرڅوك ـ هیڅوك ـ بل څوك ـ نور څوك ـ څوك سړي ـ
کوم څوك ـ کوم چا یا لکه پیښو ریان چی وایی : چا ظالم می ژبه پریکړه •

ـ سړي : پرڅیزنوم او ستاینوم سربیره یوناټیك نومځري هم دي اوتر بلن پیره
پوري په ټولو پیرووکی راځی لکه سړی دي هڅه کوي چی څوك تري ونه ځوریږي • باید
له سړي له لاسه داسی کارونه شی چی وروسته پري پښیمان شی ـ دلته دسړي هره هیله
نه پرځای کیږي سړي دي سړي ته ګوري اوبیادي ورسره هماغسی چلند کوي • لومړي دي
سړی سړي ته پورنه ورکوي او که وریی کړ بیادي تري ژرنه غواړي ـ وسړیه ستاله چاسره
څه کار ! له پیژند (یو) او ځینی نورو ناټیك نو مځرو سره تړنګونه (ترکیبونه) هم

جوړوي لکه يو سړی ديخوا ته را ځوم — يوه سړي ته رازيل يه کارنه دي — هرسړي (خو هر سړي پيدا دي خپل خپل کارلره کله نه خوشال)— هيڅ سړي نه بنکاري — سړي سړي سم کارنه نه پوهيږ دي — له خوازك پرته بل سړي مې ونه ليد — څوك سړي زموږ خوانه راڅخه — کوم سړي چې د سړي نه خوښيږي شه په کار چې پرمنه ورځې — څه سړي غرنۍ را ځوم ° يونيم سړي خپل زوند ته پام نلري — کوم نيم سړي مې ونه ليد — کوم يونيم سړي رانغې .....

— پلان او ښځانې هم له عربي اوډي (فلان — ښتان) څخه پښتوشوي ناتيك نومځي بنکاري .....

— کې تولنومځ — ري (اشتراکي ضمير) ° پښتو ډډي غوندې له ((خپل)) څخه چې تورو پلورو سويږه ديږه تولنومځي (ملکي ضمير) کار هم اخلي اوداچې د ډډ روا ړ و وګړو — لپاره راڅخه نو ګډ تولنو مځي (مشترك ملکي ضمير) بلل ښه غوره دي ° لکه ° شپون خپله زمه پاڼي — زمه خپل شپانه ويروله — هرڅوك په خپل کار کې خوښ دي — ځينې خلك خپل ځان نه پيژني — ځلمي په خپله خوښه کې کار کوي — خوازك خپل کورته ناوخته ځي — خوازك له خپل ورور سره بنارته ولاړ — بريالي له خپلې خوښې څخه نه اوړي ° ځينې پخپله ګناه نه پوهيږي خپل ډيږند اوناتيك ستايئوم په ټوګه هم کارول کيږي نکه خپله لاسه کله لاسه ! چې بيا هم پکې د تول (ملکيت) جاج (مفهوم) پروت دي ° په تکراري ډول لکه په مخنې بيت کې (هو هرسړي پيدا دي خپل خپل کارلره کله) خپل د نورې او ډيږله مخې بشپړ اوړون لري ° خودګډې له مخې نه ° له ((ځان)) سره غبرګون نو مځي جوړوي لکه خپل ځان ښ ژوبل کړ او له دې سره سره هماغه تولوالی اوپيژندوالی ونده هم شرګندوي °

— تول — ځانګړي نومځي (شخصي — ملکي ضميرونه) چې د غښتلي تولنو مځي او غښتلي ځانګړو يا نغوتنو مځو په يوځاي کيدو سره جوړيږي اوپه دې ټوګه پرې وخت

ددوو دوونو مځرو دنده پرځای کوي له همدي کبله دوه اړخیزاو ړون لري او هغـــه هم دنوزي ـ گڼس ـ پیراو وگړیله مخې ځانگړي ورسره یواځې په دریم وگړي اړه لري ۰

لکـــه :

۱ـ تول نومځري ـ یوگړي ځانگړ نومځري :

گڼه / وگړي	یوگـــړي	ډیرگـــړي
۱	هغـــه	زموز دي ـ هغه (ده ـ هغه)
	هغـــه	زموز دا ـ هغه (دې ـ هغې)
	زما دي ـ هغه (ده ـ هغه)	
	زما دا ـ هغه (دې ـ هغې)	
۲	ستا دي ـ هغه (ده ـ هغه)	ستاس دي ـ هغه (ده ـ هغه)
	ستا دا ـ هغه (دې ـ هغې)	ستا دا ـ هغه (دې ـ هغې)
۳	دده دي ـ هغه (ده ـ هغه)	ددوي دي ـ هغه (ده ـ هغه)
	دهغه دي ـ هغه (ده ـ هغه)	
	ددي دا ـ هغه (ده ـ هغې)	ددوي دا ـ هغه (دې ـ هغې)
	ددي هغه ـ هغه (ده ـ هغې)	

۲ـ تولنو مځري ـ ډیرگړي ځانگړ نومځري :

گڼه / وگړي	یوگـــړي	ډیرگـــړي
۱	زما دوي ـ هغوي	زموز دوي ـ هغوي
۲	ستا دوي ـ هغوي	ستاس دوي ـ هغوي
۳	دده دوي ـ هغوي	ددوي دوي ـ هغوي
	دهغه دوي ـ هغوي	
	ددې دوي ـ هغوي	
	دهغې دوي ـ هغوي	

۳ـ تولنو مځري لنډ يوګړي نغوتنو مځري :

وګړي / ګڼه	يوګـــــړي	ډيرګـــړي
۱	زما دغه ـ دغه ـ دغی	زموږ دغه ـ دغه ـ دغی
۲	ستا دغه ـ دغه ـ دغی	ستاسی دغه ـ دغه ـ دغی
۳	د ده دغه ـ دغه ـ دغی	د دوي دغه ـ دغه ـ دغی
	د هغه دغه ـ دغه ـ دغی	
	د دې دغه ـ دغه ـ دغی	
	د هغی دغه ـ دغه ـ دغی	

٤ـ تولنو مځري لږ يوګړي نغوتنو مځري :

وګړي / ګڼه	يوګـــــړي	ډيرګـــړي
۱	زما هغه ـ هغه ـ هغی	زموږ هغه ـ هغه ـ هغی
۲	ستا هغه ـ هغه ـ هغی	ستاسی هغه ـ هغه ـ هغی
۳	د ده هغه ـ هغه ـ هغی	د دوي هغه ـ هغه ـ هغی
	د هغه هغه ـ هغه ـ هغی	
	د دې هغه ـ هغه ـ هغی	
	د هغی هغه ـ هغه ـ هغی	

٥ـ تولنو مځري لږ لږ يوګړي نغوتنو مځري :

وګړي / ګڼه	يوګـــــړي	ډيرګـــړي
۱	زما هوغه ـ هوغه ـ هوغی	زموږ هوغه ـ هوغه ـ هوغی
۲	ستا هوغه ـ هوغه ـ هوغی	ستاسی هوغه ـ هوغه ـ هوغی
۳	د ده رر رر رر د هغه رر رر رر د دې رر رر رر د هغی رر رر رر	

او همداسی د دویم ټوک ډیرګړي هم اوړون مومی • دادي د تول ـ ځانګړنومځرو د پوره څرګندتیا لپاره څو بیلګیزي غونډ لی (جملی) وړاندي کوو :

ایمل : زما زوي ناروغ دي •

خوشال : زما هغه هم ناروغ دي •

ایمل : زما زوي ښوونځی ته ځی •

خوشال : زما دي لا کوچنی دي •

ایمل : زما وراره ښوونځی ووایه •

خوشال : زما هغه هم ووایه •

ایمل : زما ماما اس واخیست •

خوشال : زما هغه هم واخیست •

ایمل : زما ورور ځلمی ته یو لیکی ورکړ •

خوشال : زما ده هم هغه ته یو لیکی ورکړ ـ زما هغه هم هغه ته یو لیکی ورکړ •

ایمل : زما لیکی ځلمی واخیست •

خوشال : زما دا زمري واخیست ـ زما هغه زمري واخیست ـ زما دا هم ده واخیست ـ زما هغه هم هغه واخیست •

ایمل : زما ورځنی ګټه سل افغانی ده •

خوشال : زما دا دوه سوه افغانی ده •

ایمل : د ده کور لري دي •

خوشال : د ده دا نژدي دي ـ د ده هغه هم لري دي •

ایمل : د هغه مور ناروغه ده •

خوشال : د هغه هغه هم ناروغه ده ـ د هغی هغه هم ناروغه ده •

ایمل : د دې ورور زما ټولګیوال دي •

خوشال : ستا دي بیا زما ټولګیوال دي •

ایمل : زما مور وپلار مړه دي ۰

خوشال : ستا هغه ژوندي دي ۰

ایمل : زما مور وپلار کوم رسمی کار نه کاوه ۰

خوشال : زما هغوي هم نه کاوه (زما دوي هم نه کاوه) ۰

ایمل : زموږ کلی له ښاره لري دي ۰

خوشال : زموږ دا هم له ښاره لري دي ۰

ایمل : زموږ هغه دومره لوي نه دي ۰

خوشال : زموږ دا ستاسی له هغه څخه ډیر لوي دي ۰

ایمل : د دویم ټولگی شاگردانو کتابونه نه دي اخیستی ۰

خوشال : د لومړي ټولگی هغوي هم نه دي اخیستی ۰

ایمل : د دریم ټولگی شاگردانو خپل کتابونه بیرته ورکړي دي ۰

خوشال : د څلورم ټولگی هغوي خپل هغه بیرته نه دي ورکړي ۰

لومړي کړاوونه (تمرینونه)

۱ـ پښویه یا گرامر د ژبپوهنی کومه څانگه ده او له څه نه غږیږي ؟

۲ـ پښویه د څه لپاره لوستل کیږي ؟

۳ـ پښویه کومی څانگی را اخلی ؟

٤ـ غږ پوهه څه ته وایی ؟

٥ـ د ژبی لومړنی ساده توکونه کوم دي ؟

٦ـ د پښتو ارزښتناك غږونه یا اوازونه پرڅو ډلو ویشل کیږي ؟

۷ـ نیمواك اوازونه څو دي او څنگه پیژندل کیږي ؟

۸ـ خج څه ته وایی او پرڅو ډوله دي ؟

۹ـ ایا خج په ماناکی ونجون (بدلون) راوړلای شی ؟

۱۰ـ دالاندي ټوټه په غږیزه (فونیمیکه) ابیڅی ولیکئ او خجونه یی نښه کړئ !

داخو جوته او منلی خبره ده چی پښتو د پښتونخوا یوه بډایه او لرغونی ربه ده چی د زرگونو کلونو په اوږدو کی پرې پوهول را پول شوي دي . ډیر پوهان او لیکوال پکی منځ ته راغلی دي . که څه هم ډیري تودې سړې یی لیدلی دي ، خو بیا هم دیوې غرنی ژبی په توگه کروړه پاتی شوې او په هر تورتم پسی یی رڼا راغلی ده . دا په ټینگه ویلای شو چی نن سبا پښتنی ټولنه راخوځیدلی ده او له دي خوځون سره به یی ژبه هم هرو مرو مخ پروړاندي د رومی .

دویم کړاوونـــــه

۱ــ گړپوهه له څه نه غزیږي ؟

۲ــ گړ پوهه لومړي پرکومو دوو څانگو ویشل کیږي ؟

۳ــ داوړیدونو گړونو څانگه کومی بسرخی را اخلی ؟

٤ــ نو مگړ پوهه له څه نه غزیږي ؟

٥ــ دنوم اوړون (اسمی گردان) اړخونه کوم دي ؟

٦ــ نومځري (ضمیر) دڅو اړخو له مخی اوړون مومی ؟

۷ــ نوم څه ته وایی او کومی څلور ډلی را اخلی ؟

۸ــ څیز نوم او ستاینوم سره څه توپیر لري ؟

۹ــ نومځري څه ته وایی اوپه پښتو کی پرڅو ډ لو ویشل کیږي ؟

۱۰ــ په لاندي ټوټـه کی هر ډول نوم ښـه کړي ، او ونوموي :

بارك له ما څخه یو لیکی وغوښت ، خو ما تري وژغوره ، ځکه ټولگی یی را څخه بیل دي ، په ښوونځی کی د ده دا دریم کال دي او زما دا دویم ، له یوه ټولگیوال سره یی هم چال چلند سم نه دي ، دي خورا چوغلگردي او دیوه بل خبریال ، دیوه خبره یوه ته وړي او دبل بل ته ، کله یی له یوه سره اخ وډب وي او کله یی له بل سره ، څوك تري ارام نه دي له هرچا سره چی یو ځل کښینی بیـا یی نوروته ویاراوبدوایی ، دغله په غره کی ځاي نشتـه ، پربد بوټـی سپی هم متیازي نه کوي ، هرسړي ته په کاردي چی خپل کارته پام ولري او دبل په کار کی ځان گډ نه کړي ، ویښیاران وایی :

دخواري کونډي زویه ــ خپلی روټـی ژویه !

دکړ ګړپوهه یا دفعل صـــرف (CONJUGATION)

په کړ ګړپوهه کی دکړ له راز راز ډولونو او اوړونو نو (ګردانونو) څخه خبري کیږي ۰

کـــــــــړ : هغه وین (لغت) دي چی د زمانی په چوکاټ کی دیو څه پیښیدنه څرګندوي ۰ داچی دکړ جاج (مفهوم) بی د زمانی له ملګرتیا نه پوهیدل کیږي نو ځکه کړ ته مهال وین (د زمانی لغت) هم وایی ۰

کړنو موونکـــــــی :

په پښتو کی یو کړ په مصدر (ناپاي) نومول کیږي له همدي کبله مصدر ته کړنو موونکی وایو ۰ په عربی کی یو کړ دخپل تیر مهال (ماضی) د دریم وګړي په یو ګړي ځیل (مفرده صیغه) یادیږي لکه ضرب — نصر ۰ پخوا په المانی او پارسی کی کړنو موونکی پخپله دکړ ریښه وه خو اوس په دغو دواړو ژبو کی دپښتو غوندي یو کړ دخپل مصدر په نامه نومول کیږي لکه : تون — کردن — کول ۰۰۰۰۰۰ د مصدر جوړښت اودنده : په پښتو کی یو مصدر په یوه یوګړیز (یومورفیمز) روستاړي (ل) پیژندل کیږي ۰ دغه روستاړي په کړولی (فعلی ریښی) پوري سیده نښلی په دي آړ (شرط) چی کړ ساده یا په بله وینا یو ګړیز یا یومورفیمیزوي او که بیلښتی او تړښتی (اشتقاقی او ترکیبی) زي نو مصدري روستاړي (ل) په مونډ (تنی) پوري نښلی ۰ سیده په کړولی پوري لکه : موندل — وهل — خوړل په مونډ پوري لکه : غورځول اوبول — کښیناستل — پریوتل — یو ځاي کول — لاسته راوستل — تود تود کیدل — نیغ نیغ کیدل پخلا کیدل یا کول ۰۰۰۰۰۰

د مصدر دنده هم داده چی یو کړ ونوموي ، کټ مټ لکه ونه — ډبره — سړي — کندهار ۰ داچـــــی مصدر دیو څه کړنه او پیښیدنه څرګندوي نو دکړنی او پیښیدنی نوم دي نه پخپله کړ ځکه په زمانی پوري اړه نلري ۰ داچی دودیزو (عنعنی) ژبپوهانو مصدر له خپلی وییزي (لغوي) مانا سره سم دکړ دبیلا بیلو بڼو (زیږنده) او یا بنسټ بللی دي یوبی سروبوله

خبره ده . دکړ بنسټ هماغه کړولی (فعلی ریښه) یا کړ مونډ (فعلی تنه) ده چـــــــی

پښتـــــه مصدر تری د (ل) پـــــه ورنښلـــــــر لـــــو جوړیـــــــــــــزي .

که مصدر په رښتیا سره د ټولو فعلی بیلو نو او بټوبنسټ اوزیزنده وای نو باید په هره بڼـه

کی روغ رمټ پاتیدای حال دا چی موز گورو چی یواځی کړولی (فعلی ریښه) یا مونډ (فعلی تنه)

په هره بڼـه کی خپل شتوالی ساتلای شی لکه وهـ په وهم ـ وهو ـ وهې ـ وهی ـ وهې

یا وواهه ـ واهه ـ وهلی دي او داسی نورو کی . له دي کبله د مصدر ریرځای کړ نوم یا کړ نوموونکی

ویل په کار دي ځکه همدغه یی دنده ده د (ناپای) په نامه یی یادول چی دلاتیـــــــن

(INFINITIVE) اړونه ده . هم دومره ناوړه نه ایسی ځکه یوه ناپایه او ناټاکلی

کړنه او پیښیدنه څرگندوي او نوموي ، نه په وگړي اړه لري ، نه په زمانی او داسی نورو گردانی

اړخونو . که د مصدر نومونه پرکړ نوم واړوو . ښایی له نورو ډیرو کړنو مونو سره یی گډ ون راشی

لکه خوړنه ـ خوړانه ـ خوړنگ ـ خوړونکی ـ خوړلی ـ خوړه ـ خوړ ـ خورنده ـ خورندي ـ

خورکه او داسی نور چی د خوړل غوندي له خوړ او خور ولی (ریښی) څخه جوړ شوي دي .

پښتو مصدر د یوه نوم په توگه تل ډیرگړي نرینه دي او یواځی د پیر (حالت) له

مخی اوړون مومی لکه ډیرو (لوستلو) ستومان گړم یا د عبدالقادر خټک په شعر کی :

مه شه خوښ د پادشاهی پرتخت (ختلـــو)

همیشـــه یی غم کوه د (پریوتلـــــــــو)

د کړ اوړونی توکونه او اړخونـــــه :

یو اوړون موندلی (گردان شوي) کړ تر د یارلسو توکونو پوري په جولیز او ښکاره

ډول یا ناښکاره ډول په خپل ځان کی ځایو لای شی چی څه ناڅه د هماغو له مخی رازرازیښی

او اوړون مومی او هغه توکونه دادي :

۱ـ مخکړ : چی د کړیو بشپړوونکی او پلو ټاکونکی ټوک (جزء) گڼل کیږي لکه

کښـی ـ په کښیناستل او کښی وتل اوبري ـ په پریوتل او پریولل یا پریمینځل کی .

٢ـ ولی یا ریښه : چی دکړ رښتینی بنسټ دي لکه خور ـ یا خوړ ـ په خورم ـ خورو ـ خوري ۰۰۰۰ او وخوړ ـ خوړای ـ خوړلی اوداسی نورو کی ۰

ولی پردوو ډولوده : یوه لومړی یا اوسمهال (حال) ولی لکه خور ـ اغوند ـ بله دویمه یا تیرمهال (ماضی) ولی لکه خوړ ـ اغوست ـ دواړي ولی په گډه دیوه راز کړ او ړون (گردان) بشپړوي او سترمهال کړ (مستقبل فعل) کومه جلا ولی نلري بلکه هماغه او سمهال ولی یا لومړی ولی ورسره شریکه ده ۰ دویمه ولی پردي سربیره چی گرد تیرمهال کړونه تري جوړیږي داوسمهال او اوسترمهال بیچار کړونه (مجهول افعال) هم تري جوړښت مومی ۰ کړنومونه بیا له دواړو ولیو څخه لږ وډیرمنځ ته راځی دکړنوموونکی یا مصدر جوړښت زیاتره تیرمهال ولی څخه دود لري لکه خوړل ـ لیدل ـ تلل ۰ دلته لیدل له لید ـ ولی څخه جوړ شوي چی دویمه یا تیرمهال ولی بلل کیږي او لومړی یا اوسمهال ولی یی (وین ـ) ده ددغو ولیو پارسی انډولونه دید ـ او وین ـ دي ۰

٣ـ مونډ : چی دمخکړ یا ولی اووگړیږي پایلی (شخصی خاتمی) ترمنځ دبل کوم توک په یو ځای کولو منځ ته راځی په بله وینا که له یوه تیرمهال گردان شوي کړ څخه وگړیزه یا بله کومه پایله وغورځول شی ۰ پاتی برخه یی مونډ بلل کیږي ۰ په دي توگه مونډ زیاتره دتیرمهال کړ بنسټ جوړوي او په اوسمهال کی په ساده ډول له صفر یا ولی سره برابر دي لکه : کښیناست ـ په کښیناستم یا کښیناستو او زیږید ـ په زیږیدم ـ زیږیدو وزیږیدم ـ وزیږدو وزیږیداي یا اغوست ـ په اغوستم ـ اغوسته ـ واغوست ـ ۰۰۰۰۰ کی ۰ داوسمهال مونډ لکه څملو په څملوم ـ څملوو ۰۰۰۰۰ کی ۰ که په ځینو گړدودوکی کښیناستلم ـ کښیناستلو ـ زیږیدلم ـ زیږیدلو ـ وزیږیدلو ـ او داسی نور ویل کیږي نو مونډ یی بیا کښیناستل ـ او زیږیدل ـ راځی ۰ البته په ځینو گړدودونو کی دغه راز (ل) دمونډ ضروري ټوک گڼل کیږي او غورځول یی مانیزه نیمگړ تیارا ولی لکه ماویاله وکینله ما سندره وویله ماوزمه ورټله ۰۰۰ مگر که وکینده اوولوسته وویل شی مونډونه یی هماغه کیند او لوست راځی ۰

٤ـ کړتـــړ : چی زیاتره دیوه خپلواك اواز په بڼـه دمونډ اووګړیزي پایلـــی ترمنځ کله کله پیښیږي لکه زورکی په کښیناستم او پربوتم کی ۰ مونډ پرمخکړ اوولی سربیره دځیل (٦) لیږد (۷) مهال (۸) اولیږند چار (۱۲) توکونه او چارونه هم را اخلی ۰

٥ـ دود : چی دکړ دڅرګند ولو ډول ښیـــی لکه خبري او ناخبري (غو ښتنـــی ـ پوښتنی ـ هیښنی ـ امري ـ ارمانی ـ ګومانی ـ ټینګاري یا تاکیدي ـ شرطی همیشنی ـ روزدنی یا اعتیادي) لکه : ماډوډۍ وخوړه وخوړاي ـ وخوړه ۰ اوداسی نور ۰

٦ـ ځیـــل : چی دکړ (مسند) او کړندیاکړي (مسند الیه) ټاکنه کوي ۰ په دې مانا چی کړ چاروال (معلوم) دي که بیچار (مجهول) اویا منځوال (انعکاسی). چاروال لکه ببرك زمري وهی ـ زمرك وهل کیږي ـ زمرك ځان وهی ۰ په لومړي غونډ له (جمله) کـی کړ په کړند (ببرك) استناد کوي په دویمه کی په کړي (زمرك) اوپه دریمه کی هم په کړند اوهم په کړي چی دواړه هماغه یو وګړي (زمرك) دي ۰ ځیل په جولیز اوناجولیز ډول دمونډ وټوك دي ۰

۷ـ لیږد : په دې مانا چی کړ لیږند (متعدي) دي که نالیږند (لازمی) لکه سمندر سندري وایی او سمندر راغی ۰ لیږد په جولیز یا ناجولیز (غیر شکلی) ډول دمونډ یوه برخه جوړوي ۰

۸ـ مهـــال : چی دکړمهالی یازمانی اړیکی (ارتباط) څرګند وي په دیمانا چی کړ په کوم مهال کی پیښ شوي دي لکه څوکري ولاړ ـ څوکري ځی ـ څوکري به ولاړ شی ۰ دپښتو کړ مهالونه په ټولیز (عمومی) ډول دري دي :

۱ـ تیرمهال : چی په بشپړ ـ نابشپړ ـ لنډ او لرویشل کیږي ۰

۲ـ اوسمهال : چی په بشپړ اونابشپړ ویشنه مومی ۰

۳ـ اوسترمهال : چی داهم دوه ډوله لري بشپړ اونابشپړ ۰

دمهال توك په مونډ کی راځی لکه په ودریدم یا ودریدلم کی (د) یا (دل) او په ودریږم یا ودریږو کی (ږ) ۰

۹ـ وګړي یا شخص : چې کړند یا کړي لومړي وګړي (متکلم) دي دویم وګړي (مخاطب) یا دریم وګړي (غایب) ـ ـ ـ لومړي وګړي (زه ـ موږ) ـ دویم وګړي (ته ـ تاسی) او دریم وګړي (دي ـ دوي) ۰ دوګړي نښه چې وګړیزه پایله بلل کیږي دکړو روستی برخه جوړوي لکه (م) او (و) په راغلم او راغلو کی ۰

۱۰ـ نوزي یا جنس : چې وګړي نرینه دي که ښځینه ۰ په پښتو کړ کی یوائې د دویمی ولی په اوړون کی دغه توپیر کیږي لکه شینکی راغله ـ ژنی راغی چې دلته (زور) اوي نوزیز توکونه دي په دې توګه نوزیز توک له وګړیزي پایلی او ګڼی سره ګډ اوپاي ته راځی ۰

۱۱ـ ګڼه یا عدد (افراد وجمع) : چې وګړي یو ګړي (مفرد) دي او که ډیر ګړي (جمع) ۰ یوګړي لکه هلک راغی ډیر ګړي لکه هلکان راغلل ۰ ګڼه بوائې په لومړي او دویم وګړي کی توپیریږي نه په دریم کی لکه هلک ځی ـ هلکان ځی ۰

۱۲ـ لیږند چار یا صناعیت (کوزاتیف) دکړ هغه برخه یا توک دي چې په مونډ کی راځی او یو لیږند کړ دویم ځلی لیږند (متعدي) کوي لکه د پارسی په خوراندن یا خواباندن کی (ان) پښتو سمدلاسه د ننګرهار ګړدود او خوشال خټک په استناد یوائې دوه لیږند چار کړونه لري لکه خورول (خوراندن) او ویول (ګویاندن) ۰ په نورو کړونو کی دغه راز څرګندونه یوائې د ییکو (اداتو) په وسیله تر سره کیږي لکه ما پر ځلمی خپله خبره ومنله (من بر ځلمی سخن خود را قبولاندم) په دې توګه یو لیږند چار کړ دوه کړنده (فاعله) او دوه کړیه (مفعوله) لري ۰ لکه په پورتنی بیلګه کی ما او ځلمی کړندونه او خبره کړی ده او په یو مهال کی بیا ځلمی او خبره دواړه کړي دي ۰ ځینی حکمی لیږند کړونه بی له ویکو هم د لیږند چار دنده پر ځای کوي لکه ما وژړوله ـ ما وخندوله او داسی نور ۰ یا داسی هم ویل کیږي : ځلمی دور خانی په خبرو راوسته مانا دا چې خبري یی پرې وکړي ۰

۱۳ـ دنفی یا نهی توک (نه) یا (مه) چې زیاتره دمخکړ یا تړښتی او بیلښتی توک ترمنځ راځی لکه : کښی نه ناست ۰ پانه څید ۰ وانخیست ۰ رانغی ۰ مه خوره ۰ ۰ ۰ ۰

کړاو (تمرین) :

را	پاڅ	یـــــــد	ـ زورکی	م
۱	۲	۶ـ۷ـ۸ـ۱۲	٤	۵ـ۹ـ۱۱
		۳		

یادونه : نوزي (۱۰) په یوه بله بیلگه (راپاڅیدله) کی مومو چی له ۹ـ۱۰ او ۱۱ سره گډ ون لري ۰ همدارنگه دنفی توك (۱۳) په (راپانه څیدله) کی راتلاي شی ۰

اوړونونـــــه (گردانـــونـــــه)

لومړي ـ تیرمهـــال : چی له دویمی یا تیرمهال ریښی څخه دنو موړو دیالس گونو توکونو او اړخونو په پام کی نیولو سره جوړښت او اوړون مومی ۰

الف ـ له لیږند خوړ ـ دویمی ولی څخه ۰

۱ـ خبـــري ۰

۱ : بشپړ تیرمهال (مطلقه ماضی)

گڼه / وگړي	یوگـــړي	ډیرگـــړي
۱	ماوخوړ ـ وخوړه وخوړل ـ وخـوړي	موږ وخـوړ ـ وخوړه وخوړل ـ وخوړي
۲	تاوخوړ ـ وخـوړه وخوړل ـ وخوړي	تاسی وخوړ ـ وخوړه وخوړل ـ وخوړي
۳	ده ـ دي وخوړ ـ وخوړه وخوړل ـ وخـــوړي	دوي وخوړ ـ وخـــوړه وخوړل ـ وخـــوړي

چاروال

بیچار

وګړي / ګڼه	یوګړي	ډیرګړي
۱	زه وخوړل شوم	موږ وخوړل شو
۲	ته وخوړل شوې	تاسی وخوړل شوئ ـ سواست
۳	دي وخوړل شو داوخوړل شوه	دوي وخوړل شول دوي وخوړل شوې

منځوال

وګړي / ګڼه	یوګړي	ډیرګړي
۱	ماځان وخوړ	موږ ځان وخوړ ـ ځانونه وخوړل
۲	تاځان وخوړ	تاسی ځان وخوړ ـ رر رر
۳	ده ـ دې ځان وخوړ	دوي ځان وخوړ ـ رر ر

یادښت: لکه څنګه چی موپاس ولیدل په تیرمهال کی چاروال کړ دبیچارکړ غوندې دکړي (مفعول) تابع دي نه دکړند لکه ماخټکی وخوړ ـ ما خټکی وخوړل ـ ماهندوانه وخوړه ـ ما هندوانی وخوړې ۰۰۰ داچی ځینی بهرنی پښتوپوهان دپښتو لیږند تیرمهال کړ (متعدي ماضی فعل) تل بیچار (پاسیف) بولی ۰ د دوکتور تږي په وینا یوه بی سروبوله خبره ده ځکه چاروال لیږندیی له بیچار هغه سره توپیرلري او هغه داچی دکړند پخپله دکړ ایښی (مسند الیه) دي ۰ او کړند پیر هم ښیی نوباید داسی وویل شی چی دپښتو د تیرمهال چاروال لیږند کړ (ماضی متعدي معلوم فعل) پایلی له کړي (مفعول) سره سمون لري ۰

۲: نابشپړ تیرمهال (همیشنی ماضی): نابشپړ تیرمهال دبشپړوالی (مطلقیت) له (و) پرته نورد بشپړ هغه غوندي جوړښت مومی بیچار، یی دبیچار کړ نوم په لنډ ون (خوړل) دمرستیالکړ (کیدل) په ملګرتیا جوړیږي اووګړیږي پایلی هم په دغه مرستیال کړپوري نښلی:

چاروال

وګړي / ګڼه	یوګړي	ډیرګړي
۱	ماخوړ ـ خوړه ـ خوړل ـ خوړي	موز خوړ ـ خوړه ـ خوړل ـ خوړي
۲	تاخوړ ـ خوړه ـ خوړل ـ خوړي	تاسی رر رر رر
۳	ده ـ دي رر رر	دوي رر رر رر

بیچار

وګړي / ګڼه	یوګړي	ډیرګړي
۱	زه خوړل کیدم	موز خوړل کیدو
۲	ته خوړل کیدي	تاسی خوړل کیدئ ـ کیداست
۳	دي خوړل کیده داخوړل کیده	دوي خوړل کیده ـ کیدل دوي خوړ کیدي ـ کیدلی

منځوال : ماځان خوړ ـ موز ځان خوړ .....

۳ : روز دنی (اعتیادي) تیرمهال : داهغه رازکړ دي چی دهمیشه والی ترڅنګه د روز دتیا (اعتیادي) جاج (مفهوم) هم را اخلی په دي توګه داراز کړ ته روز دنی همیشنی کړ هم وبلاي شو . له هسی عادي همیشنی کړ سره یی توپیر داچی ترکړ دمخه پري د (به) ویکی هم زیاتیږي .

چاروال

یوګړي	ډیرګړي
مابه خوړ ـ خوړه ـ خوړل ـ خوړي	موز به خوړ ـ خوړه ـ خوړل ـ خوړي
تابه رر رر رر رر	تاسی به رر رر رر رر
ده ـ دي به رر رر رر	دوي به رر رر رر رر

		یوگـــړي	ډیرگـــړي
بیچار	۱	زه به خوړل کیدم	موږ به خوړل کیدو
	۲	ته به خوړل کیدې	تاسی به خوړل کیدئ ـ کیداست
	۳	دي به خوړل کیده	دوي به خوړل کیده ـ کیدل
		دا به خوړل کیده	دوي به خوړل کیدې ـ کیدلی

منځوال لکه ما به ځان خوړ .....

٤ : لنډ تیرمهال (قریبه ماضی) : د دي مهال کړ دچار او پیښنگ له مخی کله داسی وي چی په تیرمهال کی یو مخیز بشپړ شوي وي او یا داچی تر اوسمهال یی هم څه اوږدوالی موندلی وي . رغیدنگ یی داډول دي چی له بیچار کړ نوم (مفعولی صفت) ((خوړلی)) سره مرستیالکړ (ول) په اوسمهال کی اوړون مومی . په بیچارکی یی پردي سربیره دویم مرستیالکړ (کیدل) یا (شول) وزسره هم اوړون کوي او د دي لپاره چی وگړیزي پایلی په دواړو مرستیالکړونو پوري نښلی نو داسانتیالپاره د بیچار کړ نوم پایلی ته اړ تیا نه پاتیږي همداراز په لرتیرمهال بیچارکړ کی هم د بیچارکړ نوم (خوړلی) باي غورځی او د (خوړل) په بڼه پاتیږي چی ځینی دودیز پښـــو یپوهان (گرامرپښتیان) یی له (مصدر) سره گډوي او اشتباه کوي .

	یوگـــړي	ډیرگړي
۱	ما خوړلی دي ـ خوړلی ده ـ خوړلی دی ـ خوړلی دی .	موږ خوړلی دي ـ خوړلی ده ـ خوړلی دي . خوړلی دی .
۲	تا رر رر رر رر	تاسی رر رر رر رر رر
۳ـ	ده ـ دي رر رر رر	دوي رر رر رر رر رر

	یوگـــــــړي	ډیرگـــــړي
بیچار ۱	زه خوړل شوي ـ شوې یم	موږ خوړل شوي ـ شوې یو
۲	ته خوړل شوي ـ شوې یې	تاسې خوړل شوي ـ شوې یې ، یاست
۳	دي خوړل شوي دي دا خوړل شوې ده	دوي خوړل شوي دي دوي خوړل شوې دي

منځوال لکه ماځان خوړلی دي .....

۵ : لرتیرمهال (بعیده ماضی) : د لرتیرمهال کړ ته هغه وخت اړتیا پریوځی چی وروسته تري بشپړ تیرمهال یا لنډ تیرمهال کړ پیښ شوي وي ، یا په بله وینا ، لرتیرمهال کړ یوله دغو نورو ډولو ترکاریدنی (استعمال) وروسته کارول کیږي لکه چی وایی :

ته پرلسو بجو راغلی (بشپړ) اوزه پرنهو بجوراغلی وم (لـــر)

یا : ته پرلسو بجوراغلی یی (لنډ)

د لر تیرمهال او ړون نورد لنډ هغه غوندي دي خو دلته ورسره مرستیالکړ (ول) سم په لـره زمانه کی اوړون مومی :

	یوگـــــــړي	ډیرگـــــړي
چاروال ۱	ماخوړلی و ـ خوړلی وه ـ خوړلی وو ـ خوړلی وې	موږ خوړلی و ـ خوړلی وه ـ خوړلی وو خوړلی وې ،
۲	تا رر رر رر رر	تاسی رر رر رر رر رر
۳	ده ـ دې رر رر رر رر	دوي رر رر رر رر رر

	یوگـــــــړي	ډیرگـــــړي
۱	زه خوړل شوي ـ شوې وم	موږ خوړل شوي ـ شوې وو
۲	ته رر رر رر	تاسی رر رر رر وي ـ واست
۳	دي خوړل شوي و دا خوړل شوې وه	دوي خوړل شوي وو دوي خوړل شوې وې

منځوال لکه ماځان خوړلی و.....

٦ : گومانی تیرمهال (احتمالی یا شکیه ماضی) : هغه کړ ته وایی چی کیدنگ یی گومانی او اړنگمن (مشکوك) وي ۰ رغیدنه یی داسی کیږي چی لهه بیچارکړ نوم (خوړلی) یا (خوړل) سره (به) ملتیا مومی او په چاروال کی یواځی د (ول) مرستیالکړ یواځینی بڼه (وي) او په بیچارکی ورسره (شول) او د (ول) ټولی اوسمهال بڼی اوړون کوي ۰ اود (وي) په بڼه یواځی په دریم وگړي کی (گوندي) یا (ښایی) غوندي گومانی وییکی هم ورسره ټولیز ډول مل کیداي شی ۰

	یوگړي	ډیرگړي
١	مابه خوړلی — خوړلی —	موږ به خوړلی — خوړلی —
چاروال	خوړلی — خوړلی وي	خوړلی — خوړلی وي
٢	تابه رر رر رر رر	تاسی به رر رر رر رر
٣	ده — دې به رر رر رر	دوي به رر رر رر رر

	یوگړي	ډیرگړي
١	زه به خوړل شوي — شوې یم	موږ به خوړل شوي — شوې یو
بیچار		
٢	ته به رر رر رر یی	تاسی به رر رر رر یی ۰ — یاست
٣	دي به خوړل شوي وي	دوي به خوړل شوي وي
	دا به خوړل شوې وي	دوي به خوړل شوې وي

منځوال لکه : مابه ځان خوړلی وي .....

۷ : ارمانی تیرمهال (تمنایی ماضی) : چی دیوه ارمان څرګندونه کوي او د دود له مخی په بشپړ تیرمهال ، نابشپړ تیرمهال ، لرتیرمهال اوګومانی تیرمهال پوري اړه لري :

۱ـ ارمانی بشپړ تیرمهال (تمنایی مطلقه ماضی) چی درغیدنی له مخی په بشپړ تیرمهال اودجاج او موخی (مفهوم او مطلب) له مخی په اوسمهال پوري اړه لري جوړیدنه یی دبشپړ تیا (مطلقیت) و ـ په مختاري کولو او دچاروال لپاره دبیچارکړ نوم (مفعولی صفت) په اوږ دولو او دبیچار لپاره دپای په غور ځولو او دمرستیالکړ (شول) دبیچارکړ نوم په اوږ دولو ترسره کیږي ، دغه رازیی دزیاتی څرګند تیا لپاره تر ایښی (مسندالیه) دمخه یا وروسته د (کاشکی) ویکی دیوه نحوي توك په توګه هم ملګري کیدای شی .

		یوګړي	ډیرګـــړي
چاروال	۱	کاشکی ما وخوړای	کاشکی موږ وخوړای
	۲	کاشکی تا وخوړای	کاشکی تاسی وخوړای
	۳	کاشکی ده ـ دي وخوړای	کاشکی دوي وخوړای

		یوګـــړي	ډیرګـــړي
بیچار	۱	کاشکی زه وخوړل شوای	کاشکی مو وخوړل شوای
	۲	کاشکی ته وخوړله شوای	کاشکی تاسی وخوړل شوای
	۳	کاشکی دي ـ دا وخوړل شوای	کاشی دوي وخوړل شوای

منځوال لکه : کاشکی ما ځان وخوړلای .....

۲ـ ارمانی نابشپړ تیرمهال : چاروال یی بی دبشپړ تیا (مطلقیت) له و ـ څخه دبشپړ هغه غوندي جوړیږي او بیچاریی بی له دغه (و) او مرستیال کړ په بدلو لو (شول پرکیدل) دبیچار بشپړ هغه غوندي راځی .

چاروال

	یوګړي	دوګړي
۱	کاشکی ما خوړای	کاشکی موز خوړای
۲	کاشکی تا خوړای	کاشکی تاسی خوړای
۳	کاشکی ده ـ دی خوړای	کاشکی دوی خوړای

بیچار

	یوګړي	دوګړي
۱	کاشکی زه خوړل کیدای	کاشکی موز خوړل کیدای
۲	کاشکی ته خوړل کیدای	کاشکی تاسی خوړل کیدای
۳	کاشکی دی ـ دا خوړل کیدای	کاشکی دوی خوړل کیدای

منحوال لکه: کاشکی ما نان خوړلای .....

۳ـ ارمانی لرتیرمهال (تمنایی بعیده ماضی) چاروال دا سی جوړیزی چی په بیچارګړ نوم (مفعولی صفت) پسی دمرستیالګړ (ول) بیچارګړ نوم اوزد (وای) راشی او بیچار یی دبیچارګی نوم په لنډه ولواو (شول) په زیاتو رامنځ ته کیزی.

چاروال

	یوګړي	دوګړي
۱	کاشکی ماخوړلی ـ خوړلی ـ خوړلی ـ خوړلی وای	کاشکی موز خوړلی ـ خوړلی ـ خوړلی ـ خوړلی ـ خوړلی وای.
۲	کاشکی تا رر رر	کاشکی تاسی رر رر
۳	کاشکی ده ـ دی رر رر رر	کاشکی دوی رر رر

بيچاره	يوگـــړي	ډيرگـــړي
۱	کاشکی زه خوړلی وای ـ شوی ـ	کاشکی موږ خوړلی شوی ـ شوی ـ شوی وای
۲	کاشکی ته ړ ړ ړ ړ	کاشکی تاسی ړ ړ ړ ړ
۳	کاشکی دی ـ دا ړ ړ ړ	کاشکی دوی ړ ړ ړ ړ

منحوال لکه: کاشکی ماخلان خوړلی وای

۷ـ ارمانی گومانی تیرمحال (تمنایی احتمالی ماضی) له عادي گومانی تیرمحال سره یوازې د (به) په خپرولو او کاشکی توپیر ښي.

چاروال	يوگـــړي	ډيرگـــړي
۱	کاشکی ما خوړلی ـ خوړلی ـ خوړلی ـ خوړلی ـ خوړلی ـ خوړلی ړی	کاشکی موږ خوړلی ـ خوړلی ـ خوړلی وی
۲	کاشکی د ـ ـ دی ړ ړ	کاشکی تاسی ړ ړ ړ
۳	کاشکی ده ـ دی ړ ړ ړ	کاشکی دوی ړ ړ ړ ړ

۸: اړونی تیرمحال (شرطیه ماضی) چې دیوه اړونی کړن لپاره اړ (شرط) خرګندوي په دې توګه دارازکړ دیوه بل کړ لپاره اړ (شرط) برابروي دا مانا چې که دغه کړ ترسره نشي هغه بل کړ هم کیدون نلري ار همدارازکه هغه بل کړ موخن او مطلوب نه وي نو د اړونی کړ خرګندونی ته کومه اړتیا نه پیښیږي نکه (که وریځ نه وی باران نکیږي) یا (که وریځ وي (نو) باران کیږي یا به باران وشي). هغګه چې اړ (شرط) په هرکړ او کړن کې راتلاي شي نو د اوسمحال

معنوندي په توله تیرمحالو کې خرګندیږي او هماغه ورته ولوله اړي د اړ د خرګندونې نښه اوتوک

(که) ده چې په کې راځي

: د ـ ـ ـ اړونې پېښې تیرمحال چې له خبرې پېښې تیرمحال څخه د (که) په

مخکې ولولو سره جوړیږي او په جاج (مفعوم) کې په اوسمحال پورې اړه لري لکه: که ما وخوړ

ـ ـ ـ که موږ وخوړ یا که ما وخوړلی وای ـ که موږ وخوړلی

۲ــ اړوتی نابشپړ تیرمهال (شرطیه استمراري ماضی) لکه : که ما خوړ ــ که موز خوړ یا که ما خوړلای ــ که موز خوړلای ....

۳ــ اړوتی لنډ تیرمهال (شرطیه قریبه ماضی) لکه : که ما خوړلی دي ــ که موز خوړلی دي یا ــ که ما خوړلی وي که موز خوړلی وي ....

٤ــ اړوتی لرتیرمهال (شرطیه بعیده ماضی) لکه که ما خوړلی و ــ که موزخوړلی و یا ــ که ما خوړلی وي ــ که موز خوړلی وي .....

په دي توګه هر اړوتی تیرمهال په څرمه (ضمنی) ډول ګومانی ــ ارمانی ــ هیښنی ..... هم کیدای شی .

۹ : توانی تیرمهال (امکانی یا اقتداري ماضی) : چی دیوه کړ کیدون (امکان) یانه کیدون تري څرګندیزي . په پښتو کی په ساده جوړښت ډول یوائی بشپړ تیرمهال او نابشپړ تیرمهال توانی کیداي شی او همدغه دوه ډوله تیرمهالونه په څرمه توګه نور تیرمهالونه هم را اخلی . رغیدنګ یی دبیچارکړ نوم دپاي غبرګنزپه اوزدولو (خوړلای یا خوړای) او ورسره دمرستیالکړ (شول یا کیدل یادواړو) په ګرډانولو تر سره کیزي .

۱ــ توانی بشپړ تیرمهال . لکه : ما وخوړلای شو ــ وخوړای شو ــ تاوخوړلای شو ــ وخوړای شو .....

۲ــ توانی نابشپړ تیرمهال . لکه : ما خوړلای شو ــ خوړایشو ــ تا خوړلای شو ــ خوړای شو .....

اعتیادي : لکه : مابه خوړلای شو ــ خوړای شو ــ تابه خوړلای شو ــ خوړای شو .

۱۰ : تینګاري تیرمهال (تاکیدي ماضی) : چی دکړ دترسره کولو یانه ترسره کولو تینګار (تاکید) څرګندوي او یوائی په بشپړ اونا بشپړ تیرمهال کی راتلای شی :

۱ــ تینګاري بشپړ تیرمهال چی له بیچارکړ نوم سره د (به) . (و) یا (واي) په ملګري کولو جوړیزي لکه : ما به خوړلی ویامابه خوړلی واي اویا خوړلی به می و . خوړلی بهمی واي .

٢ـ ټینګاري نابشپړ تیرمهال چې له اعتیادي سره په اهنګ کې توپیر لري لکه :

ما به خوړ یا ما به خوړ لاي یا خوړ اي ۰ کله کله یې بویه یا (باید) هم په سرکې راتلاي شي او د پاي لیکښه یې ندائیه راځي ۰

ـ هیښنې تیرمهال (تعجبي ماضي) ۰ چې په هیښتیا (تعجب یا تحیر) سره څرګندیږي ۰ د اراز کړ یواځې په اهنګ کې له خبري هغه سره توپیریږي لیکښنه یې یوه بلنښښه (ندائیه) ده ۰

بیلګه لکه : ما وخوړ ! تا وخوړ ! ۰۰۰۰۰۰۰۰

١١ : پوښتنې تیرمهال (استفهامي ماضي) چې د یوه کړن پیښیدنه یا نه پیښیدنه پوښتنې

دا هم له خبري کړ سره یواځې په اهنګ کې توپیر مومي په دي توګه چې د خبري کړ اهنګ له عادي خج یا اهنګ سره او ار پیل مومي او ټیټ پاي ته رسي او د پوښتنې دا له یوه زیات پیاوړي خج یا په بله وینا له یوه هوار اهنګ سره پیل مومي او په پاي کې لوړیږي ۰ پوښتنې کړ په بشپړ تیرمهال ۰ نابشپړ تیرمهال ۰ لنډ تیرمهال لرتیرمهال او توانې تیرمهال کې راتلاي شي لیکښه یې پاي ته یوه پوښتنښه (؟) ده ۰

١ـ پوښتنې بشپړ تیرمهال لکه : ما وخوړ ـ تا وخوړ ۰۰۰۰۰۰۰

٢ـ پوښتنې نابشپړ تیرمهال لکه : ما خوړ ـ تا خوړ ۰۰۰۰۰۰۰

٣ـ پوښتنې لنډ تیرمهال لکه : ما خوړ لې دي ـ تا خوړ لې دي ۰۰۰۰۰

٤ـ پوښتنې لرتیرمهال لکه : ما خوړ لې و ـ تا خوړ لې و ۰۰۰۰۰۰

٥ـ پوښتنې توانې تیرمهال لکه : ما وخوړ لاي شو ـ تا وخوړ لاي شو ۰۰۰۰۰

لکه : ما وخوړ لاي شو ـ تا وخوړ لاي شو ۰۰۰۰۰۰

یا : ما خوړ لاي شو ـ تا خوړ لاي شو ۰۰۰۰۰۰

ب ـ نالیزندکړ (راتلل) له بشپړ اندو (سوپلتیفو) دویمو ولیـــو راتل ـ (رات) ٠ راغل ـ
(راغ) څخه راغلل ـ دبشپړ (مطلق) او راتل ـ دنابشپړ (غیرمطلق) کړ ولی هم
جوړیزي
بلل کیـــــزي ؟

۱ : بشپړ تیرمهال (مطلقه ماضی) :

۱ـ خبـــري چې له راغل ـ یا راغ ـ ریښې څخه جوړ بنت او اوړو ن مومی ٠

	یوګړي (مفرد)	ډیرګړي (جمع)
۱	زه راغلم	موز راغلو
۲	ته راغلی	تاسی راغلئ ٠ ـ راغلاست
۳	دي راغی (راغلـــئ)	دوي راغلـــل
	دا راغلـــه	راغلی (راغللـــی)

۲ـ لنډ تیرمهال چـــې دلیزندکړ غوندي دبیچارکړ نوم له اندول
(راغلی) څخه دمرستیالکړ (ي ـ) او (د ـ) په ملګرتیا جوړیزي اوګردانیزي ٠

یوګـــــړي	ډیرګـــړي
زه راغلی ـ راغلی یم	موز راغلی ـ راغلی یـــو
ته راغلی راغلی یـــې	تاسی راغلی راغلی یی ـ یاست
دي راغلی دي	دوي راغلی دي
دا راغلی ده	دوي راغلی دي

٣ـ لرتیرمهال (بعیده ماضی) • چې له لنډ تیرمهال سره په مرستیالکړ کې توپیر مومی هغه دا چې دلته د (ول) ولی (و ـ) په کار لویږي •

یوګړي	ډیرګړي
زه راغلی ـ راغلی وم •	موږ راغلی ـ راغلی وو •
ته راغلی ـ راغلی وې •	تاسی راغلی ـ راغلی وې • ـ واست •
دي راغلی و •	دوي راغلی وو •
دا راغلی ـ راغلی وه •	دوي راغلی ـ راغلی وې •

٤ـ نابشپړ تیرمهال (همیشنی یا استمراري ماضی) چې د راغلی ـ له بشپړاندې ملګري ولی (راتل ـ) یا (رات) څخه جوړښت او اوړون مومی په دې توګه چې وګړیزي پایلی په همدغی ولی پوري سیده نښلی :

یوګړي	ډیرګړي
زه راتلم •	موږ راتلو •
ته راتلی	تاسی راتلی • ـ راتلاست •
دي راته ـ راتلو ـ راتلی •	دوي راتلل •
دا راتله	دوي راتلی ـ راتللی

٥ـ روزدنی تیرمهال (اعتیادي ماضی) چې له نابشپړ تیرمهال څخه د (به) ویکی زیات لري لکه : زه به راتلم ـ ته به راتلی • • • • • • • •

٦ـ ارمانی تیرمهال (تمنایی ماضی) چې په بشپړ ـ نابشپړ او لر تیرمهال پوري اړه لري او د موخی او جاج (مفهوم) له مخی زیاتره په اوس مهال پوري اړه نیسی • بشپړ یی له نابشپړ سره د بشپړ تیا (مطلقیت) و ـ توپیریزي بشپړ یی لکه (ولاړ لای) یا (ولاړ اي)

اونابشپړ یې لکه (تللاي) ، لږې دارکړ نوم دغبرګغز داوز دولو پرځاي دمرستیالکړ (ول) هغه پراوز ده غبرګغز اړوي ، دپوره څرګند تیا لپاره د درووا ړو ډولو په سرکی د (کاشکی) وبیکی دیوه نحوي توك په توګه هم راوړل کیداي شي .

(۱) بشپړ ارمانی :

	یوګـــړي	ډیرګـــړي
۱	کاشکی زه راغللاي ـ راغلاي	کاشکی موږ راغللاي ـ راغلاي
۲	کاشکی ته رر رر	کاشکی تاسی رر رر
۳	کاشکی دي ـ دا رر رر	کاشکی دوي رر رر

(۲) نابشپړ ارمانی :

	یوګـــړي	ډیرګـــړي
۱	کاشکی زه راتللاي ـ راتلاي	کاشکی موږ راتللاي ـ راتلاي
۲	کاشکی ته رر رر	کاشکی تاسی رر رر
۳	کاشکی دي ـ دا رر رر	کاشکی دوي رر رر

(۳) لرارمانی :

	یوګـــړي	ډیرګـــړي
۱	کاشکی زه راغلی ـ راغلی واي	کاشکی موږ راغلی ـ راغلی واي
۲	کاشکی ته رر رر رر	کاشکی تاسی رر رر
۳	کاشکی دي ـ دا رر رر	دوي رر رر رر

۷ـ توانی تیرمهال (امکانی ماضی) چی په (تلل) غوندي نالیږند. کړ کی په ساده ډول یواځی نابشپړ تیرمهال را اخلی او هغه هم په دي ډول جوړیږي چی د بیچارکړ نوم انډول (تللی) پای غبرګغږ او زدیږي او مرستیالکړ (شول) ورسره اوړون مومی.

	یوګـــړي	ډیرګـــړي
۱	زه راتللای ـ راتلای شوم	موږ راتللای ـ راتلای شو
۲	ته رر رر شوې	تاسی رر رر شوئ ـ شواست
۳	دي رر رر شو	دوي رر رر شول
	دا رر رر شوه	دوي رر رر شولی ـ شوې

۸ـ ګومانی تیرمهال (شکیه یا احتمالی ماضی) چی بشپړ ـ نابشپړ ـ لنډ اولـر تیرمهال یی په دغو لاندي ډولو جوړیږي.

(۱) بشپړ ګومانی چی د (لکه چی) په ملتیا د خبري هغه غوندي جوړ ښت مومی لکـــه:

یوګـــړي	ډیرګـــړي
لکه چی زه راغلم !	لکه چی موږ راغلو !
لکه چی ته راغلی !	لکه چی تاسی راغلی ـ راغلاست !
لکه چی دي راغی !	لکه چی دوي راغلل !
لکه چی دا راغله !	لکه چی دوي راغالی ـ راغلی !

(۲) نابشپړ ګومانی چی له خبري نابشپړ تیرمهال څخه د (ګوند) نه (ښایی) یا (لکه چی) په ملتیا جوړیږي او د روږدنی لپاره یی (په) هم ملګري کیږي.

یوگـــــړي	ډیرگـــــړي
گوندي ـ ښایی یالکه چی زه راتلم	گوندي ـ ښایی یالکه چی موږ راتلو
رر رر رر رر ته راتلی	رر رر رر تاسی راتلی ـ راتلاست
رر رر رر دي راتلو ـ راته	رر رر رر دوي راتلل ـ راتله
رر رر رر دا راتلله ـ راتله	رر رر رر رر راتللی ـ راتلی

اوږدنی لکه : زه گوندي ـ ښایی یالکه چی زه به راتلم ـ ته به راتلی .....

(۳) لنډ گومانـــی د بشپړ گومانی غوندي په (لکه چی) یا (به) له خبري هغه سره توپیریـــــزي .

یوگـــړي	ډیرگړي
لکه چی زه راغلی ـ راغلی یم	لکه چی موږ راغلی ـ راغلی یو
رر رر ته رر رر رر یی	رر رر تاسی رر رر یی ـ یاست
رر رر دي ـ دا رر رر وي	رر رر دوي رر رر وي

یا ـ زه به راغلی یم .....

(٤) لـــرگومانی چی له خبري هغه سره د (گوندي) ـ (ښایی) (لکه چی) یا (به) په سرباري کولو توپیریږي لکه گوندي زه راغلی وم ـ زه به راغلی وم .

۹ـ ټینگاري تیرمهال (تاکیدي ماضی) . چی بشپړ ـ نابشپړ اولر راتلاي شی او د موخی اوجاج له پلوه زیاتره په اوسمهال پوري اړه لري . او د پوره څرگند تیا لپاره یی په سرکی (بویه) یا (باید) هم ملگري کیږي .

(۱) بشپړ ټینگاري د به یا باید په مختاړي کولو او د (اي) په روستاړي کولو له (راغلل ـ) یا (راغل ـ) څخه جوړیږي لکه زه به راغللاي ـ راغلاي یا زه باید راغللاي ـ راغـــــلاي .

(۲) نابشپړ ټینګاري چې د به یا باید په مختاړي کولو او (اي) په روستاړي کولو له (راتلل ـ) یا (راتل) څخه جوړیږي لکه :

زه به راتللاي ـ راتلاي یا زه باید راتللاي ـ راتلاي ۰۰۰۰۰۰ او یا راتلم به ـ راتلی به اوداسی نور ۰

(۳) لـر ټینګاري چې له خبري تیرمهال څخه د (به) په سرباري کولو توپیریږي لکه زه به راغلی وم ـ ته به راغلی وي ۰۰۰۰۰۰۰ که د (به) ځاي (باید یا (بویه) ونیسی نوبیا د (ول) کړ نوم پاي غبرګغږ لکه ارمانی هغه غوندې ورسره اوږ دیږي لکه زه باید راغلی واي ـ ته بویه راغلی واي چې البته په درو واړو وګړو کې یې بیا نرینه او ښځینه سره توپیر یداي شي ۰ دپاي لیکنښه یې بلننښه (!) راځي ۰

۱۰ـ پوښتنې تیرمهال (استفهامی ماضی) په دي مانا چې که په هر ډول تیرمهال کې پوښتنه راشي ۰ نو پوښتنې تیرمهال بلل کیږي ۰ بشپړ لکه زه راغلم نابشپړ لکه زه راتلم لنډ لکه زه راغلی یم لر لکه زه راغلی وم اوداسی پسې نور ۰

۱۱ـ هیښنې تیرمهال (تعجبی ماضی) چې هیښتیا تري څرګندیږي اوله پوښتنې سره یواځې په اهنګ کې توپیر مومي لکه زه راغلم ! ته راغلی ! اوهم داسی په نورو تیرمهالونو کې ۰

۱۲ـ اړوتې تیرمهال (شرطیه ماضی) چې په تیرمهال کې د کوم کړ پیښیدنه یا نه پیښیدنه په یوه اړ (شرط) پوري تړلی وي داکړ نور تر پایه پوري د خبري هغه غوندې رغیدنګ لري خوپه سرکې یې یو نحوي توک اړوییکی (شرطیه ادات) ـ که ـ راوړل کیږي لکه که زه راغلم ۰ که زه راتللم ۰۰۰۰۰۰

دویم ـ داوسمهال کړ اوړون (گـردان) :

اوسمهال کړ دامانا چی کړ هماغه مهال یا یوڅه وروسته پیښیږي چی یادونه یی کیږي ۰ چاروال یی له لومړي ولی (ریښی) څخه جوړیږي اوبیچار یی له تیرمهال یا په بله وینا له دویمی ولی څخه ۰ چی په دواړو بڼـو کی وریوري ټاکلی اوړونی (تصریفی) تاړي (وندونه) نښلول کیږي ۰ دغه تاړي دایښی (مسندالیه) اودهغه د گڼـی څرگندونه کوي نه دنوږي او مهال ۰ دامانا چی په ناتیرمهال کی نوږي نه توپیریږي او مهال خوزیاتره پخپلی کړ ولی سره څرگندیدنه مومی ۰

الف ـ له لیږند خور ـ څخـــــه :

۱ : بشپړ اوسمهال ۰

۱ـ خبري : چاروال ۰ چی له لومړۍ ریښی څخه زیاتره دبشپړ تیا یی (مطلقیت) (و ـ) په مختاړي کولو او داړوندو نښلونو په زیاتو لو لاسته راځی :

یوگړي (مفرد)	ډیرگړي (جمع)
وخورم	وخورو
وخورې	وخوري ٔ
وخوري	وخوري

بیچار ۰ چی له دویمی ولی څخه دلاسته راغلی بیچار کړ نوم په لنډون اوله هغه سره دمرستیالکړ (شول) په اوړون جوړښت مومی :

یوگـړي	ډیرگړي
وخوړل شم	وخوړل شو
وخوړل شی	وخوړل شی ٔ
وخوړل شی	وخوړل شی

منځوال لکه : ځان وخورم .....

٣ـ اړوتی بشپړ اوسمهال (شرطی حال) چی له خبري بشپړ او سمهال سره توپیر یی یواځی داړ ویکی یا شرطیه ادات (که) په سرباري کولو څرګندیږي .

چاروال لکه : که وخورم ـ که وخوري ....

بیچار لکه : که وخوړل شم ـ که وخوړل شی ....

منځوال لکه : که ځان وخورم ـ که ځان وخوري .....

٤ـ اړمانی بشپړ او سمهال چی د (کاشکی) په مخکی کولو سره د خبري هغه غوندي رغیدنـــــګ موږ :

چاروال لکه : کاشکی وخورم ـ کاشکی وخوري .....

بیچار لکه : کاشکی وخوړل شم ـ کاشکی وخوړل شی ....

منځوال لکه : کاشکی ځان وخورم ـ کاشکی ځان وخوري .

٥ـ پوښتنی بشپړ اوسمهال چی په رغیدنګ کی له خبري څخه یواځی د خج په پیاوړتیا او داهنګ په لوړتیا کی توپیر لري . لیکنښـــه یی پوښتنښه ده :

چاروال لکه : وخورم وخوري

بیچار لکـــه : وخوړل شم وخوړل شی .

منځوال لکه : ځان وخورم ځان وخوري

٦ـ هیښنـــی بشپړ او سمهال له پوښتنی هغه څخه یواځی په اهنګ او د غزیدونکی په اکر (وضع) بیلتون موندلای شی او لیکنښه یی د پوښتنښی پرځای بلننښه راځی :

چاروال لکه : وخورم ! وخوري !

بیچار لکـــه : وخوړل شم ! وخوړل شی !

٦ـ توانی بشپړ اوسمهال • چی له دویمی ولی څخه دلاسته راغلی بیچارکړ نوم دپای غبرگغز په اوزدولو او ورسره د (شول) په اوړونولو (گردانولو) سره منځ ته راځی دجولی له مخی له بشپړ تیرمهال سره کوم توپیر نلري • په زړه پوري داچی یی چاروال اوبیچار سره یواځی دغزیدونکی داکر (وضعیت) • چا پیریال او دریځ (موقعیت) اونومځرو له له مخی توپیریدای شی لکه : زه غم وخوړلاړي شم ـ ماغم وخوړلای شی یاغم ماوخوړلای شی •••

گڼه / وگړي	یوگړي	ډیرگړي
١	وخوړلای شـــم	وخوړلای شـــــو
٢	وخوړلای شی	وخوړلای شـــــئ
٣	وخوړلای شـــی	وخوړلای شـــــی

٧ـ امري بشپړ اوسمهال چی یواځی د دویم وگړي لپاره راځی چاروال یی له لومړي ولی څخه ساده ډول او بیچار یی له دویمی ولی څخه دلاسته راغلی بیچارکړ نوم په لنډون او دمرستیالکړ (شول) په اوړون سره تر سره کیږي •

چاروال لکه : وخوره ! وخوري ئ !

بیچار لکه : وخوړل شه ! وخوړل شئ !

٨ـ ټینگاري یا تاکیدي بشپړ اوسمهال چی له خبري هغه سره یی توپیر یواځـــی دټینگارویـــکی یا تاکیدي ادات (دې) په ورزیاتولو ترسره کیږي •

چاروال : له نومځرو سره لکه : زه دې وخورم ! ته دې وخورې ••••

بی نومځرو لکه : ودې خورم ! ودې خورې ••••

بیچـــار : له نومځرو سره لکه : زه دي وخوړل شم ! ته دي وخوړل شی !

بی نومځرو لکه : ودې خوړل شم ! ودي خوړل شـــی !

۹ـ غوښتنی بشپړ اوسمهال چی دعایا ښیرا څرګندوي او یواځی په ناتیرمهال کی راتلاي شی . د ټینګاري هغه او کله کله د امري هغه غوندي جوړیږي خو پوره څرګند تیا یی په یوه غونډ له (جمله) کی له نورو توکونو سره کیداي شی لکه :

سردي وخورم یا سرمی دي وخورم ـ سردي وخوره یا په دغو متلو کی : نه اشه ښه ده نه ګله ـ دوي دي وخوري یو تربله (میدان) .

نه یوه ښه ده نه بله ـ دوي دي وخوري یو تربله (د هلمند ناوه)

په پښتو کی زیاتره ارکړونه په ساده او یو ستوي توګه دغوښتنی لپاره راتلاي نشی اومرستیالکړونه او توکونه ورسره ملګري کیږي .

ساده لکه : ومره ! ژوه ! (زنده باد) .

تړښتی (ترکیبی) لکه : ستړي مه شی ! خوارمه شی ! هرکله راشی ! خیریوسی ! یا له (خداي) سره : خداي دې خوار مکړه ! خداي دي وبښه ـ خداي دي ښه درسره وکړي ...

۱۰ـ ګومانی بشپړ او سمهال چی دا ړنګ وبیکو (شکیه اداتو) او غونډ له ییزوتوکونو په مختاړي کولو له خبري هغه څخه جوړیږي .

چاروال لکه : ښایی چی وخورم ـ ګوندي وخورم ـ لکه چی وخورم ـ کیږي چی وخورم

بیچار لکه : ښایی چی وخوړل شم ـ ګوندي وخوړل شم ـ لکه چی وخوړل شم ـ کیږي چی وخوړل شم ! .

۲ : نابشپړ اوسمهال (غیرمطلق یا استمراري چال)

۱ـ خبـــري :

چاروال . چی بی له کوم مختاړي له لومړۍ کړولی سره دوګړیزو پایلو (خاتمو) په ملتیا جوړیږي لکه :

گڼه / وګړي	يو ګړي (مفرد)	ډير ګړي (جمع)
١	خورم	خورو
٢	خوري	خوري
٣	خوري	خوري

بيچار ° چې له لنډه کړ شوي بيچار کړ نوم (خورل) سره مرستيالکړ (کيدل) په اوسمهال کې اوړون موښ لکه :

گڼه / وګړي	يو ګړي	ډير ګړي
١	خورل کيزم	خورل کيزو
٢	خورل کيزي	خورل کيزي
٣	خورل کيزي	خورل کيزي

منحوال لکه : ځان خورم .....

٢ــ اړوتی نابشپړ اوسمهال چې دا رويې کې ياشرطيه ادات (که) په مختاري کولو له خبري هغه څخه خورل يزي °

چاروال لکه : که خورم ــ که خوري .....

بيچار لکه : که خورل کيزم ــ که خورل کيزي ...

منحوال لکه : که ځان خورم ــ که ځان خوري .....

٣ــ ارماني نابشپړ اوسمهال چې دجولې له مخې له ارماني نابشپړ تيرمهال سره کوم توپير ناري لکه کاشکې ما خورلی وای °په دي توګه يې له نورو ارماني (تيرمهال يا اوسمهال) ډولونو سره د چاروال او بيچار توپير د درېځ او نومحرو له مخې کيداي شي .

٤ــ پونښتنې نابشپړ اوسمهال له بشپړ تيا يې يا مطلقه (و ــ) پرته نور د پونښتنې بشپړ اوسمهال غوندي رغيدنګ لري لکه خورم °

٥ـ هیښنی بیاله پوښتنی سره یواځی په اهنګ اوچاپیریال سره توپیرید اي شی اوپه لیک کی په بلننښه لکه : خورم !

٦ـ ګومانی نابشپړ اوسمهال له بشپړ تیایی (و ـ) پرته نور د بشپړ هغه غوندي رغیزي لکه ګوندي خورم یا ګوندي خپل سرخورم .....

٧ـ توانی نابشپړ اوسمهال دجولی له مخی له توانی نابشپړ تیرمهال سره کوم توپیر نلري اویواځی دجاج اوموخی (مفهوم او مقصد) له مخی تري توپیریداي شی اوهماغسی یی دچاروال اوبیچار بیلتون دنومځرو په اوښتون سره راځی لکه ما خوړلی شواي ـ زه خوړلی شواي ...

٨ـ امري نابشپړ اوسمهال چی کټ مټ دبشپړ هغه غوندي یواځی د دویم وګړي لپاره راځی لکه خوره ! خوري ؟ !

٩ـ تینګاري یا تاکیدي نابشپړ اوسمهال چی د (دي) په ملتیا په دي وروسته ډول جوړیدنګ مومی .....

چاروال ، له نومځرو سره لکه زه دي خورم ـ ته دي خوري .

بی نومځرو لکه : خوړل کیږم دي ـ خوړل کیږي دي ! (١)

١٠ـ غوښتنی نا بشپړ اوسمهال چی ډیرلږ دودلري او هغه هم په ځینو کړو او بیا په یوه غونډ له (جمله) کی له نورو توکونو سره لکه :

خداي دي لره ـ خداي دي له هري بلا ساته !

خداي دي مه بښه ـ خداي دي مه خواروه !

خداي دي مه کموه ! اوداسی پسی نور .

(١) بیچار ـ له نومځرو سره لکه زه دي خوړل کیږم ـ ته دي خوړل کیږي

بی نومځرو لکه خوړل کیږم دي ـ خوړل کیږي دي .

ب ــ له نالیږتد خ ــ ــ ولاړ ــ او تلل کې تل ــ څخه :

١ : بشپړ اوسمهال • چې له دوهمې ولې (ولاړ ــ) سره مرستیالکړ (شول) اوړون مومی •

١ــ خبري :

گڼه / وګړي	يوګړي (مفرد)	ډ يرګړي (جمع)
١	ولاړ شـــم	ولاړ شـــو
٢	ولاړ شـــې	ولاړ شـــئ
٣	ولاړ شـــه ولاړه شـــه	ولاړ شـــه ولاړي شـــه

٢ــ اړونې بشپړ اوسمهال • چې دا رویښې یاشرطیه ادات (که) په مختاري کولو دخبري هغه غوندي رغیدنه مومی لکه : که ولاړ شم ــ که ولاړ شی .....

٣ــ ارمانی بشپړ اوسمهال چې د تولو وګړو لپاره له (ولاړ ــ) څخه د جوړ شوي کړ نوم (ولاړ لی) په اوږدو لو جوړیزي اودپوره څرګند تیالپاره یې د (کاشکی) ویښې هم په سرکې رائی اودجولې له مخې له ارمانی بشپړ تیرمهال سره کوم توپیر نلري لکه : کاشکی زه ولاړ لای یا ولاړ ای ــ کاشکی ته ولاړ لای ــ ولاړ ای .....

٤ــ پوښتنی بشپړ اوسمهال چې له خبري هغه سره یوائی په اهنګ کې توپیرلري لکه : ولاړ شم ولاړ شی •

٥ــ هیښنې • چې له خبري یا په بله وینا له پوښتنې هغه سره دغږیدونکې په یوه ځانګړي اکر (وضعیت) او اهنګ کې توپیرمومی لکه :

ولاړ شم ! ولاړ شی !

٦ــ توانی بشپړ اوسمهال چې له (ولاړ) سره د مرستیالکړ (شول) اوږ دغږګزي کړ نوم (شولای یا شوای) اوړون مومی اوپه دي توګه دجولې له مخې له توانی بشپړ تیرمهال سره سمون خوري •

وګړی / ګڼه	یوګړي	ډیرګړي
۱	ولاړ شولاي ـ شواي	ولاړ شولاي ـ شواي
۲	رر رر رر	رر رر رر
۳ـ	رر رر رر ولاړه رر رر	رر رر رر ولاړي رر رر

۷ـ امري بشپړ اوسمهال چې یواځې په دویم وګړي پوري اړه لري لکه:

ولاړ شه! ولاړ شئ!

۸ـ ټینګاري بشپړ اوسمهال چې له خبري هغه سره یې توپیر یواځې د ټینګار وییکی (دې) په ورزیاتولو کیږي.

له نومځرو سره لکه: زه دي ولاړ شم ـ ته دي ولاړ شئ ....

بې نومځرو لکه: ولاړ دي شم ـ ولاړ دې شئ .....

۹ـ غوښتنې بشپړ اوسمهال چې له ولاړ ـ څخه په سیده ډول ډیر لږ دودلري لکه: سردې ولاړ شه! ګورته ولاړ شئ!

۱۰ـ ګومانې یا احتمالي بشپړ اوسمهال چې له ولاړ سره مرستیالکړ (شول) د اړنګ وییکو (شکیه اداتو) یا په بله وینا د اړنګ توکونو په ملتیا اوړون مومئ لکه:

ښایي چې ولاړ شم ـ ګوندي ولاړ شم ـ لکه چې ولاړ شم ـ کیږي چې ولاړ شم ....

۲: نابشپړ اوسمهال چې یواځې د ارمانې او توانې لپاره تل ـ یا تلل ـ راځي ځکه چې د جولې له مخې له تیرمهال سره سمون لري او نور پاتې ډولونه یې د ځ ـ له ولې څخه جوړیږي چې د تل ـ یا تلل ـ او ولاړ ـ سوپلاتیف (بشپړ اند) بلل کیږي.

۱ـ خبـــري :

گڼه / وګړي	يوګـــړي	ډيرګـــړي
۱	ځم	ځو
۲	ځـــی	ځی
۳	ځـــی	ځی

۲ ـ اړوتی لکه : که ځم ـ که ځی ۰۰۰۰۰۰

۳ـ پوښتنی لکه : ځم ځی

٤ـ هيښنی لکه : ځم ! ځی !

٥ـ امري لکه : ځه ! ځی !

٦ـ ټينګاري لکه : ځم دي ځی دې (له دويم وګړي پرته) ۰

۷ـ ګومانی چی د (ګوندي) او (لکه چی) په ملګرتيا دخبري هغه غوندي جوړيږي

لکه : ګوندي ځم ـ لکه چی ځم

۸ـ غوښتنی يی دودنلري ۰

۹ـ ارمانی چی د تل يا په بله وينا تلل ـ د چارنوم (تللی) په اوږدو لو سره جوړيږي

لکه : زه تللاي ـ ته تللاي ۰۰۰۰۰۰

۱۰ـ توانی چی د تل يا تلل ـ له چارنوم تلی يا تللی سره د مرستيالکړ (شول)

د اوږده چارنوم (شولاي يا شواي) په ملتيا جوړښت مومی او د ټولو وګړو لپاره په همدي يوه بڼه

راځی لکه : زه تللی شواي ـ ته تللی شواي ۰۰۰۰۰۰

دریم ـ داوسترمهال کړ اوړون (گردان):

اوسترمهال یا مستقبل کړ چی په گانده (ابنده)کی دیوه چارپیښیدل څرگندوي ۰ دجولی او مانا له مخی له اوسمهال سره کوم ستر توپیر نلري دا دواړه مهالونه په یوه نامه ناتیرمهال هم نومول کیداي شی لکه څنگه چی دوکتور تـزي دغه نومونه کاروي ۰ خو بیایی هم د (به) ویکی په زیاتولو لـــه اوسمهال سره بیلتون راتلاي شی اوپه دې توگه په پرتلیز ډول د غزیدونکی دغزیدا له مهال نه یو څه وروسته مهال ښیـی ۰

الف ـ له لیزند خور ـ اوخوړ ـ څخه:

بشپړ لکه: وبه خورم ـ وبه خورې

یا ـ وبه خوړل شم ـ وبه خوړل شی

نابشپړ لکه: خورم به ـ خورې به

یا: خوړل کیږم به ـ خوړل کیږي به .....

ب ـ له نالیزند ځ ـ اوولاړ ـ څخه:

بشپړ لکه: ولاړ به شم ـ ولاړ به شی ۰

نابشپړ لکه: ځم به ـ ځی به .....

دکړ رغاونی (ساختمانـــــی) ډولونـــــه

دکړ تر بیلا بیلو گرامري ډولونو او اوړ ونونو (گردانو) وروسته غواړ و دویی رغاونی (لغوي ساختمان) له مخی د هغه رغاونه او جوړ ښت ترکتنی لاندې ونیسو • په دې توگـــه له څلورو ډلو کړ ونو سره مخامخیږ و : ساده ـ بیلښتی (اشتقاقی) ـ شاپشا (یاخواپرخوا) ـ تړښتی (ترکیبی) •

۱ـ ساده یا یو ستوي کړ چی ستـه یا بنسټ یی له یو گړیزي (یومورفیمیزي) ولی څخه جوړوي • او اوړ ونی (تصریفی) مختاړي او روستاړي وریورې سیده نښلول کیږي لکه خور ـ چی خورم ـ خورو ـ خورې ـ خوري ـ خوري • • • • اوداسی نورې جوړ ونی تري کیږي •

۲ـ بیلښتی یا اشتقاقی کړ • چی ستـه یا بنسټ یی له یو گړیزي ولی اوکوم تاړي (افیـکس) څخه جوړوي • په دې مانا چی دکړ ولی جاج (مفهوم) دیوه تاړي په ملتیا بشپړیږي او څرگندیږي • یا په بله وینا دغسی یوتاړي دجاج اومانا له مخی دکړ ولی نه بیلیدونکی توک گڼـل کیږي • په دي توگه یی که له ولی څخه لرې کړ و ټاکلی جاج یی اوړي اوبایی کورټ له لاسه ورکوي لکه : راغلل ـ درغلل ـ ورغلل ـ راتلل ـ درتلل ـ ورتلل ـ راکول ـ درکول ـ ورکول • کښیوتل ـ کښیناستل • کښی ایستل • کښینول ـ پوري وتل ـ پوري وهل ـ پوري ایستـل ـ پوري کول • • • دغه راز ډیر ستاینومونه او څیز نومونه هم د روستاړ و په نښلونه داوسمهال کړ ولی گرځی لکه : لوییدل ـ غټیدل ـ تیریدل ـ کاریدل ـ اوبیدل ـ دودیدل ـ لاسیدل • • • یا لویول ـ غټول ـ تیرول ـ کارول ـ اوبول ـ دودول ـ لاسول • • • • •

د بیلښتی یا اشتقاقی اوبا مشتق کړ رغاونه داسی لنډ ون مومی :

۱ـ کړ ولی + مختاړي = راتلل • درتل • ورتلل • • •

۲ـ ستاینوم ولی + روستاړي = لوییدل ـ لوبول یا غټیدل ـ غټول • • •

۳ـ څیز نوم ولی + روستاړي = اوبیدل ـ اوبول ـ یا دودیدل ـ دودول • • •

زموږ دودیزژبپوهان دغی ډلی کړ ونوته ((یدل والا مصدرونه)) وایی چی یوه ناپوهنیزه نومونه ده •

٣ـ خواپرخوایا سست ترښتی (ترکیبی) کړ ۰ هغه راز کړ ته وایی چی د کړ ستی یابنسټ له دوویا ډیرو خپلواکو گړونو (مورفیمونو) څخه هسی سرسری او بابزیو ځایوالی موندلی وي ۰ په بله وینا یو پوځ ترنگ (ترکیب) یی بللای نشو ۰ داسی چی سره یوځای شوي توکونه نه خج له لاسه ورکوي او نه پایلی او په دي توگه یی پایلی سره جلا جلا خپله اوړونی (تصریفی) لوښه (خاصه) ترسره کوي حال داچی په یوه پوځ یا رښتینی ترنگ کی د رغنده توکونو (اجزاور) خجونه او (تصریفی) پایلی پروروستنی توک باندي پنډیدنه او بوکیدنه (تجمع او توحید) مومی ۰ دخواپرخوا کړ رغاونه په دي لاندي گړنو (اصطلاحاتو) کی ښوول کیږي :

١) څیزنوم + مرستیالکړ = زمری کیدل ـ کول ، زمری کیدل ـ کول ـ زمري کیدل ـ کول ۰ زمری یا زمریاتی کیدل ـ کول ۰۰۰۰۰

٢) ستاینوم + مرستیالکړ = مړ کیدل ـ کول ، مړه کیدل ـ کول ، مړه کیدل ـ کول ۰ مړي کیدل ـ کول ۰۰۰

٣) چاروال کړ نوم ـ مرستیالکړ = سرخوړونکی کیدل ـ کول ۰ سرخوړونکي کیدل ـ کول ۰ سرخوړونکي کیدل ـ کول ۰ سرخوړونکي کیدل ـ کول ۰۰۰۰۰

٤) بیچار کړ نوم + مرستیالکړ = سرخوړلی کیدل ـ کول ۰ سرخوړلي کیدل ـ کول ۰ سرخوړلي کیدل ـ کول ـ سرخوړلي کیدل ـ کول ۰۰۰۰

٥) ششمیر نوم + مرستیالکړ = دوه کیدل ـ کول ، دوي کیدل ـ کول ۰۰۰

٦) بیاځلی ستاینوم + مرستیالکړ = تود تود کیدل ـ کول ، توده توده کیدل ـ کول ۰ تاوده تاوده کیدل ـ کول ، تودي تودي کیدل ـ کول ۰۰۰۰

٧) سربل + څیز نوم مرستیالکړ = ترلاسه کیدل ـ کول ۰۰۰۰

٨) سربل + څیز نوم + اوستربل + ارکړ = له سرنه نیول ـ له پښو څخه غورځیدل ـ غورځول ۰ تریایه پوري رسیدل ـ رسول ۰۰۰۰

٩) څیزنوم + او ستربل + مرستیالکړ = مخ ته کیدل ـ کول ، شاته کیدل ـ کول ...

١٠) څیزنوم + اوستربل + ارکړ = پای ته رسیدل ـ رسول ، سرته ختل ـ خیژول ....

١١) څیزنوم + او ستربل + بیلښتی کړ = لاس ته راوړل ـ لاس ته راوستل ....

٤ـ تړښتی (ترکیبی) کړ ، چی له خواپرخوا کړ سره یی په رغاونه کی توپیر دادي چی دلته مله یا یو ځای شوي توکونه سره یو نه جلا کیدونکی یووالی منځ ته راوړي په دي مانا چی مخنی توکسونه یی خپل خج او اوړونی تاړي اوله دي سره مانیزه او گرامري خپلواکی له لاسه ورکوي او یواځی وروستنی هغه یی دگرد تړنگ په ښکارندویی یو غښتلی خج او اوړونی نښی نښانی ځان ته اخلی . البته مخنی توکونه یی یا له آره ناوړیدونی وي (لکه کړولونه) اویایی په همدغه تړنگ کی خپله اوړونی او گرامري جوله اوچارومانا له لاسه ورکړې وي . تړښتی کړ هم لکه د (خواپرخوا) کړ غوندې زیاتره په گړنو (ایدیمونو) اړه لري لکه په دي بیلگو کی:

څیزنوم + مرستیالکړ = زړه کیدل (میل درلودل) یا ښکاره کیدل ـ کول . غلاکیدل ـ کول (خج پرمرستیالکړ) کهنه خواپرخوا کړ بدلیږي .

څیزنوم + مرستیالکړ = زړه کول (جرئت کول)

څیزنوم + مرستیالکړ = توره کول (غیرت یا میړانه کول) .

تړښتی څیزنوم + مرستیالکړ = زړه نازړه کیدل (ټکی یا متردد کیدل)

بیاځلی ځلی څیزنوم + مرستیالکړ = سترگی سترگی کیدل (انتظار ایستل) برخه برخه ـ ټوټه ټوټه ـ ونډي ونډي ـ لوټی لوټی کیدل یا کول ....

ستاینوم + مرستیالکړ = لوده ـ شوده ـ بدمرغه ـ ... کیدل یا کول .

بیاځلی ستاینوم + مرستیالکړ = لوده لوده ـ شوده شوده ... کیدل یا کول .

بیاځلی کړول + مرستیالکړ = پورته پورته ـ کښته کښته ـ وروسته وروسته ... کیدل یا کول .

څیزنوم + ارکړ = پښه نیول ـ لاس اخیستل ـ سرخوزیدل ـ ځان پړسول ـ ځان وهل ـ ځان وژل ـ ځان ژوبلول او داسی ټول منځوال کړونه له اره تړښتی کړونه بریښی .

دویمه برخه :

ناوړیدونی گړونه (INDECLINABLE MORPHEMES)

دگړپوهی (مور فولوژي) په تیره برخه کی موله نومونو او کړونو څخه خبري وکړي او په هغه ترڅ کی مو د هغو ډولونه او اوړونو نه (گردانونه) وښوول په دي برخه کی غواړو دگړونو (مورفیمونو) یوه بله (دویمه) ډله ترکتنی لاندي ونیسو . د دي ډلی ځانگړتیا (خاصه) داده چی د تیري ډلی (نومونو او کړونو) په توپیرځانته کوم ازاده وبیزه (لغوي) مانا نلري بلکی له خپلواکو گړونو (نومونو او کړونو) سره یی چار او مانا جوتیږي او له کړولونو (قیدونو) پرته دغونډلی (جملی) له مرستیالو توکونو څخه گڼل کیږي . کړولونه بیاله نومونو او کړونوسره دارویا ازادو گړونو (مور فیمونو) ډله جوړوي .

ناوړیدونی گړونه په دي وروسته توگه بیلابیلی ټولی (کتگوري) او ډولونه جوړوي :

لومړي ـ کړولونه یاقیدونه (ADVERBS) :

کړولونه هغه ژبنی توکونه دي چی دیوه کړ دپیښیدنی څرنگوالی ښیی د اڅرنگوالی دکړ دپیښیدلوځای یا مهال ټاکی اوبایی څرگند تیا ټینگار اوداسی نوري ځانگړتیاوي (خصوصیات) ښکاره کوي . په پښتو کی ارکړولونه ناوړیدونی دي . ناارلکه څیزنومونه اوستاینومونه چی په څرمه ډول دکړولونوپه توگه کارول کیږي البته ناوړیدونی نه بلل کیږي . په ټولیز ډول کړولونه داوروسته ویشنه لري :

۱ـ مهالی کړول : چی دمهال له مخی دیوه کړ پیښیدنه اغیز منوي لکه :

اوس ـ وروسته ـ خکی ـ دمخه ـ پخوا ـ وړاندي ـ سمدلاسه ـ سملاسی په سرکی ـ په پیل کی ـ په پاي کی ـ پاي ته ـ بیرته ـ سرته ـ ژر ـ ورو ـ گړندي ـ ځنډ یا په ځنډ ـ بی ځنډه ـ په بیړه ـ په تلوار ـ په چټکی ـ په چابکی ـ ووړمه ورځ ـ ووړمه شپه ـ پرون ـ پرون ورځ ـ پرون شپه ـ نن ـ نن ورځ ـ نن شپه ـ نن گهیځ ـ نن غرمه ـ نن ماښام ... ـ سبا ـ سباته ـ بل سبا ـ بل سباته ـ گهیځ ـ سهار ـ غرمه ـ ماسپښین ـ مازیگر .

(مازیگر چیري وي لوي مه شـــــــی ماپه منگی کی شنه بادرنگ راوړي وونه) .

دوخته ـ ناوخته ـ لمرخاته ـ لمرپریواته ـ سز کال ـ پروسز کار ـ وورم کال ـ لاوورم کال (ته) ـ کال ته ـ بل کال ته ـ لابل کال ته ـ ترڅو یاڅو ـ په ځغاسته ـ په منډه ـ دمنډي له مخی ـ دولا ي له مخی ·

اوداسی نور ار اونا ار کړولونه ° بیا ځلی (تکراري) لکه : ژر ژر ـ اوس اوس ···

لنډ پرلنډ یا لنډ پرلنډه ـ لاس پرلاس ···

۲ـ ټون (مکانی) کړول : چی دیوه کړ پیښیدنه دځای او چاپیریال له مخی اغیزمنه کوي لکـــــه :

دلته ـ هلته ـ دلی ـ هلی ـ دوري ـ هوري ـ مخکی ـ وروسته ـ شاته ـ مخ ته ـ بیرته وړاندې ـ لري ـ نژدي ··· (دغه راز کړولونه زیاتره مهالی اوتونی دواړه کاره ورکوي په بله وینا هم مهالی او هم تونی دي) ـ کښته ـ ورته ـ لاندي ـ باندي ـ دننه ـ دباندې ـ اخوا ـ دیخوا ـ له لري ـ له نژدي ـ له ورایا له ورایه ـ مخامخ ـ پشی شا ـ مخپورته ـ مخکښته ـ مخ پر وړاندې ـ پرمخ ـ پرشا ـ ستونی ستغ یا ستونی ستاخ ـ سرپرڅڼی ··· ځای پرځای ـ لور دلوره ـ لورا لور ـ کوراکور ····· اوداسی نورارا اونا اریا ساده او تړښتی تونی کړولونه °

۳ـ څرګندنی او ټینګاري کړولونه : چی دیوه کړ دپیښیدنی څرګندتیا ° حالت څرنګتیا یا ټینګار ښیی لکه : په ځغرده ـ په ډاګ یاپه ډاګه ـ ډانګ پیلی (ویل) ـ په ښکاره ـ په پټه ـ په څرګنده ـ په غلا ـ په زیار ـ په خواري ـ په میړانه ـ په ویړه خوله ـ په زور یاپه زوره ـ په خوښه ـ ورویاپه ورو (اواز) ـ په نره ـ په مړوسترګو ـ په ټیټو سترګو ـ په جګوسترګو ـ په هسکه غاړه ـ په کلکه ـ په ټینګه ـ زړه نازړه (کول ـ ویل ···) ـ په ناسته ـ په ولاړه ـ په منډه ـ په ملاسته ـ هرومرو ـ زازو ـ په هرډول ـ په هره توګه ـ هیڅ په هیڅ یا هیڅ په هیڅه ـ خوشی په خوشی ـ په اوزدو ـ په لنډو یاپه ساره ـ څه ناڅه ـ زړه نازړه ـ لز و ډیر ···

یاداوزدو ګړنو په بڼه لکه : واښه پرخوله رسی پرغاړه (ورتلل) ·····

دویم ــ ویيکی (ادوات PARTICLES) :

داهم دنا وړيدونيو يا آزاد و ګړونو (مورفيمونو) يوه غوره برخه ده او بيلګيږي په دي وروسته ډول دي :

۱ــ اړيکوييکی (ارتباطی ادات CONJUNCTIONS) : چې ځومره والی او خرنګوالی يا ورته والی له مخی سره اړي او خرمه غونډلی (جملی) نښلوي اويه دي توګه دوه دوه سره غاړه کيږي چې له لومړي سره يې زياتره (چې) هم ملګري کيږي که څه هم (چې) پخپله ځانته يو اړيکوييکی هم دي . او په ګډه د دوو توټو يا غونډو لو اړيکی ټينګوي لکه څومره او هومره په دې غبرګه غونډه له کې . څومره ډيګ هومره ټيټ . نوري داسی جوړي لکه : څنګه چې ــ هسې . که څه هم ــ بيا هم . څومره چې ــ هومره يا هماغومره . چيرې ــ هلته (چيرې دي ښه هلته دي شپه) هسې ــ داسې ــ همداسې ــ همدارنګه ــ همدارازــ هغسې ــ هماغسې يا همغسې ــ خو ــ مګر همدومره ــ په همدې ډول ــ په همدې راز . چې ــ نو .... په کډهاري ګړدود کې ځکه هم د څنګه پازه پرځاي کوي لکه چې وايي ځکه چې ناروغ وم نو د رمل مې وخوړل . (که)) بيا په اړوييکو کې يو اړوييکی دي چې د دوو غونډو لو ترمنځ يواړ (شرط) ټينګوي لکه که ته راشې نو زه به هم راشم .

۲ــ ورتنې يا تشبيهي ويکی چې په دوديز ګرامر او ادبي فنونو کې يې (حروف تشبيه) بولي هغه ويکی دي چې د دوو يا زياتو څيزونو يا پديدو ورته والی او مشابهت بيانوي لکه : لکه ــ غوندې ــ په څير ــ په رنګ ــ په شان ــ په دود ــ په توګه ــ په ډول ــ په راز ....

۳ــ تړوييکی (عطف توري) چې دوه توکونه (ويي) يا غونډلی سره ملګري کوي لکه او ــ و ــ که ــ يا ــ سره په دې بيلګو کې : باغ وا يې د ګلونو پکې ناست وايي زه اوته ــ (و) او (او) سره همانيزدي او وائي غږيز (فونو لوژيکی) توپير سره لري همدغه (او) دي چې په زياته کاريدنه پر (و) او ړي لکه موږ پلار ــ خور و ورور مګر که له خپلواکپاي ويې سره بل ويې تړل کيږي نو په اړه بنه راځي لکه کاکا او ماما ...

بل داچی زیاتره (او) یو نحوي تړون ښیی او (و) یو لغوي تړون ۰۰۰۰۰ همدارنګه (که) او (یا) هم همـمانیز تړوییکی بلل کیږي لکه ښه که بد ښه یا بد ـ (سره) له نورو تړوییکو سره داتوپیر لري چی د ملګرو توکونو (وییو یا غونډ لو) ترمنځ نه بلکی تري وروسته راځی او هغه سره تړي یا ملګري کوي ۰

٤ـ تولوییکی (اضافت توري) چی څیزونه یا پدیدي سره یو له بله اړوندوي یا یو د بل تول او ملکیت کوي په جولیز ډول پښتو یواځی یو تولوییکی (د) لري لکه: د هلك خولی ـ د پښتو څانګه د اسمان ستوري ۰۰۰۰۰۰ داچی پښتو څانګه یا دري څانګه ـ ادب پوهنځی یا کابل پوهنتون بی (د) ویل کیږي دلیل دادي چی په لومړیو دوو ساریو (مثالو) کی پښتو او دري د نورو ژبنی نومونو غوندې د ستاینومو بڼی غوره کوي او ستاینوم په پښتو کی په خپل څیز نوم پوري سیده نښلی نور ساري یی لکه: افغان اولس ـ باختر اژانس ـ پښتون ځلمی او داسی نور ۰ او ادب پوهنځی یا کابل پوهنـتون د نومونو او تړنګونو (ترکیبونو) په توګه د (د) غوندي یونحوي توك ته نوره اړه نلري: نور ساري یی لکه: طب پوهنځی ـ پلان وزارت ـ دفاع وزارت او داسی نور ۰ (د) د تولو الی ترڅنګه لږ و ډیره مهالی پازه هم ترسره کوي لکه د شپی ـ د ورځی ۰۰۰ مګر د سربل په توګه د (د) کارونه د لیکنی معیاري پښتو له بنسټو څخه چپه بریښی لکه د ځلمی سره د کندهار څخه راغلم ۰ همدارازله تشبیهی وییکو (غوندي ـ په څیر ـ په رنګ ۰۰۰) د یوه (سربل) په توګه هم غاړه کیږي لکه د زمري غوندي ۰۰۰۰ له (ـ پاره) سره نن سبا د ومره نه مل کیږي بلکی پر (له) او ښتـی دي ۰

٥ـ سربلونه (PREPOSITIONEN) او اوستربلونه (POSTPOSITIONEN):

سربل یا پیشینه هغه وییکی دي چی تر یوه نوم د مخه راځی او په یوه غونډ (فقره) یا غونډ له کی د هغه نوم پیر او د ریځ ښیی ۰ لکه (په) په (په کورکی) ـ (له) په (له ښوونځی څخه) یا (له ځلمی سره) (تر) په (ترکوره پورې) ـ (په) په (په تاپورې) او داسی نورو بیلګو کی ۰ په دي توګه موږ ګورو چی یو سربل د یوه بل وییکی په ملګرتیا چی تر نوم څخه وروسته راځی ۰ نوم په تون ـ وتون او داسی

نورو پیرو کی اچوي دغه تر نامه وروسته ملګري وبیکی یی (اوستر بل) یا پسینه بلل کیږي ۰ سره له دي چی سربلونه او اوستر بلونه دغونډل (جملی) یا په بله وینا په ناخپلواکو او مرستیالو توکونو کی راځی اومانا اوپازه یی د همدغو نومونو یا کړونو او کړو لونو په ګاونډ یتوب کی څرګندیدا ي شی ۰ خود اچی پردغو ارو یا خپلواکو توکونو یو ډول اغیز لري اود هغو د ریځونو او پیرونـــه (حالتونه) څرګندوي نو اد اره کوونکی ـ چلوونکی یا واکمن توکونه هم بلل کیږي (په نحوي تجزیه کی به پري پوره خبري وشی) ۰ د دغه پورتنیو پازو اودندو له پلوه سربلونه او اوستر بلونه په دي وروستیو ډولو ویشنه مومی:

۱ـ په ـ چی له (کی) اوستربل سره د اړوند (مربوط) نوم تون پیر یا ظرفی حالت څرګندوي لکه (په ټولګی کی) ـ له (پوري) اوستربل سره یو بل ډول تون پیر یا په بله وینا یو پیو ستون ښیی لکه په ځان پوري ـ په تاپوري ـ ستا په خبري پوري (بارتباط ګپ شما) ـ له (سره) او ستربل سره یو لوښتیر (الی حالت) را ښیی لکه په بیاتی سره ـ په چړي سره ـ په وینا سره ـ په زور سره ـ په خوښی سره ـ له (پسی) او ستربل سره یو بل راز تونپیر یا پرله پسی والـی څرګندوي لکه: په تاپسی ـ په سختی پسی اسانی راځی ـ په ژمی پسی پسرلی دي لکه په پورتنیو بیلګو کی چی لیدل کیږي کله کله تري ملګري اوستربل لویداي هم شی لکـــه: په خوښه که په زوروي له مظلوم به د ظالم لاس لنډیږي په تا اړه نلري (په تاپوري اړه نلري) ـ په لیکانی لیک کیږي (په لیکانی سره لیک کیږي) ۰ مګر (په کور) له (په کورکی) سره یو راز نه دي ځکـــــــــــــــــــــــــــــه (پـــه کـــــــــــــــور) له اره (پرکور) دي چی ظرفی نه بلکی استعلایی مانا ښندي ۰ همدا راز په وخت ـ په کال ـ په مازیګر ـ په بجو ۰۰۰۰۰ د پروخت ـ پرکال ـ پرمازیګر ـ پربجو ۰۰۰۰ ناسم یا ناکره بڼی دي ۰ همدا خبره ده چی موږ (پهپښتولیکل) او (پرپښتو لیکل) سره توپیروو ۰

۲ـ پر ـ یو باندینی (استعلایی) وییکی دي چی یو اړوند اوستربل (باندي) یی زیاتره غور ځیږي لکه پرمیز باندي یا پرمیز ـ پرځمکه باندي یا پرځمکه ـ پرزړه باندي یا پرزړه ـ

پرسرباندي یاپرسر- پرزړه یو څه پرخوله بل څه - پروخت - پرکور - پرکابل - پرلسو بجو-
پر ١٣٥٦ کال اوداسی نور ° پرهم د (په) غوندې زور پاي نومونه پراوښتس پیرنه اړوي °
له کندهاري اوتاریخی ادبی پښتو پرنه نور زیاتره گړ دودونه (په) او (پر) سره گډ وي پریوه وخت
یادواړه په الی - ارتباطی اوتسلسلی مانا کاروي په بله وینا دواړه د (په) پازه پرځای کوي او
یادواړه په استعلایی مانا یاپه بله ژبه دواړه د (پر) دنده تر سره کوي ° لکه د (په پښتو لیکل)
او (پرپښتو لیکل) بیلگی چی د (په) په برخه کی راوړل شوي ° په یوه کره لیکی پښتو کی د دغه
دواړو سربلونو توپیر ضروري دي ° یوژبنی ارهم دادي چی دوه توکونه یا دودونه په تاریخی
اواتمولوژیک ډول هیڅکله همما نیزاو همپازیزنه وي د همدغه ارپه ترڅ کی سپمایی ارهم سمبالیزي
که په گړنی ژبه کی دغه ارونه دومره پرځای هم نشی مگر په لیکی ژبه کی څو اړخیز گټور نقش لري °
توپیر یانه گډون - کارویش او پسپما دنړۍ دهري ژبی بنسټ جوړوي ° په دې توگه په کاردي
(په پښتو لیکل) داسی مانا کړو چی یو څه په پښتو ژبه لیکل کیږي نه په بله ژبه ا (پرپښتو لیکل)
دامانا چی دپښتو په باره کی څه لیکل کیږي نه دبلی ژبی یابلی موضوع په باب همدارازپرکابل
اوسیږم دامانا چی دکابل دښار په شاوخواکی اوسیږم اوپه په کابل کی اوسیږم دا چی دننه
په کابل یا کابل ښارکی ° په پارسی کی هم د (به) او (بر) توپیر په زړه ادب اواوسنی ایرانی
ادب اولیکنه کی پوره څرگند دي ° د (پر) بل اوستربل (سربیره) دي چی ناکره ډول یی (برسیره)
هم لږو ډیر دود لري ° دغه اوستربل هیڅکله نه غورځول کیږي که نه مانایی له (باندې) سره
گډ یږي اویوکیږي ° پردوییکو مځري (اداتی ضمیر) - پري - پرځای کارول چی په کندهاري
گړ دودواړه لري هم دیاد شوو ژبنیو ارونو له مخی په ټولیزه لیکی پښتو کی دمننی وړنه بریښی °
همداسی تر اوبه هم درواخله چی له ترې اوپی یاپري سره گډول یی گډوډي پیښوي °

٣- تر - چی د (پر) بډ (مقابل) سربل دي هغه داچی ترهرڅه دمخه
دپرغوندې د (باندي) نه چی د (لاندې) اند ښندي له دي کبله یی لومړي اوستربل (لاندې)
دي چی هیڅکله غورځیدنه نه منی لکه (ترمیز لاندې) چی (ترمیز) بیا گرد سره بله مانا ښندي

اوهغه تونی او مهالی پیوستون دي لکه تر ننگرهاره ـ ترمازیگره چی اوستریل (پوري) یی هرو مرو ملتیانکوي • دریم اوستریل یی (وروسته) یاراوروسته کړول دي لکه ترغرمی وروسته یاترغرمی راوروسته ـ ترځلمی وروسته زما واردي •••• له څلورم اوستریل څخه (ځنی ـ نه) سره پرتلیز جاج ښندي لکه تر تاڅخه زه ښه یم چی دغه اوستریل په غورځیدو (ترتا) هم سم راځی • د دي پرځاي چی دنورو ژبو په پیښو ـ سزنی کال دپروسز کال په نسبت ډیرورندي (بارنده) دي ـ ووایو (سزنی کال ترپروسز کال ډیرورندي دي) لنډ او کره راځی • (تر) په دغه پرتلیزه (نسبتی یاتدرجی) مانا له (له) سریل سره هممانیزکیږي خوداچی (له ـ څخه) ترهر څه دمخه وتون پیر (منشایی) حالت څرگندوي • نو بیاهم له (تر ـ څخه) سره یی گډول په کارنه دي ـ یالږ ترلږه (تر تاځنی) وکارول شی • له تولوییکی (اضافت توري) ـ د ـ سره یی ونجول هم یی ځایه دي لکه ننگرهاریان چی وایی : دکوره په ساراخوښ یم ـ دویشه په تالا • خوداچی په گډه کره لیکی پښتو کی دلته دپرتلی مانا موخه (مطلوب) ده نو (ترکوره پرسارا خوښ یم ـ ترویشه پرتالا) تري سم بریښی اوله کوره پرسارا خوښ یم ـ له ویشه پرتالا) دومره تیک اوغوره نه راځی •

دغه راز په ختیزو گړ دودوکی د (په) ـ (تر) ـ (له) پرځاي هم زیاتره (د) کارول کیږي چی دا هم له ژبنیو او معیاري ارونو څخه چپ بلل کیږي لکه دځلمی پسی ـ دننگرهار پوري ـ دمیزلاندي ـ دننگرهار نه ـ دځلمی سره دکندهاره راغلم ـ دپښتو ټولنی دلغاتو دڅانگی دخوا ـ دتانه یا ستانه زه ښه یم •••• کره ډول یی : په ځلمی پسی ـ ترننگرهارپوري ـ ترمیز لاندي ـ له ننگرهاره له ځلمی سره له کندهاره راغلم ـ د پښتوټولنی دلغاتو دڅانگی له خوا ـ ترتا (څخه) زه ښه یم •••••

٤ـ له ـ چی له (څخه ـ نه یا ځنی) اوستریل سره له اره دیوه نوم (وتون پیر) منشایی حالت څرگندوي لکه له سیستانه یا له سیستان څخه یا له سیستان نه اویا له سیستان ځنی • په دویمه (نسبتی) مانایی کارول یی دومره کره نه بریښی لکه پاس چی ورته گوته ونیول شوه •

(له) له دويم اوستريل (سره سره د ملگرتيا (معيت) جاج ښندي لکه له ځلمی سره ترهرات پوري ملگري وم اود اسی نور° په دغه مانا ين اوستريل (سره) پر (څخه يا څه) اړول له گډ ي کړه ليکی پښتو څخه چې بربښی په بله وينا بايد (له ځلمی سره) او (له ځلمی څخه) په يوه مانا ونه کاړول شی ° دريم اوستريل يی (وروسته) دي چې معالی او تونی کړول (قيد) ورسره جوړ وي او له (تر) سره يی پازه يو کيږي لکه لرغرمی وروسته کورنۍ خو چې البته (ترغرمی وروسته تري) زياتغوره بربښی په بله وينا (وروسته) د (له) نه بلکی د (تر) معياريا وسرتريل دي ° خلورم اوستريل يی (راهيسی) دي چې يو معالی کړول رسره جوړ وي لکه له پروسږ کال راهسی ــ له ډيرو کلو راهيسی ــ له پخوا راهيسی ° ° ° ° ناکره يی ° د پروسږ کال راهيسی ــ د ډيرو کلو راهيسی ــ د پخوا راهيسی ° ° ° ° ° ° په دي توګه (راهيسی) ديوه او ستريل په توګه بايد په (نوم) سيده ونښلول شی اويل کوم زياتی اوستريل يا بل ډينس توک تري د مخه نشی په بله وينا (له ډيرو کلو څخه راهيسی) نه بلکی (له ډيرو کلو راهيسی) وويل شی (د ډيروکلو را په ديخوا) هم مانيز اندول دي خود پارسی (ازسالهابااينطرف) ټکی پرتېکی او ونه د ه اود ومره روانی اولنډ ون هم نلري ° د (له) پنځم اوستريل (پرته) دي چې د (سره) په او مقابل جاج ښندي دامانا چې د اړوند نوم ملگرتيا نه چې بيلتيا اونشتوالی څرګندوي لکه له بللیو پرته نابللی هم راغلی وو °

٥ــ يو ــ چې زياتره د (نا) غوندي يوستاينومېز (صفتی) مختاړي دي لکــه يی کوره ° خولږ وډيره سربيره ځانګړتيا هم لري او هغه هم زياتره د (له) په ملگرتيا او د يوالحينی اوستريل (څخه ــ نه يا څخی) په د رلودلو ° لکه يی له تا څخه ــ يی له هغه څخه چــی ــ ــی له تا او يی له هغه هم ويل کيږي مګر (يی، تا) ويل کيږي او (يی هغه) نه °

ي ټکــ

٦ــ و ــ يو پخوانی سربيره دي چې له (ته) او ستريل سره ورتلون پيدا (مفعول له حالت) څرګندوي چې پخوانی څرک يی په لويديزو (کندهاري) ګړ دود و کي پاتی دي اونورو تولو ګړ دود ولې لاسه ورکړي او د هغه او ستريل (ته) يوستوي کاروي لکه ؛ وتاته وايم ــ وښوونځی ته څم ° ° °

د منځنۍ دوري شاعرانو هم ډیر کارولی اولا کله یی د ویم ځلی ترنوم وروسته هم راوړي او اوستربل (ته) سره بیا هم پتلیز (جوخت) نښلولی لکه رحمان بابا چی وایی : خدای وماوته ښکاره کړ هغه لمر بیا ... (به) ... بی اوستربله هم کارولی دي لکه : پیرمحمد کاکړ چی وبلی دي : سوز گداز د محبت هسی ومارا . په هره توگه د ویونکو د ډیر ښت په لاسوند تر (و ـ ته)، (ـ ته) زیات معیاري ارزښت لري .

۷ـ د ـ که څه هم په ټولیز ډول یو تولوییکی دي خوله (غوندي) او داسی نوروتشبیهی اوتونی وییکو سره د سربل په توگه هم راځی خوبیا هم د تولوالی ځانگړتیا ښیی لکه د ځلمی غوندي پـه رنگ ـ پرڅیر ـ په ډول ـ په راز ـ په توگه ـ لپاره د کورد نښه ـ د کورد باندي ..... چی ترکورد ننه ـ ترکور د باندي بله مانا ورکوي . چاپیر ـ چارچاپیر یا گرد چاپیر ـ تاوراتاو ـ کښته ـ پورته ـ پاسی ... هم د تر اوستربلونه دي . پرپورتنیو وییکو سربیره . ځینی نور راز راز وییکی هم شته چی په غونډ له کی بیلا بیلی پازي لري په دوي کی د ځینو پازي صرفی بلل کیږي او ځینو نحوي او ځینو د واړه ډوله . صرفی لکه (به) چی د نا بشپړ اونا خبري (لکه گومانی) او او ستر مهال کړ یو ټوک جوړوي یا (نه) او (مه) چی کړ نفی یا نهی کوي . یا (که) چی اړوییکی دي . غونډ له پوهیزیا نحوي لکه (نه) و منفی ځواب په توگه ـ (هو) د مثبت ځواب په توگه. چك (ولی نه) هم ځواب په توگه ـ (سره) په صرفی ډول لکه سره تلل ـ په نحوي ډول یا په بله وینا د اوستربل په توگه لکه له ځلمی سره ولاړ ـ (بیا) د کړول او هم اړیکوییکی په توگه ـ (مگر) یا (خو) د اړیکوییکی په توگه ـ کورټ رټ ـ بیخی ـ چور ـ هډو ـ سوچ ـ چورلټ ـ ورټ ـ بیخپوره ـ لا ـ ان ـ هن ـ ایله ـ په متهی یا متهی ... د مرستیالو کړولونو په توگه ـ و ـ یه ـ یا ـ آ ـ او ـ ای د بلن وییکو په توگه ـ (ایا) د پوښتوییکی په توگه . پاروییکی لکه اخ ـ اوخ ـ اوش ـ اوه ـ آه .... چی د ناڅاپی خوښی یا ویري او داسی نور هیجانونو (پاریدنو) څرگندونه کوي چی تر ارو او مرستیالو توکونو وروسته د غونډلی د توکونو د ریمه ډله جوړوي او پرخپل ځای څیړل کیږي .

وښا وانښتی یا تکیه کلامونه لکه ماسکه ــ غوله یا غولی ــ مړه ــ یامړ ي ــ غوچی ــ

چی دي ... کاکا گوري ــ ماما گوري ... هم لــزو ډیر په یوستوو او ترښتی ویکو کی راځی .

چی د پا ربلن ویکو یا پاروییکو غوندې نومونس پازه نه پرځاي کوي بلکــی راز راز ننګیرنی (احساسات)

خرګندوي .

۳ــ کــــــړاوونـــــــه

۱ــ کړځه رازګړ دي؟ څه او څنګه څرګندونه کوي ؟

۲ــ مصدر له کړ سره څه اړیکی لري اودغه نومونه (اصطلاح) دځه لپاره کارول

کیده او کارول کیږي ؟

۳ــ دیوه کړ بنسټ او اساس څه څیز دي اوپه څه نامه یادیږي ؟

٤ــ بو اوړ ون موندلی کړ څومره توکونه اوچارونه د رلوداي شی ؟

٥ــ مثال پرځو ډوله دي ؟

٦ــ کړ نوزي څه ته وایی اوپرځو ډوله دي ؟

۷ــ وګړي او ګڼــه سره څه توپیر لري ؟

۸ــ چاروال ــ بیچار او منځوال کړ په یو یو ساري (مثال) راوپیژنئ !

۹ــ کړ نوم یا حاصل مصدر څه ته وایی او څو ډوله جوړیداي شی ؟

۱۰ــ توانی کړ څنګه جوړیږي ؟

۱۱ــ بشپړ (مطلق) او نابشپړ (غیر مطلق) کړ سره څه توپیرلري ؟

۱۲ــ لړاوند کړ په یو یو ساري وښیاست !

۱۳ــ کوزاتیف یا لیزند چار کړ څه ته وایی ؟ له یوه ساري سره یی وښیاست !

۱٤ــ کړول څه ته وایی ؟

۱۵ــ د اوروسته غونډه ونه یا عبارتونه کوم کوم ډول کړ ولونه دي او په غونډه لوکس څه پازي پرځاي کوي ؟

په سیرانه ــ په ځغرده ــ په ډاګه ــ ډانګ پیلی ــ هرو مرو ــ هیڅکله ــ ژر ــ ژرژر ــ وړو ــ په وړو ــ په زور ــ په خوښه ــ په ناخوښه ــ وروروړو ــ دلته یا دلی ــ هلته یا هلی یاهله ــ دننه ــ دباندې ــ دلاندې ــ شاوخوا ــ ګرد چاپیر ــ دپاسه ــ کښته ــ له کښته ــ پورته ــ له پورته ــ په لوي لاس ــ په غلا ــ په پټه ــ په بډکاره ــ په څرګنده ــ په غوړ اوږ یاپه غوړ مالی ــ په ټیټو سترګو ٠٠٠٠ نن ــ پرون ــ وړمه ورځ ــ سبا ګال ــ پروسبا ګال ــ کال ته ــ بل کال ته ــ پسرلی ته ــ دشپې ــ د ورځې ــ غرمه ــ مازیګر ٠٠٠٠

٤ــ کړاووونه (تمرینونه)

۱ــ سربل څه ته وایی او او ستربل څه مانا ؟

۲ــ پښتو ټول څو ستر بلونه او اوستر بلونه لري ارهغه کوم دي ؟

د دې لاندې غونډلو تشریحایونه په سمو سربلونو او اوستربلونو ډک کړي ؟

۳ــ ٠٠٠ کابل کې دژمې سارې وي ــ ٠٠٠ زړه به دي یوه وي ــ درییښه به شې بله ــ زه ٠٠٠ لیکنې سره لیکل کوم ــ زه ٠٠٠ انګلیس ٠٠٠ روس ښه غږ یداي شم ــ کوچیان داوړي ٠٠٠ کابل وي او دژمې ٠٠٠ ننګرهار ٠٠٠ اوس ــ زما په کالیو ٠٠٠٠ مه خانده ! سپین ٠٠٠ تور اوښتل یابدلیدل ــ اوبه ٠٠٠ ډانګ بیلول ــ ٠٠٠ زده کړې پسې ملا وتړه ! په تا ٠٠٠ ارمانلري ــ زه کور ٠٠٠ پنځو بجوځم ــ ٠٠٠ غره باندې واوره اوري ــ ٠٠٠ ډیوي لاندې تیاره ده ــ ځلمې سربیره زمري هم راغې ــ ٠٠٠ ځلمې پرته نور ټول ولاړل ــ ٠٠٠ ټولګی دننه ــ ٠٠٠ ټولګی دباندې ــ سپوزمې ٠٠٠٠ منځ د اسمان راغله ــ یاخوخوب نشته یا خوما ٠٠٠ نه راځینه ــ که غم ٠٠٠ غمه شرمیدلای ــ ٠٠٠ مابه نه راتلای ځولې ځولې غمونه ــ ٠٠٠ تور ټوپک ویشتلی راشې ــ

دبی ننگی اوازدې مه راځه مینه ! دیار ... پاره درمسال جاروکومه ...
گودر سور سالو ښکاره شو - اشنامی سر ..... وطن کیښود - .....
تار دزلفو به کفن ورته گڼې مه - که زما عمر .... ضرور وي تیر به شینه .... لویو غرودخداي
نظردي ... لمن .... یی زیړ گلونه - که ولاړ شی ... بلخه درسره ده خپله
برخه - گلاب ... اصله شاهزاده دي - رامبیل چامبیل یی اردلیان ورسره ځینه - ....
گودر څه کانه راوشوه - چی کشره خوریی ورسره گودر ... ځینه - ما .... په سرو زرومنظور
دی - که دجانان ... لاسه توري خاوري وینه - خپه پري نه یم ... جانان سره به یمه -
.... خطارو سترگودي جارشم - چی ... ژړاشی مرغلري توبوینه - ... وچه ډاگه
دلونگو بوي راځینه - زما ... تشه خند استه - مابه جانان ... لاس نیولی گرځوونه
که شینکی خال می دچړو ... څوکو ځینه - چی ... سنگره پورې زه درسره ځمه
سپوزمی ... دي څه احسان دي - زما جانان ... دیواله سیوري ته ځینه .

دپښتو گړونو (مور فیمونو) دډلبندی انځور لیک



د ریمـــــه برخـــــه

غونډ له پوهه (نحـــو SYNTAX)

لکه څنګه چې دغږ پوهې د وینې یوون (د بحث واحد) غږ دي او دګړ پوهې هغه ګړ دي. نو دغونډ له پوهې د وینې یوون غونډ له (جمله) ده. په بله وینا غونډ له پوهه د غونډ لو ـ دغه راز دغونډ ونو (فقرو) او ګڼ نو (ایدیمونو) جوړښت او ډولونه ترکتنې او وینې لاندې نیسي.

غونډ له (جمله):

غونډ له دګړ ونو او ویونو یو داسې اوډ لې غونډ (کل) دي چې یو بشپړ جاج (مفهوم) او موخه (مطلب) پرې پوهول کیږي. له بله پلوه دا چې خبري یا وینا په غونډ لو کیږي او بې غونډ لو خبري او وینا نه تر سره کیږي. نو داسې یې هم پیژندلای شو: غونډ له دخبرو ـ وینا یا ګړ هار هغه بشپړ خپلواکه ناشنونې رغاونه ده چې تري بله ستره رغاونه نشته. په بله وینا: غونډ له دخبرو او وینا تر ټولو لوي یوون (واحد) دي.

دغونډ لې جوړښت:

غونډ له لومړي پړ دوو برخو یا غونډ ونو (فقرو یا ګروپونو) ویشل کیږي چې یې یوه ته نوموال (اسمي) او بل ته کړوال (فعلي) غونډ وایي. دپازي له مخې نوموال غونډ ته ایښې (مسندالیه) او مبتدا ـ او کړوال غونډ ته ایښونې (مسند) یا خبر هم ویل کیږي.

په ایښې کې یا کړند له خپلو اړوندو سره راځي (که په چاروال کړ اړه ولري) او یا کړي له خپلو اړوندو سره (که په بیچار کړ اړه ولري). په ایښونې کې کړ او کړي دواړه له خپلو اړوندو سره راځي. په دې آړ چې کړ چاروال لیږندوي که نه یوائې کړ له خپلو اړوندو سره راځي. دکړند او کړي اړوندونه ستاینوم ـ شمیرنوم ـ تولنوم (مضاف الیه) ـ تولوییکې ـ پیژندوییکې او داسې نور ضروري وییکې کیدای شي او دکړ هغه کړولونه (قیدونه). په دې

توگه‌ټول لوي اووارِه یا خپلواك (ازاد) اوناخپلواك یا ناوړیدونی گړونـه اوتوکونه په یوه غونډله کی راغونډیداي شی اود همدغو توکونو په کموالی اوزیاتوالی سره وړي یا لوي غونډلی منځ راځی ۰

دیوې غونډ لی دشتوالی لږه کی اړ یا بنیادي ټوك گردان شوي کړ دي ۰ که هرڅومره ژبنی توکونه سره لږ ی شی اوکړونه لري ۰ غونډ له جوړ والاي نشی اوپه سرچپـه ډول پخپله گردان شوي کړ دیوي غونډ لی لږ ه کی اندازه ده لکه خورم ـ څښم ـ ځم اوداسی نور ۰ ځینی نادوده یا غیرعادي غونډ لی چی کړ یی غورځی اوبیا هم غونډ لی بلل کیږي هغـه بلن غونډ لی یا ندائیه غونډ لی دي لکه : یه پښتیانا ! یه ځلمیه ! دغه راز ـ هو ـ نه ـ ښه څنگه ـ ولی اوداسی نور ـ ښتنو مځري هم نیمگړي یا لنډ ي کړ شوي غونډ لی دي هغه هم دخبرو اترو اودیالوگ په ډ ول لکه چی یوووایی : ته ناروغ یی ـ بل داسی ځواب وایی : هو ـ نه ـ ولی ـ څنگه اوداسی نور ۰

اوس دیوي پوره ساده غونډ لی څو بیلگی وړاندي کوو :

۱ـ	ځلمی	راغـــی
	ایښـــی	ایښونی
۲ـ	د ځلمی ورور	راغـــی
	ایښی	ایښونی
۳ـ	د ځلمی مشرورور	نن کابل ته راغی
	ایښی	ایښونـــی
٤ـ	د ځلمی یوورور	نـن له کندهار څخه کابل ته راغی
	ایښـــی	ایښونـــی
٥ـ	ځلمـــی	لیك کاږي
	ایښی	ایښونـــی
٦ـ	یوهلك	یو لیك کاږي
۷ـ	یولیك	کښل کیږي
	ایښـــی	ایښونـــی

په لومړۍ غونډ له کی هم ایښی (مسندا لیه) له یوه ساده کړند څخه جوړ وي او هم ایښونی له یوه ساده کړ څخه . په دویمه غونډ له کی ایښی له داسی کړند (ورور) څخه جوړ دي چی (ځلمی) ورسره د تولنوم (مضاف الیه) او (د) ورسره د تولوییکی په توگه اړوند (متعلق) بلل کیږي خو ایښونی لا هماغسی یو یو ستوي کړ (راغی) دي . د دریمی غونډ لی د ایښی کړند (ورور) یو ستاینوم (مشر) — یو تولنوم (ځلمی) او یو تولوییکی (د) د خپلو اړوندونو په توگه له ځان سره ملگري کړي او په ایښونی کی کړ (راغی) له ځان سره یو مهالی کړول (نن) او یو تونی کړول یا په بله ژبه مفعول له (کابل ته) د خپلو اړوندونو په توگه ملگري کړي دي .

د څلورمی غونډ لی په ایښی کی کړند (ورور) له ځان سره یو پیژند (یو) د (حرف تعریف) — ځلمی د تولنوم او (د) د تولوییکی په توگه ملگري کړي او په ایښونی کی یی کړ (راغی) یو مهالی کړول (نن) او دوه تونی کړولونه (له کندهار څخه) او (کابل ته) په خپلی اړوندۍ کی لري . د لومړي تونی کړول په درو توکونو کی (کندهار) د سربل او اوستربل (له — څخه) په ملتیا وتونپیر (مفعول منه حالت) موندلی دي او په دویم تونی کړول کی (کابل) د اوستربل (ته) په ملتیا ورتلونپیر (مفعول له حالت) .

سرله پنځمی څخه د پورتنیو څلورو غونډلو پرخلاف د نالیزند (لازمی) کړ ځاي لیزند (متعدي) کړ نیسی او په دې توگه یی کړي (مفعول) ته هم اړتیا پیدا شویده . د پنځمی په ایښی کی کړند (ځلمی) بیوستوي راغلی او په ایښونی کی یی کړ (کاړي) له کړي (مفعول) سره ملگري شوي او په شپږمه کی ایښی د تولنوم (عام اسم) په توگه له هلك سره د پیژندنی او ټاکنی لپاره ورسره پیژند (یو) هم ملگري کړي دي او همداراز د ایښونی له کړي (لیك) سره هم یو پیژند . د لومړي پیژند پرځای بل ډول پیژند (څوك یا کوم) او د دویم پیژند پرځای بل پیژند (کوم) هم راتلای شی په بله وینا (یو هلك یو لیك کاږي) (څوك یا کوم هلك کوم لیك کاږي) سره څومره ییز او څرنگیز (کمی او کیفی) توپیر نلري .

اوومه غونډه له بیا دپنځمن او شپږمن غونډ لی غوندې چاروال لیږندکړنه بلکی بیچار لیږندکړ لري په دې توګه یې کړي (لیک) له خپل پیژند (یو) سره اینس جوړ وي او (کښل کیږي) دیوه ټرښتی کړ په توګه اینبونی • دغه راز کړي (لیک) چې دکړندځاي نیسی او کړ وړوري اړه (اسناد) پیدا کوي • نوړه دودیزه نومونه یې (نائب فاعل) بولی • دادي دپورته څرګند تیالپاره دځو بیلګو غونډ لو انځور لیک (ګراف) وړاندي کوو :

١ــ نالیږنده غونډ لـــه :



٢ــ چاروالـه لیږنده غونډ له :



۳ـ بیچاره لیزند : غونډ لـــه :



دغونډ لی رغنده توکونـــــه :

پاس مو پردوو برخو (ایښی او ایښونی) دغونډ لی ویشنه وکړه دلته غواړو په ټولیز ډول یې ټول رغنده توکونه (گړونه) ترکتنی لاندي ونیسو او ډهغو دڅومره والی لهمخی دغونډ لی جولیز (شکلی) ډولونه ونوموو . دغه توکونه ټول ازاد یا خپلواك گړونه اولـــه ناخپلواکو یا تړلیو گړونو څخه یواځی ویکی را اخلی . البته تاړي دازادو گړونو دنه جلا کیدونکو ټوکونو (اجزاوو) په توگه دغونډ لی سیده توکونه (عناصر) نه بلل کیږي په دې توگـــه یې که ازاد توکونه او ړون موندلی ـ بیلښـــتی (اشتقاقی) او تړښتی (ترکیبی) هم وي دغونډ له پوهی (نحوي) له پلوه بیاهم دشننی وړ نه دي بلکی هریو دغونډ لی یو یواځینی ټـــــوك (جزء) یا توك (عنصر) او یا یوون (واحد) گڼـل کیږي لکه : خورم ـ خورو ـ خوړلـی ـ خوړونکی ـ خوړل ـ ورکوم ـ ورکوو ـ ورکړي ـ ورکوونکی ـ ورکول .... زمري کیدل ـ کـــول ـ لاسته راوړل اوداسی نور . دساري په ډول (زه خپلو شاگردانو ته په درنه سترگه گورم) .

غونډې له په نحوي ډول اته توکيزه بلل کيږي چې ځلورين (زه ـ ته ـ په ـ سترګه) ساده توکونه (ګرونه يا ويونه) دي او ځلورين (خپلو ـ شاګردانو ـ درنه ـ ګورم) داوړونې (تصريفي) تاړو په درلودلو سره اوړونې توکونه (ګرونه يا ويونه) دي ۰ يا (ځلمي يو کتاب ترلاسه کړي دي) په غونډه له پوهيز ډول يوه پنځه توکيزه غونډه له ده چې يې (ځلمـــــي ـ يو ـ کتاب ـ دي) ساده توکونه (ګرونه يا ويونه) دي او (ترلاسه کړي) يو ترښتی توک يا ګړاويا وين ۰ ځکه له شننې سره يې اوسنې يواځينې مانالده منځه ځې او ترښتی چاج له لاسه ورکوي ۰

دغونډې لې توکونه په لاندې ډول ډلبندي کيږي :

۱ـ اړياخپلواك توکونه چې ټول ازاد ګرونه را اخلي ۰ نومونه (ځيزنومونه ـ ستاينومونه ـ شميرنومونه ـ نومځري) ـ ګرونه (ار ـ مرستيال يا ساده ـ بيلښتی ـ خواپرخوا ـ ترښتی) او کړولونه (ار او نا ار) دي ۰

۲ـ مرستيال توکونه ۰ چې په دوي کې ناوړيدونې ګرونه (ويکی) راځي لکه اړيکو ويکی ـ تړويکی ـ سړيلونه ـ او ستړيلونه اوداسې نور ۰

۳ـ په دريمه ډله کې انګيرويکی ـ پاروويکی ـ بلن ويکی اوداسې نور راځي لومړي ډله (ارتوکونه يا خپلواك توکونه) دموضوع څرنګوالی ـ څومره والی ـ چاروالی (فعاليت) اوداسې نور جاجونه (مفهومونه) نوموي اويا ورته نغوته کوي يا په بله وينا هم ويږه (لغوي) مانا ښندي هم پښوييزه دغه ډلـــه ارو کړولونه پرته ټول اوړيدونې ګرونه را اخلـــي ۰

دويمه ډله (مرستيال توکونه دنومونې او نغوتنې پازه نه بلکې يواځې پښوييزه مانا اوچارلري ۰ مرستيال ورته په دې واين چې دغونډې لې دارو توکونو ـ غونډونو او غونډلو ترمنځ اړيکی ټينګوي ۰

په دريمه ډله (پاروويکی ـ بلن ويکی ۰۰۰) دنومونې پازه نلري او ډيلا ډيلو ځانګړونې څرګندونه کوي پاروويکی لکه دخونې (واخ ـ وخ ـ اوخ ۰۰۰) يا

د خپگان انديښنې ار دوند (واي ـ ري ـ اه ـ اوه ـ ينـنن ـ وش ـ الا ياهله ـ آه ٠٠٠)

اوداس نوري هيجانـي جفـ سوري او آوازونه ٠ بلن ويـکی لکه د خاروبو ـ لخاورو او مرغانو

ژبانی او هـغوني يارنـي اوشوني لپاره لکه اوښه يا احه ! کښې ! تښه ! نورونه ٠٠٠ وي !

کج کج ! گوري ! ورکيش ! پيش پيش ـ خخـخه ٠٠٠ خې ! خکاوک ! گور گور ! (خروته)

تقطيعه نشته ٠٠٠ مگر انگيـزيـکی بيا د نومونې پازه تر سره کوي لکه بع ـ بم ـ بوـغوـگو

اوداس نو ربې مانا آوازونه چې د طبيعي پيښو په بنـه له خپلې اوڅې ٠ په دوي کې ځينو

د اوږو ټيو ترکنو (خيز نومونو) ارزښت هم پيدا کوي ، وي لکه د رز ـ خرز ـ ٠٠٠ (د غوږيدو آوازونه) ـ

ويښ ـ نوروښ ـ له باـ له رب ٠٠٠ (د وهنې آوازونه) اوداس نور (د خيز نوم له ولونـه

د ي هم وګڼل شي) .

اوه ون (ترتيب)

اوه ون د امانا چې پدې پوه غوندې له کې بيلا بيل يا د شوي وغندې توکنه سره خنګه

اوه ل (ترتيب) دومې ٠ خنګې د ويل چې په لومړي د ې برخيز ريشکې ديږي غوندې لې نومونه

غوندې (اينښې ، پاپيل اوهامبندا) د خنګه ارګړ وال غوندې (اينښې يا پاي او يا خبر) دروسته ،

راځي ـ کوچنۍ نغمه هر يوه غوندې کې د بيلابيلو توکنو تاکنه آوازونه د هرې ژبې پوه بيلوونکـي

خانګړتيا بلل کيږي ٠ لکه خنګه چې ژبه خو تيرو بيلګه غوندې لرې خه ناخه ولېدل چې په لومړۍ

برخه (اينښې) کې که يونالیزند يا چاروال ليږند کړوالا غوندې له وي ٠ کړي خانته يا له خپلو

اړوند و توکنو سره راځي او په اينښو کې کړ که نا ليږند اويا بيچار ليږند وي او نور اړوند ونه

لکه ولينه ـ پيژند ونه ـ تولنو مونه ـ شميرنومونه او راز راز يې کې . په اينښو کې کړند تر تولنو

اړوندنيو نومونو راځي ، يعنې تر هغه کړنې توکي سره کونکې لکه پيژند ـ ستاينوم يا شميرنوم

اويا تولنوم او يا د هغه تر څنګ تولنيزې راځې لکه په دې بيلګو کې

۱ـ یو سړي ـ راغی یا : یوه سړي ـ ډوډۍ وخوړه ۰

۲ـ یو غټ سړی ـ راغی یا : یوه غټ سړي ـ ډوډۍ وخوړه ۰

۳ـ د ځلمی مشرورور ـ ولاړ یا : د ځلمی مشرورور ـ وینا وکړه ۰

٤ـ د ځلمی دوه ورونه ـ ولاړ ل یا : د ځلمی دوو ورونو ـ ویناوي وکړي

٥ـ د ځلمی دوه مشران ورونه ـ ولاړ ل یا : د ځلمی دوومشرانو ورونو ـ ویناوي وکړي ۰

٦ـ زما یو کشرورور ـ کورته ولاړ یا : زما یوه کشرورور ـ واده وکړ ۰

په ایښونی کی کړ (آریا مرستیال) تر نورو توکونو وروسته راځی که دغه کړ له دووغبرگو (آر او ناآر) کړ څخه جوړ وي نو آر تر مخه او نا آر (مرستیال) وریسی بیخی پاي ته راځی ۰ تر کړ (اریا مرستیال) دمخه کړي (که کړ چاروال لیږندوي) او کړي بیا له خپلو اړوندونو وروسته ځاي نیسی ۰ کړ ول (که چیري وي) زیاتره تر کړي دمخه راځی خو که دوه کړ ولونه په یوه ایښونی کی راغلی وي او یو مهالی اوبل تونی یا بل ډول وي نوزیاتره مهالی له تونی یا بل کړ ول اوکړي څخه مخکی کیږي ۰ تونی یا بل کړ ول بیا کیداي شی تر کړي وروسته ځاي ونیسی لکه په دي لاندي غونډ لو کی :

۱ـ زمري ـ نن ازموینه ورکړه ۰

۲ـ زمري ـ (نن) (په بریالیتوب سره) ازموینه ورکړه ۰

۳ـ زمري ـ (نن) (له خپل ورور سره) (له کندهاره) (کابل ته) راغی ۰

په پاسنیو غونډ لو کی (نن) مهالی کړ ول دي (په بریالیتوب سره) او (له خپل ورور سره) څرگندنی او (له کندهاره) او (کابل ته) تونی کړ ولونه دي ۰ همداراز (ازموینه) او (خپله ازموینه) کړي (مفعولـــونه) بلل کیږي ۰

دغونډ لی بشپړ اند توکونه :

سربیره

یوه غونډ له پریورتنیو نومول شویو توکونو ځینی بشپړ اند (متمم) توکونه هم لري لکه اخج ـ اهنگ ـ بیلتون اوپیوستون اودغونډ لو دپاي غاړه (لحن) ۰ دغږ پوهی له مخـــی

دغه ځانګړ تیاوي (خصوصیات) دویمنی اوازونه (فونیمونه) بلل کیږي چی دلومړیو یا ارواوازونو (لکه ا ـ ب ـ پ ـ ت ـ ټ ... ي) غوندې دګړهار په بهیر کی دپرله پسیو الی یاتسلسل (لینیال) لوښه نلري او دغونډ له پوهی له مخی هماغسی مانیز او چاریز (تعاملی یافنکشنال) نقش او اغیز لري لکه ارتو کونه (ګړونه) ځکه دغونډ لو مانیز اوپښوییز ډولونه سره توپیروي ۰ نوله دي کبله خج ـ اهنګ ـ بیلتون او پیوستون اودغونډ لو دپاي غاړه (لحن) دغونډ لی بشپړ اند توکونه بلل کیږي ۰

۱ـ اهنـــــګ :

دغونډ لو اهنګ څلور ډوله دي : خبري اهنګ ـ پوښتنی اهنګ ـ هیښنی اوبلنی (تعجبی اوندایی) اهنګ او امري اهنګ ۰ په بله وینا خبري ـ پوښتنی ـ هیښنی اوبلنی اوامري غونډ لی سره دخپلو ځانګړو اهنګنـــو په مرسته توپیریږي ۰ (۱)

۱ـ دخبري غونډ لی اهنګ اوار پیل کیږي اوبیا غورځیدلی پروت پاي ته رسی

لکـه : زمري ـ راغی ۰

۲ـ دپوښتنی غونډ لی اهنګ ټیټ پیل مومی او بیا نیغ شوي پروت پاي ته رسی

لکـــه : زمري ـ راغی ؟

که په سرکی یی پوښتنو مځري یا پوښتوییکی راشی بیانو اهنګ په سرکی لوړیږي ۰

۳ـ دهیښنی ـ بلنی ـ ګومانی اوداسی نورو غونډ لو اهنګ کابو یوراز راځـــی اوهغه داچی ټیټ پیلیږي بیا پورته ځی اوپه پاي کی ریب پاي ته رسیږي لکه :

زمري ـ راغـــی !

۲ـ خـــج :

لکه څنګه چی په غږ پوهه کی ورته نغوته وشوه ۰ غونډ له ییز خج هماغه پیاوړي خج دي چی دنورو ټوکونو په ترځ کی یی پریوه راشی اوهماغه خجن ټوك تر نورو ټوکونو زیات موخن

۱ـ دلته له پوهاند الهام څخه الهام اخیست شوي (روشی جدید د رتحقیق د ستور زبان دري ۱۴۲ ـ ۱۴۴ مخونه ـ همداراز د زیار د ژبپوهنی بنسټونه هم دپاملرنی وړ دي ۰

(مطلوب) ښيي • نور ټوکونه یا هیڅ خج نلري اویا دهماغه یوه پیاوړي خج تر اغیز لاندي کمزوري ویل کیږي • په دي ډول دري رازه غونډ له ییز خجونه سره توپیروو • پیاوړي — لږ پیاوړي او کمزوري لکه داولمیر په دي سند ره کی (ستاد سترگو بلا واخلم بیا دي سترگی ولی سري دي) پر (ولی) پیاوړي — پر (واخلم) لږ پیاوړي او پر (سترگو) کمزوري خج اوریدل کیږي •

۳— بیلتون او پیوستـــــون :

بیلتون او پیوستون دامانا چی دغونډ ویا غونډ لو دپاي وییونه سره پیوست اوبی لارغه (بی مکثه) وویل شی اویا سره ناپیوست په لارغه (مکث) • په دي توگه که کله دهماغو یوراز غونډ ویا غونډ لو ترمنځ بیلتون پرپیوستون بدل شی اویا سرچپه • نو هغه جاج او مانا یی سره نه توپیریږي چی دویونکی موخه او مطلب وي • داچی دغه بیلتون او پیوستون یواځی دنحوي یوونونو (واحدونو) ترمنځ نه بلکی دغزپوهیزو هغو ترمنځ هم نقش او اغیز لري نودخج آهنگ اوغاړي (لحن) غوندي بیلتون او پیوستون له اره دویمی اوازونه (فونیمونه) دي • بیلتون او پیوستون دلیکونکی په دي کړی (بیت) کی ښه تراجوتیږي :

کړي که بخشش دوصل رازیاره — زړه سوزول پرما ملنگ ښـــــــه دي •

دلته که (ز) له مخنی وییی یاپه بله وینا له مخنی اواز (الف) سره پیوست وویل شـــی مانا یی داسی راځی چی (یه یاره !) که ماته (دوصل راز) را بخشش کړي اوکه نه (ز) له (یاره) سره پتلیزه وویل شی یا په بله ژبه د (الف) او (ز) ترمنځ بیلتون او — لارغه راوړل شی بیا دامانا ښندي چی (یه زیاره) که ماته (دوصل بخشش) راکړي په دي توگه که دمخنی مانا موخه وي • په کار دي د (راز) او (یاره) وییونو یاپه بله وینا د (ز) او (ي) ترمنځ په وینگ (تلفظ) کی لارغه او بیلتون او له بله پلوه د (الف) او (ز) ترمنځ پیوستون راشـــی • او که وروستی مانا موخه وینو په کار دي د (را) او (زیاره) یاپه بله وینا د (الف) او (ز) ترمنځ لارغه اوبیلتون اوله بله پلوه د (ز) او (ي) ترمنځ پیوستون راشی •

او که وروستی مانا موخه وینو په کار دي د (را) او (زباره) یا په بله وینا د (الف) او (ز) ترمنځ لارغه او بیلتو او له بله پلوه د (ز) او (ي) ترمنځ پیوستون راشی ° په دي ډول نوموړي نیم بیتی یا غونډ له دوه رازه کاږو :

دلومړي مانا له مخی : کړي که بخشش دوصل راز ـــ یاره !

د دویمی مانا له مخی : کړي که بخشش دوصل را ـ زباره !

همدا رنګه د رادیو افغانستان د خبرلو څانګو بی ځایه بیلتون او پیوستون په دي وروسته غونډلو کی څومره مانیز بدلون پیښوي : د جنوبی افریقا صدر اعظم جان ـ فورستروویل ـ د نیپال پاچا دیوانن ـ خپل هیواد ته ستون شو ° په دي توګه (جان) د صدر اعظم ټوک ګرځی نه د فورستر او (نن) د (دیوا) ټوک ګرځی نه یو جلاوی (کړول) لیکښی د نورو غوندي د همدا راز د ویمنیو توکونو (خج ـ اهنګ ـ لحن بیلتون او پیوستون ۰۰۰۰) سمبولونه بلل کیږي °

د ایښی او ایښونی سمون :

د ایښی او ایښونی ترمنځ هماغه سمون مطلب دي چی د ګڼی ـ نوږي او وګړي له مخی د کړند یا کړي او کړ ترمنځ راځی ° د ګڼی له پلوه سمون دا چی که کړند یو ګړي وي نو کړ ورسره یو ګړي راځی او که کړند ډیر کړي یا د ډیر کړي انډول (لکه جنس) وي ° کړ ورسره ډیر ګړي راځی د نوږي له پلوه دا چی که کړند ښځینه وي کړ ورسره ښځینه کارول کیږي او که کړند نرینه وي کړ ورسره نرینه کارول کیږي او د وګړي له مخی سمون دا چی کړ باید له هر یوه وګړي (لومړي ـ دویم ـ دریم) سره سم وکارول شی نه داسی چی د لومړي وګړي کړ د دویم وګړي لپاره په کار واچول شی او داسی نور ° لکه په ګړ پوهه کی موچی ولیدل دغه د ود (قاعده) بیدودي (استثناء) لري لکه په چاروال لیږند تیرمهال کی چی کړ د کړند نه بلکی د کړي (مفعول) اړوند (تابع) دي په بله ژبه د ګڼی ـ نوږي او وګړي له مخی کړ له کړي سره سمون خوري نه له کړند سره ° همدا راز دغه سمون په اوس مهال کی یو اځی د ګڼی او وګړي له پلوه څه ناڅه رښتینوالی مومی مګر د نوږي له پلوه هیڅ نه ° په دي وروسته غونډلو کی د ایښی او ایښونی ترمنځ سمون له ټولو استثناګانو سره لیدای شو :

۱ــ نالیزند تیرمهال :

۱) زه ـــــ راغلم

۲) ته ـــــ راغلی

۳) دي ـــــ راغی

۳)دا ـــــ راغله

٤) موز ـــــ راغلو

٥) تاسی ـــــ راغلاست

٦) دوي ـــــ راغلل

٦) دوي ـــــ راغلـی

۲ــ لیزند تیرمهال (چاروال) :

۱) ما ـــــ خټکـی وخوړ

ما ـــــ خټکي وخوړ ل

ما ـــــ هندوانـه وخوړ ه

ما ـــــ هندوانـی وخوړ ي

۲) تا ـــــ خټکـی وخوړ

تا ـــــ خټکي وخوړ ل

تا ـــــ هندوانـه وخوړ ه

تا ـــــ هندوانـی وخوړ ي

او همداسی ددریم وګړي لپاره ٠

۳ــ لیزنـــد تیرمهال(بیچار) :

۱) زه ـــــ وخوړ ل شوم

۲) ته ـــــ وخوړ ل شوي

٠٠٠٠٠ همداسی تریایه ٠

٤ـ نالیزند اوسمهـال :

۱) زه ـــــ ځم

۲) ته ـــــ ځی

۳) دي ـــــ راځی

..... همداسی تریایه ٠

٥ـ لیزنداوسمهال (چاروال) :

۱) زه ـــــ ډوډۍ خورم

۲) ته ـــــ ډوډۍ خورې

۳) دي ـ دا ـــــ ډوډۍ خوري

..... همداسی تریایه ٠

٦ـ لیزنداوسمهال (بیچار) :

۱) زه ـــــ خوړل کیـــــږم

۲) ته ـــــ خوړل کیږي

۳) دي ـ دا ـــــ خوړل کیږي

..... همداسی تریایه ٠

نوموالـه او کړ والـه غونډ لـــــه :

که دیوي غونډ لی په ایښونی کی دآریا مرستیالکړ (لکه خوړل ـ کیدل ـ شول) پرځای یواځی (دي) اویا د دغه مرستیالکړ نوري بڼی اوډولونه راشی ٠ هغه غونډ لـــه (نوموالـه) غونډ له بلل کیږي که نه کړ والـه غونډ له لکه زرین ـ روغ دي یا و ـ یا : هلکا ن ـ ناروغه دي یاو ٠ زرینـــه ـ ناروغه ده یاوه یا : نجونی ـ ناروغی دي یاوې ٠

دغونډ لی مانیز ډولونـــه:

غونډ لـــی دکړ دودله مخی په خبري یا بیانیی اوناخبري یا انشایی او یاالتزامی غونډ لو ویشل کیږي.

١ـ خبـــــري:

١ـ ببرك ـــــ ولاړ

٢ـ ببرك ـــــ تللی دی

٣ـ ببرك ـــــ تللی و

٤ـ ببرك ـــــ تـــه

٥ـ ببرك ـــــ ځـــی

٦ـ ببرك ـــــ به ولاړ شـــی

.... او داســـی نور.

٢ـ ناخبـــــري:

١ـ ببرك ـــــ ولاړ؟ (پوښتنی)

٢ـ ببرك ـــــ ولاړ! (هیښنـــی)

٣ـ ببرك ـــــ به تللی وي! (گومانی)

٤ـ (کاشکی)ببرك ـــــ به تللی وای! (ارمانی)

٥ـ ببرك ـــــ دي تللی وای! (ټینگاري)

٦ـ (که) ببرك ـــــ تللی وي (اړوتی)

٧ـ ببرکـه ـــــ ځـه! (امري)

٨ـ ببرك ـــــ به ولاړ شی (گمانی او ټینگاري)

..... او داسی نور.

دغونډ لی جولیز ډولونه :

دجولی او څومره والی له مخی غونډ له یو ستوي وي یاغبرگه ـ یاگډه اویاگډ لی ۰

۱ـ یوستوي غونډ له هغه رازغونډ له ده چی له دوو غونډ ونو (ایښی او ایښونی)

څخه جوړه وي لکه :

ځلمی ـــــ ییوه کوي

یوغښتلی سړي ـــــ په ځغاسته راغی

دکندهار انار ـــــ خوازه دي

بوره ـــــ نشتـــه

۰۰۰ اوداسی نورې ۰ یوستوې غونډ له دنورو درو ډولو بنسټ بلل کیږي ۰

۱) اړه یو ستوي غونډ له چی یی ایښی له یوه (کړند) یا کړي او ایښونی له

یوه (کړ) ـ او دلیږند په ترڅ کی ـ له یوه (کړ) څخه جوړوي اوددودله مخی د دغو

درو واړو توکو (کړ ـ کړند ـ کړ) اړوندونه له دوو توکسو څخه تیري ونکړي لکه :

زمرك ـــــ ځـــــی

زرك ـــــ اوبه څښـــی ۰

یوه نجلی ـــــ یو لیکی لولی ۰

یوه ښکلی نجلی ـــــ یـــوپنډ لیکی لولی

زما یو ملگري ـــــ هیڅکله خپل کورنی کار نه هیروي

۲) ارته یو ستوي غونډ له چی په ایښی یا ایښونی یا دواړو کی دکړ ـ کړند یاکړي

یادرو واړو اړوندونه له دوودوو توکونو څخه تیري وکړي اوپه دي توگه پکـــــی

زیات ارتوالی راشی لکه : دعراق دعربی جمهوریت رئیس حسن البکر ـــــ به بله میاشت د

افغانستان دجمهوري دولت پایتخت مرکز کابل ته راشی ۰

یا : دافغانستان دجمهوري دولت یوه کلتوري ډله ـ دشوروي اتحاد دپوهنو داکادمی په بلنه

هغه هیوادته سفرکوي ۰۰۰ اوداسی نور ۰

۲ـ غبرگغونډ لـــــه :

غبرگغونډ له هغه ده چی دیوه ایښی او یوه ایښونی پرځای دوه دوه ایښی اوایښونی ولري یاپه بله وینا که دیوې پوهونی او مطلب دبشپړتیا یاددوو اړوندو مطلبو دڅرگندونی لپاره سره دوي غونډ لی په کوم اړیکوییکی یا لارغه (مکث) غبرگی اوملگري شی • یوه غبرگغونډ له منځ ته راوړي • داړیکوییکو دډولونو له مخی سره ډول ډول غبرگغونډ لی توپیرولای شو دغبرگغونډ لی په دواړو بیلا بیلو غونډ لو کی یوه اره یا خپلواکه اوبله څرمه (فرعی) یـا بیواکه غونډ له بلل کیږي • اره یا خپلواکه په دي مانا چی ار مطلب او موخه پکی څرگندیږي اوځانته په خپلوپښود ریداي شی • څرمـه یابیواکه په دي مانا چی ار مطلب اوموخه پکـی نه څرگندیږي اوځانته پخپلو پښو دریداي نشی په دي توگه په یوه غبرگغونډ له کی بیواکه یا څرمه له خپلواکی یااري سره دیوه مطلب په څرگندونه کی مرستیاله او بشپړوونکی اوسی • داړیکویکو له مخی د غبرگغونډ لی ډولونه په لاندي توگه ښوول کیږي :

۱ـ تړ غبرگغونډ له : چی دواړه یوستوي غونډ لی پکی په یوه تړوییکی (او) یا لارغی سره یو ځای شوي وي لکه :

زما زوي اووه کلن (دي) او لورمی شپږ کلنه ده •

یا : زما زوي لس کلن دي اوستا لور دولس کلنه (ده) •

۲ـ اړوتی غبرگغونډ له : چـی یی یوه (زیاتره لومړی) یوستوي غونډ له بیواکـه او بله (زیاتره دویمه) خپلواکه وي • په دي تـوگه دلته بیواکه غونډ له آړ (شرط) بلل کیږي او خپلواکه اړوتی ، لکه :

که ته راشی ـ زه به راشم •

که وریځ سپینه شی ـ باران کیږي •

که شمال نه وي ـ ونه نه ښـــوري •

دکه په وړاندې دا وړ وتی غونډه لی په سرکی د (نو)اړیکوییکی هم راتلای شی لکه : که شمال نه وي ــ نو ونه نه ښوري ۰

۳ــ توسنی (علتی)غبرګفونډه له : چې یی دوا ړه یوستوي غونډه لی سره په یوه یاغبرګو توسنو ییکو(ځکه ــ ځکه چې ــ چې ــ داچې ــ په دې چې ــ نو ۰۰۰) غبرګی شوي وي ۰ په دې ډول خپلواکه توسنی (معلوله) اوییواکه توسن (علت)غونډه له نومیدای شی لکــه :

زه راغلم ــ ځکه تابللی وم یا : زه راغلم ــ پــه دې چې تابللی وم ۰

تابللی وم ــ ځکه راغلم یا: تابللی وم ــ نو ځکه راغلم ۰

ځکه راغلم ــ چې تابللی وم یا :ځکه راغلم ــ په دې چې تابللی وم ۰

داچې تاویلی وو ــ نوراغلم یا : ځنګه چې تاویلی وو ــ نو ځکه راغلم ۰۰۰۰

٤ــ څرګندنی (بیانــی)غبرګفونډه له : چې دویمه مله غونډه له دلومړ ی هغــی دزیاتی څرګند تیا لپاره وي اوځیوي پونښتنی ځواب وایی : د دغسی څرګند تیا د څرنګوالی له مخی دالاندې کوچنی ډولونه دیا دولو دي :

۱) موخنه یامراس څرګندنی غبرګفونډه له : چې په خپلواکه غونډه له کی د راغلی مطلب یا پیښــی موخه په بله څرمه غونډه له کې څرګنده شی لکه :

سنګ ایران ته ولاړ ــ چې ځانته کار مزدوري پیدا کړي ۰

زه راغلم چې تاووینم ۰۰۰۰۰

۲) مهالی څرګندنی غبرګفونډه له : چې لومړ ی (بیواکه)غونډه له د دویمی (خپلواکی) غونډه لی څرګندکړي چار اوپیښی مهال اووخت ټاکی لکه :

چې ته راغلی ــ زه به ولاړ شم یا : چې ته راغلی ــ نو زه به ولاړ شم

کله چې ته راغلی ــ زه به ولاړ شم یا : کله چې ته راغلی ــ نو زه به ولاړ شم

سم چې ما وپرانیست ــ پرهغی می سترګی ولګیدې ۰

زه به هله د رشم ــ چې ته می وغواړ ي ۰

یا : زه به هله درشم — هرکله چې تا وغوښتم

هومره به دي مړ نکړم — څو دي رنګ دمړي نکړم

هله به خبرشي — چې تاروجبې له ورشي !

هله به دي په یادشي — چې دې یودبوال ته مخ بل ته دي شاشي !

۳) تونې څرګندنې غبرګغونډله : چې څرمه غونډ له یې داري لپاره تون (ځاي) وټاکي لکه : چیري دې ښه — هلته دي شپه !

چې نه کار — هلته څه کار یا : چې دي نه کار — هلته څه کار !

چې له کومې راغلې یې — پرهماغه ځه !

چیري چې اوسي — په خوي به دهغوي اوسي یا : چیري چې اوسي — په خوي به دهغوي اوسي !

یادپردیو ژبو په بې ځایه پیښو لکه :

دهند جمهوررئیس شوروي ته ولاړ — (چیري) چې له شوروي مشرانو سره خبري کوي

دلته (چیري) یو زیاتې توک دي . البته له (چې) سره (کوي) نه بلکې (وکړي) راځي .

د (تون) دزیاتې څرګندنیا لپاره له (چې) سره (هلته) هم ملګري کیداي شي لکه :

دهند جمهور رئیس شوروي ته ولاړ چې هلته له شوروي مشرانو سره خبري کوي .

٤) وګړیزه څرګندنې غبرګغونډ له : چې په دواړو ملوغونډ لوکې راغلې کړندیاکړي یو (وګړي) وي لکه :

څوک چې خوبکړي — نرکټې به زیږوي .

یا : دنورو ژبو په پیښو په ناسم ډول :

ځې : هغو خوارو ته جنت وګټو — (څوک) چې له موره دوزخیان پیدا دي

دلته داپایله اخیستلای شو چې (څوک) د (چیري) — (کوم) — (څه) — (کله) اوداسې نورو څرګندنې اړیکو ییکو غوندې یواځې دهماغې څرمه غونډ لې په سرکې له (چې) سره راتلای شي چې تر اري دمخه وي دغه توپیر په تیرو دواړو ساریو (مثالو) کې ښه ترا لیداي شو .

۵) څیزواله څرګندنی غبرګغونډله : چی په دواړو ملوغونډ لوکی راغلی کړندونه یا کړي یو (څیز) وي لکه :

څه چی کړي — هغه به ریبـــــن

څه چی وي — هغه به وي

٦) کړولی (قیدي) څرګندنی غبرګغونډ له : چی د دواړو غونډ لو اړیکو ییکـــــی کړو لونه وي لکه :

لـــري ځـــه — ژرژاځـــــــــه

یا د دي لنډۍ دویمه برخه : پراویو غرو دخدای نظر دي — پرسرین واوري — پرلمن یی زیړ ګلونه

۷) پرتلیزه څرګندنی غبرګغونډله : چی د دواړو ملوغونډ لو ایښی سره د اړیکو ییکو په وسیله انډول — پرتله یا همځیر شوي وي لکه :

څنګه دیګ — هسی تیپـــر یا : هسی یی تیپـــــر (کړ پریښوول شوي)

څنګه غر — هسی یی کربوړي (کړ پریښوول شوي)

یو یی ګټی — سل یی څټی

سل دي ومره — یو دي مه مره

یا : سل دي ومره — د سلو سردي مه مره

سل پتنګان سوځی — دیوي شمی ژړا سره

۸) اړپیچنـــه (متضاده) څرګندنی غبرګغونډله : چی داري اوڅرمی څرګندونی یا ایښی سره اړ پیچ یا بډ والی (تضاد یا تقابل) ولري لکه :

که څه هم مازیار ایستلی نه و — (خو) بیاهم بریالی شوم

سره له دي چی ناروغ وم — پوهنځی ته راغلم

یا : سره له دي چی ناروغ وم — خوبیاهم پوهنځی ته راغلـــم

یا دیوي ارتی یوستوي غونډ لی په بڼه :

له ناروغی سره سره پوهنځی ته راغلم .

له ولسه وو ځه — له نرخه مه ووځه

که غر لوي دي — پرسرپی لارده

خپل خپل دي — پردي په ډیرو نارو خپل دي

دښمن به دي وخندوي — دوست به دي وژړوي

شمه که سوزیږي رڼا هم لري (گوره په خندا کی ژړا هم لري)

۹) سرغاړي (منصرفه) څرگندنی غبرگغونډ له : چی دویمه (څرمه) غونډ له یی دلومړی (اري) له څرگندونی څخه سررغړوي او نور زیات څه څرگند کړي لکه :

ځلمی گرم نه دي — بلکی زمري گرم دي

یا : ځلمی گرم نه دي — چی زمري گرم دي

۱۰) بشپړ انده څرگندنی غبرگغونډ له : چی دویمه (څرمه) یی د دویمی (اري) دجاج (مفهوم) په بشپړو لو یا پراخولو کی مرستیاله اوسی لکه :

خوشال خټک نه یواځی شاعرو — چی تورزن هم و یا : بلکی تورزن هم و .

یا : خوشال خټک یواځی شاعر نه و — چی تورزن هم و یا : بلکی تورزن هم و .

یا : خوشال خټک لوي شاعرو — چی لا اتل هم و .

دلته گورو چی (نه یواځی) د (چی هم) یا (چی لاهم) اویا (بلکی هم) په ملگرتیا د دواړو غونډ لو اړیکی ټینگوي یا په بله وینا (نه یواځی) او (چی هم) یا (نه یواځی) او (چی لاهم) یا (نه یواځی) او (بلکی هم) د دواړو ملو غونډ لو ترمنځ د بشپړتیا اړیکی څرگندوي .

همدومره خبره ده چی که د پورویی (بلکه یا بلکی) له کارونی څخه ډډه وشی نو د پټی (جبران) لپاره یی په هماغه څرمه غونډ له کی دا یښی پرار توک باندي یو پیاوړي خج راوړل په کاردي چی له همدغه خج سره اهنگ هم پتلیز (جوخت) لوړ ولاړ شی .

۲ـ گډه غونډ لـــــه :

گډه غونډ له هغې ته وايي چې په هغه کې له دوو نه زياتې غونډ لې پرله پسې راغلې وي او څرګندونې يې سره يو له بله کوم ډول اړيکې او اړوندي ولري . او داچـــــې هماغه يوه يواځينې مطلب د بيلا بيلو ملو غونډ لو له مخې په بيلا بيل ډول څرګنديدنه موندلې وي . نو زياتره يې يوه غونډ له خپلواکه يا اره وي او نوري ټولې ملې ورسره بيواکه يا څرمه وي . په ګړتې (محاوروي) پښتو کې ګډي غونډ لې زياتره له دوو غبرګغونډ لو څـــخه جوړې وي چې په دي ډول په دواړو يو ځاي شوو غبرګغونډ لو کې دارو او څرمو غـــونډ لو شمير يو پريو وي لکه په دې لنډ يو کې :

ښه دي چې سترګې دي وړي دي ـــ که چيري غټې واي خوړ لاي به دي ومه

يارمې د کوټ زه د تيرا يـــــــم ـــ خدايه کوټ وران کړي چې جوړه تيرا له ځونه

په لومړۍ لنډۍ کې لومړي برخه (مسره) يوه غبرګغونډ له ده چې اره غونډ له پکې د مخـــــه او څرمه وريسې ده . دويمه برخه (مسره) يوه بله غبرګغونډ له ده چې څرمه غونډ له له اړي غونډ لې ترمخه راغلې ده . داچې په لومړۍ مسره کې دويمه (څرمه) غونډ له په څرګندنې وييکـــې (چې) پيل شوي نو ټوله لومړي مسره يوه څرګندنې غبرګغونډ له بلل کيږي او داچې په دويمه مسره کې لومړي (څرمه)غونډ له په اړوييکو (که چيري) پيل شوي نو ټوله دويمه مسره يوه اړوتې غبرګغونډ له ده . دواړې مسرې (غبرګغونډ لې) سره بيا په يوه توسنې اړيکې ـ چې په لارغه څرګنديږي ـــ يوه ګډه غونډ له جوړوي . نو له دي پلوه زموږ ياسنې لومړي لنډۍ يوه توسنې ګډه غونډ له ده چې يې دغړيو غونډ لو شمير څلوروته رسيږي او لومړۍ يې (ښه دي) اره غونډ له بلل کيږي او که دغې لنډۍ ته د دوو غبرګغونډ لو په سترګه وګورو نو لومړۍ غبرګغونډ له (لومړۍ مسره) اره او دويمه غبرګغونډ له (دويمه مسره) څرمه ده . د دويمې غبرګغونډ لې بيا دويمه مله غونډ له (خوړ لاي به دي ومه) اره يا اړوتې او لومړۍ هغه يې (که چيري غټې واي) څرمه (اړ) بلل کيږي .

اوداهم دلومړۍ لنډۍ (گډي غونډلی) لښتیلیك (جدول):

۰۰۰ / ایښونی	اړیکوییکی	ایښی / ایښونی	لارغه	۰۰۰ / ایښونی	اړیکوییکی	ایښی / ایښونی
له پټ ایښی سره اره		څرمه		له پټ ایښی سره څرمه		اره

لارغه

لومړي څرگندنی غبرگغونډله — دویمه اړوتی غبرگغونډ لـــه

توسنی گډه غونډ لـــه

همدارازدویمه لنډۍ دیوي گډي غونډلی په توگه جوتولاي شو او هغه داچی داهم یوه توسنی گډه غونډله ده مگر په همدومره توپیرچی دلته توسنی غبرگ غونډ له تربلی (تړغبرگغونډلی) دمخه شوې ده. اوبل داچی ترټولو وروستی غونډ له یی اره ده او په دي توگه ټوله دویمه غبرگغونډله (مسره) دلومړۍ غبرگغونډلی (مسري) په وړاندې اره بلل کیږي په دي گډه غونډ له (لنډۍ) کی دلومړي ملې غونډ لی (یارمی ـ دکوټ) ایښونی د (د) په غورځونه چی یوه شعري اړتیاده نیمگړي دي. دغه راز دڅلورمی (اري) ـ ایښی خپلواکه جوله نلري اوداچی دلومړۍ غبرگغونډلی دواړي ملې سره په یوي لارغی تړل شوي یا عطف شوي دي نو یوه تړ غبرگغونډله بلل کیږي.

داهم ددغی دویمی گډي غونډلی (لنډۍ) لښتیلیك:

ایښی / ایښونی (بی کړه)	لارغه	ایښی / ایښونی	لارغه	ایښی / ایښونی	اړیکوییکی	۰۰۰ / ایښونی
څرمه		څرمه		څرمه		بس ایښی اره

لارغه

لومړۍ څرمه تړ (عطف) غبرگغونډله — دویمه اره توسنی غبرگغونډ لـــه

توسنی گډه غونډ لـــه

یادښت: پرتوسنی گډي غونډ لی سربیره نوري راز راز گډي غونډ لی هم پیدا کیداي شی تشبیهی لکه دښکارندوي په دې کړۍ کی:

هرپلودگلووزم دي لونلـــی ـــ ته واراغله له ختـــه کاروانـــونـــه

یادحمید دغه لنډ ی :

سینه من دیګ زړګی می غوښی ـ اوښکی اویه دي بیلتون اوریښی کوینـــه

٤ـ ګډلی (مختلطه) غونډه له :

ګډلی غونډه له هغه ده چی دیوي یوستوي غونډه لی په منځ کی یوه یا زیاتی څرمه غونډه لی وزنډتی وي ۰ دغه راز څرمه غونډه لو ته منځپینښی (معترضه) غونډه لی ویل کیږي ۰ جوړښت یی داچی داري غونډه لی ترایښی (مسندالیه) یا دهغه ترکومی برخی وروسته دهماغه ایښی یا برخی په اړیکی (ارتباط) یوه یا زیاتی غونډه لی په څرمه ډول راشی او بیا داري غونډه لی پاتی برخه ترټولو پای ته راووځی ۰ په ګړنی پښتو کی ګډلی غونډه لـی ډیري لږي کارول کیږي اوهغه هم په دومره پیچلی بڼـه نه ۰ دامانا چی نه اره غونډه له یکی دومره ارته وي اونه یکی منځپینښی تریوي زیاتی وي او هغه یوه هم دومره ارته نه وي که نه په غبرګو اوګډه وغونډه لو اړول کیږي ۰ دلته لومړي ګړنی اویا له لیکنی پښتو څخه دګډ لو غونډه لو بیلګی را اخلو :

۱) زه چی کورته ځم ـ رخصت اخلم ۰

۲) ځلمی چی پرون راغلی و ـ ما ونه لید ۰

۳) ما پروفیسور مورګن سیترنې ـ چی داوروستی ځل کابل ته راغلی و ـ ونه لید

یادغبرګی غونډه لی په ډول ؛ ما داوروستی ځل پروفیسور مورګن سیتـرنې ونه لید ـ چی کابل ته راغلـــی و ۰

٤) خوشال خټک ـ پخوا تردي چی په ګوالیارکی بندي شی ـ له اورنګ زیب سره په داسی میړانه ـ چی ساړي یی نه درلود ـ جنګ وکړ ۰

دایوه دوه اړخیزه ګډلی غونډه له ده په دي توګه چی دلومړی اړیغونډه لی (خوشال خټک له اورنګ زیب سره په میړانه جنګ وکړ) دوه منځپینښی غونډه لی راغلی دي چی لومړی یی (په ګوالیارکی بندي شی) دایښی (خوشال خټک) په کوالیارکی بندي کیدل څرګندوي اودویمه یی

(ساريين نه درلود) دايښونه (جنګ وکړ) ديوه کړول (په ميړانه) خرګندوي اويا ورې کوي •

(پخواتري — چې) او (داسې — چې) ددرو وارو ملوغوندلو ترمنځ داړيکو ييکو دند ه

پرځاي کوي لومړي زمانه اړيکې او دويم خرنګيزاړيکې •

دلته وينو چې داړي غونډه لې اينښې (خوشال ختک) له خپل اينښونې (جنګ وکړ) يونادوده

لرېوالی لري نو په دې لاندې ډول دغه لرېوالی له منځه وړلای شو :

خوشال ختک — پخواتردې چې په ګوالياړ کې بندي شې — له اورنګ زيب سره

په داسې ميړانه جنګ وکړ -- چې ساريين نه درلود •

دننه کلنسرې نړۍ په غونډتو او اغيزو سره دغه رازغونډه لې په ((ليکنې)) پښتو

کې مخ پرزياتيدو اوپيچلې کيدودي لکه :

٥) ديونان نومیالی فيلسوف اپلاتون — چې په اسلامې نړۍ کې دلوي نامه

خاوند شو — دلويديزې نړۍ لومړي پوهاند دي — چې دژبې دښسټ او خرنګوالی په باب يې

فلسفې څيړنه کړيده — اوله دي لامله دلويديزې نړۍ دژبپوهنې پرانيستونې اودپرله غښتې

ګرامر برسيرونې ګڼل شويدي •

٦) ديونان سترې جنګ بوللې يا حماسې ((ايلياد او اوديسې)) چې سپيڅلې

ګڼل کيدي په خورا لرغونو زمانو کې په داسې يوه ژبه او سبک کښل شوي وې چې کابو نابومه

(نامانوسه) شوې (الهام : وزمه — ٦ ګڼه ١٣٥) •

په پنځمه ګډلې غونډه له کې يواځې (ديونان نومیالی فيلسوف اپلاتون

په اسلامې نړۍ کې دلوي نامه خاوند شو — دلويديزې نړۍ لومړي پوهاند دي) رښتينې ګډلې غونډه نه جوړه کړي — ځکه ديوي اړي ترمنځ يوې

منځپېښې غونډې ځاي نيولی دي — او وريسې نورې دوي ورسره په خرګندې اړتوسنې

بڼه دژباتي خرګندونې لپاره ملګري شوي دي •

گړنـــــی یا اصطلاحـــــات (IDEOMS)

په غونډ له پوهه کی موتر او سه دوینا بشپړ یوونونه (واحدونه) یا په بله ژبـــه غونډ لی وڅیړلی او په ترڅ کی مو واړه واړه ویی غونډونه یا لغوي گروپونه (فقري) چی دگړنو (ایدیمونو) په نامه بلل کیږي •

پیژندون (تعریـــــف) :

یوه گړنه یوداسی وی غونډ دي چی دراز راز مانا لرونکو (دوویاډیرو) وییـــو او وییکو څخه منځ ته راغلی وي او په ژبه کی یو نا اټکل کیدونکی لرغونتوب لري • یوه گړنه تل په جولیز ډول یوناشنونی او ټینگ یووالی نه وي خو په مانیز ډول بوناشنونی غونډ (مجموع) گڼل کیږي • په بله وینا یوه گړنه د داسی وییو غونډ دي چی په یوه غونډ له ییز یا په بله وینا غونډ له پوهیز (نحوي) چاپیریال کی ځانته بیلا بیله جولیزه خپلواکی ساتلاي شی • د ساري په ډول له هر راز اوښتنی راوښتنی سره مخامخیداي شی خو په گډه چی کومه یوه بوا ځینـــی مانا منځ ته راوړي نه شنل کیدونکی مانا بلل کیږي دغسی یوه منځ ته راغلی گډه مانا کله داسی وي چی د ټوکونو (اجزاوو) له بیلا بیلو مانا وو سره څه ناڅه ورته والی اواړیکی لري او د شنلو (تجزیه کیدلو) پروخت یی گډه مانا کورټـــه له منځه نه ځی ـــ د چاخبره یو څرك هومره یی لالگیږي لکه برخه اخیستل ـــ سربرڅنـــی کیدل مقصد ته رسیدل ـــ وروسته پاتیدل خوله پرخوله کیدل ـــ پرمخ تلل ـــ لاسته راوړل یا راوستل ـــ له منځه وړل ••• او نور •

په دویم ډول گړنوکی گډه مانا داسی وي چی د بیلا بیلو ټوکونو ماناوي یی ښکارندوي نه شی کولاي او له ټوټـــه ټوټه کیدو سره هر ټوك خپلی گوښی اري مانا ته ورگرځی کټ مټ لکه دیوه کیمیایی ترنگ ټوکونه (د ســـاري په ډول هایدروجن او اکسیجن چی یویی هم ځانته دخپل ترنگ ((اوبو)) ښکارندوي نه شی کولاي) بیلگی یی لکه : غوږ ریول ـــ زړه مړیدل ـــ زړه خوړل زړه ماتیدل ـــ زړه پخیدل ـــ سپینی ښوییدل ـــ تښتیدل یا غوټه کیدل ـــ پـــزي ته رسیدل سترگی رییدل ـــ لاس ترزنی کیناستل ـــ لاس پرسرکیدل ـــ لاس اخیستل او داسی نوري کنایی او مجازي مانا ښندونکی گړنی •

د ریم ــ هغه گړنی دي چی د متلو او بولنو (مقولو) په ډول وي یا په بله وینا یوه غوره وینا وجیزه ډوله یا مقوله ډوله وینا وي او یا متلونه وي د امانا چی کومی کیسی ته گوته نیسی او هر ه یوه دگړها ر په بهرکی دیوه ناشنونکی ویی غونډ (لغوي گروپ) په توگه لکه یوه گړنه کارول کیږي کټ مټ د شاعرانه ارسال المثل غوندي لکه : دگبرجام نسکور دي ــ پلانی او بیستانی سره نوك اواوري دي ــ پلانی او بیستانی دیوې سوړي ماران دي یا دیوي باغچی گلان دي ــ په یوه گل نه پسرلی کیږي ــ داهم په انارو ــ خوند یی باران وړي دي ــ دکوهی ختـــه پر کوهی لگی ــ وروري خوري به کړو حساب ترمنځه ــ یوه بلابلی ته وایی چی بو ــ ښه ښه د ي بد بد دي ــ خپل عمل دلاري مل ــ دجولامنډ ه ترموږي پوري وي ــ لري ځه ــ ژرراځـــــــه ــ مه کوه پرچا چی رابه شی پرتا ــ لاس چی مات شی دغاړي بارشی یا غاړي ته ورځی ــ دچا پرتوگا ښ تښتیدل (خجالت کیدل) ــ پرپچه سپریدل او کشمیر لیدل ــ لورپه لوټه تیره کول ــ اوبه له ورخه تیریدل ــ اوبه په ډانگ بیلول ــ چی په نازلوییږي په زبار زړیږي ۰ (لکه پدي کړي کـــی : چی په ناز لوي شی په زبار ژړیږي ــ زه په زبار لوي شوم په ناز ژړیـــږم اوداسی نور ۰ له هسی عادي بولنو اومتلونو سره د دغه راز گړ نوتوپیر همدومره دي چـــی دلته بولنی او متلونه په جلا او خپلواك ډول دوینا له بهیره بهر ــ دیوي کړې یاشوي وینا د ټینگار پخلی او جوتتیا لپاره په څرمه او سرباري (اضافی) ډول نه بلکی پخپله داري وینا یا یوه وینا ییز یوو ن (غونډ لی) دیوه نه جلا کیدونکی ټوك اوبرخی په توگه کارول کیږي له دې کبله د داسی تضمین شوي یا استخدا مشوي متل یا بولنی اره بڼـه تل خوندي نه پاتیږي ۰ (لکه په پاسنی شعرکی) خوپه هرډول دیوې گړنی غوندي دوینا یا غونډلی دننه دمانـــا او جولی له مخی بونه شنل کیدونکی ویی غونډ اوبرخه جوړ وي لکه غرزي ــ لاس ترزنی کیناست په دي غونډ له کی (لاس ترزنی کیناست) گړ نیز غونډ (کل) دي چی دیوي غونډ لی اپښونی یی جوړ کړي دي ۰ نورساري (مثالونه) یی لکه :

د رخو ـ گوته پرغاښ ونیولـــــه

ځلمی ـ اوبه په ډانگ بیلـــوي

ځلمی ـ له زانـونه کټوري غواړي

یا دیوه غونډ (ایښی یا ایښونی) یوه برخه جوړوي لکه :

تور ـ (اوبه په ډانگ بیلول) غواړي .

اویا دواړه غونډه یاپه بله وینا یو متل ټوله غونډ له جوړوي لکه :

نوك او اورئ ـ سره نه بیلیږي .

دپښو ییز چار له مخی دوه رازه گړنی سره توپیریږي نو مواله گړنه لکه دبوډئ ټال (قوس قزح) یا دگیدړ واده (افتاب بارانك) دویمه کړواله غونډ له لکه غوږ ریول ـ په ډنډ کی خوله کیدل . په دي توگه یوه نوموالهگړنه کیداي شی دکړ په ملگرتیا کړواله شی لکه لاس ترزنی کیدل اوداسی نور .

غونډ له پوهیزه (نحوي) شننه یا تجزیه :

د دي لپاره چی دغونډ له پوهیزو یوونونو (غونډ لو او غونډونو) پرمانیزو اوجولیزو جوړښتونو، او ډون اوخپلمنځی اړیکو مو ښه ترا رڼا اچولی وي ، دلته غواړو ځینی بیلگی یی ترشننی (تجزیی) اوسپړنی (تشریح) لاندي ونیسو . په دي ترځ کی به راته داهم په ښه توگه څرگنده شی چی دغه راز شننه له غږ پوهیزي اوگړ پوهیزي له شننو سره څه توپیرلري .

۱ ـ زما ورور نن له کندهار څخه کابل ته راغـــی

داغونډ له وینو چی له نهو کوچنیو ټوکونو (زما ـ ورور ـ نن ـ له ـ کندهار ـ څخه ـ کابل ـ ته ـ راغی) څخه جوړه ده او دغونډ له پوهی له پلوه تر دغی زیاته نه شنل کیږي . که څه هم ځینی توکونه لکه (زما) ساده وی نه بلل کیږي او پردوو توکونو یاټوکونو ټوټـی کیږي مگر دغه راز ټوټه کیدنه یاشننه پهگړ پوهی پورې اړه لري نه پهغونډ له پوهی پورې اوداسی نور . دلتـه یواځی په نهو توکونو شننه ـ دهغوي اوډون اوخپل منځی اړیکی ښوول د غونډ له پوهیوینه ده . د دي توکونو په ډله کی ځینی بیاداسی دي چی دځینواړیکو له مخی سره غونډ غونډ یاجوړه جوړه کیداي شی لکـــه :

زماورور ــ نن ــ له کدهار څخه ــ کابل ته ــ راغی ۰

دلته بیا گورو چی په دغو پنځو غونډو نو (کړند ــ کړول ــ کړول ــ کړول ــ کړ) کی ځینی سره دبل ډول اړیکو له مخی پرد وو سترو غونډو نو یا برخو ډله ډله کیږي چی یوي برخی ته کړوال غونډه یا اینبنی (مسند الیه) اوبلی ته نوموال غونډه یا اینبونی (مسند) وایی لکه :

زماورور ــ نن له کدهار څخه کابل ته راغـــــــی

داوډون له پلوه گورو چی لومړي نوموال غونډه راغلی اوبیا کړوال غونډه ۰ په نوموال کی د دپښتو غونډه له پوهی له دود اودوی (قاعده اوقانون) سره سم لومړي تولنومخري (زما) اوبیایی اړوند څیز نوم (ورور) اوبه کړوال غونډه کی لومړي دکړ اړوند توکونه اوبیا پخپله کړ راغلی دي ۰

داچی غونډه له خبري دډه نوا هنګ یی اوارپیل کیږي او ورورو کښته لوېدلی پاي ته رسیږي ۰ توله غونډه له یو پیاوړي خج لري چی ویونکی یی له خپلی موخی سره سم پرېږه وی باندي راوړي دامانا : پرهر وی او څپـــه چی ویونکی ورته زیات ارزښت ورکوي که نه په عادي او منطقی ډول یی یو لوستونکی پرکابل اوبیا د (بل) پرځپه راوړي له دي کبله موږ یو غونډه له بیز خج دوه ډوله پیژنو یو عادي یا منطقی خج لکه پر (کابل) اوبل ځانګړي یا فوق العاده خج چی ویونکی یی دیوي ځانی خوښی یا فوق العاده موخی له مخی پرېږه بل کوم وی یاځپه راځی ۰ دساري په ډول که دویونکی موخه (زما) ارزښت او اوچتوالی وي نو پر (زما) باندي زور اچوي بیانو دویونکی موخه داسی پوهیدل کیږي چی دبل چاورورېی نه بلکی خپل یی مطلب دي اوکه پر (ورور) خج راوړي دامانا تري اخلو چی ویونکی له نورو اړوند و کسانو (خپلوانو یاملګرو) څخه خپل (ورور) جلا کول اونومیرل (مشخصول) غواړي اوداسی پرنورو پاتی وییونو باندي دخج راوړل د رواخله ۰

کوم اړیکی چی په دغه غونډه له کی دا اینبنی او اینبونی ترمنځ لیدل کیږي هغـــه یی سره دوګړي نوزي اوګڼی له مخی برابرښت او سمښت دي ۰ په بله وینا (زما ورور) چی یو اینبنی دي دا اینبونی له ار توك (راغی) سره دپورتنیو د رواړ خوله مخی سمون لري داسی نه لکـــــــه

دوګړي له پاوه (راغلم یا راغلی) وویل شی یا دنوزي له پاوه (راغله) اویا دګنس له پلوه (راغلل) نامسم وویل شی اودا ټکه چې د تیرمهال نالیزند ګړیه دویم وګړي کې دغه دري ارخیزه سمون پیدا کوي ، داچې زن مبا د پرمختللې کولتوري ټرې په پښتو دنامنځ له کبله د یوګړي لپاره دیرګړي کې اونومځي کارول کیږي (لکه زرک زمرک ته وایی ((تاسی له کندهاره کلـه راغلاست) ، یوښویز دود نه بلکې تولنیز دود بلل کیږي ، المانیان دغه راز نمانځنـه په یوه بل ډول څرګندوي اوهغه داچې د مخاطب یوګړي وګړي لپاره د دویم د یرګړي وګړي لجمع غایب) د نومځي کارونو اونورلویدیځیان د مخاطب یوګړي وګړي لپاره د هماغه مخاطب وګړي د یرګړي د نومځي کاروي ، مخیځیان بیا زیاتره د دویم د یوګړو د نمانځنې له کبلـه د یرګړي کاروي لکه مثلاً پلار چې زوی ته وایي (زه کندهاري ګرځم) د دویم وګړي د یرګړي کې تیرمهال نالیزند ګړي کارول کیږي (وزمه راغلل) چې تولنیزه یا د ناوزه پیښه ورته وبلای نشو بلکې یوه سپمه پیښه ګرځم (نحانګړتیا اوله تولـیزي (معیاري) پښتو څخه یوسر غړاوي بلل کیږي ،

زموږ تر څیړنې لاندې غونډه لې په اینـزنی (نن له کندهار څخه کابل ته راغـلم) کې (نن) د (راغی) مهال ناکې په بله ډله یو مهالی کړول دي ، (له کندهار څخه) یو ټونی کړول او (کابل ته) یو بل ټونی کړول بلل کیږي ، له بله پلوه (نن) یوساده کړول دي او د نور د واړه تر پښتې کړولونه یا په بله ډله ویه کړولی غونډونه ، په لومړي کړولی غونډه (له کندهارڅخه) کې (له) مپرېل او (څخه) اوسترېل (کندهار) وتون پیر (ABLATIVE) کې اچې د همد غـه وتون پیر له کبله (کندهار) پر (کندهار) اوړي خوښه معیاري پښتوکې یې پایله (ځ) غوره کیږي ، په دې ترڅګه (کندهار) د سپرېل اواوسترېل تر راکښې لاندې د اود انتزل کړولی غونډه (لهکندهار څخه) سپلېټکړ پاتې ، راکښې لوړې د ې زاړه کړولونه (نن ـ له کندهار څخه ـ کابل ته) د کړ او رونه ډیکه اوبه یوه مهال کې پوکړ (راغی) واکښان ،

دا ډول له پلوه دغونډه لې ګرد توکنه پرخپل خپل ځای راغلی دي ، یوا ځـنـ (نن) کولای شي تر (له کندهارڅخه) روسته ځای ونیسي له دې چې پکې پښتیز اومانیزونجون پښتنشـي ،

۲ـ خدایه ته په زړه کی اچوې دامینی ـــ چی په ښکاردې مبتلا کړم ته می وینی (دخوشال خټك دباز نامی د سربیـــت) دغه بیت یوه گډه غونډ له ده چی که (خدایه !) جلا بلنی (ندائیه) غونډ له ونه گڼـو نو لومړي نیم بیتی یـی یوه یوستوي غونډ له ده او دویم نیم بیتی یی دوه یوستوي یا په بله وینا یوه غبرگغونډ له ده خود مطلب له مخی لومړی نیم بیتی غونډ له د دویم نیم بیتی له لومړی غونډ لی سره یو پرله غښتـی (منسجم) یـووالـی یاغبرگغونډ له جوړ وي او د ریمه (ته می وینی) وریوري هـسی یوه سرباري غوندي غونډ له ملگري شوي او دمخنیود ووغونډ لو دخرگندونی یو بشپړ وونکی اوپخوونکی غوندې پایځوړ بلل کیږي • دادي لومړی یوستوي غونډ له په خپلورغنده ټوکونو وېشو :

خدایه ـ ته ـ په ـ زړه ـ کی ـ اچوي ـ دا ـ مینی

دغه اته ټوکونه سره دځینو گرامري اړیکو له مخی دوروستیو څلورو غونډ ونو په بڼـه ډله ډله کوو :

خدایه ته ـ په زړه کی ـ اچوي ـ دامینـــی

لومړي کړند غونډ (فاعلی گروپ) دي دویم کړولی ـ دریم کړدي او څلورم کړي غونـډ (مفعولی گروپ) • د دغو غونډ ونو شمیر بیا دووسترو غونډ ونو (ایښی او ایښونی) ته راټیټـوو :

خدایه ته ـــــــــ په زړه کی اچوي دامینی

داوډون له پلوه په ایښونی کړي غونډ (دامینی) دشعري اړتیا له کبله خپل ځاي پري ایښی دي که نه رښتینی ځاي یی هم دایښونی په سرکی له کړول غونډ (په زړه کی) دمخه اوهم تري وروستـه ټاکل کیږي • داغونډ له که څه هم یوه خبري غونډ له ده اوبه کاروو چی اهنگ یی ډیرټیـــټ پایته رسیدلی وای خود اچی شعري اړتیا اوډون ویجاړ کړي او کړی غونډ (دامینی) ترکړ (اچوي) وروستـــه راغلی نو اهنگ تر ځوړید ووروسته یوځل بیالوړ شوي پایته رسی • خج پر (ته) ـ (اچوي) او (مینی) درووا ړو وبیو باندې راځی مگر وروستنی دزیات پیاوړ توب له کبله دغونډ لی یواځینی پیا وړ ي خج بلل کیږي •

داگرده غونـډله (یامسره) دمانا او موخی له مخی یو بیخی بشپړ یووالی نه برینښی بلکی (دا) د یوه اړیکوییکی په توګه دیوي بلی څرګندنی څرمه غونډه لی غوښتنه کوي له همدي کبله دا بله څرګندنی غونډه له ورسره په بل مقابل اړیکوییکی یا څرګندنی ویکی (چی) پیل کیزي اردارې غونډه لی دا ړیکوییکی (دا) ځواب وایی چی څه ډول او کومه مینه ، په دي توګه د دوارو غونډه لړ له ملګرتیا منځ ته راغلی غونډه له یوه غبرګغونډه له بولو اوهغه بیا یو څرګندنی غبرګغونډه له ، اوداهم دلومړی څرمه غونډه لی شننه :

چی — په — بنکار — دي — مبتلا — کـــړم

توله څرمه غونډه له شپږ توکه لري ، لومړي توک (چی) یو څرګندنی اړیکوییکی دي ، دویـــم (په) یوسـبل دي چی بی اوستریله (سره) لوښنـــه (الی) پازه تر سره کوي او (بنکار) ترخپل واک لاندي راولی اوبه لوښنی پیر (الی حالت) کی یی اچوي ، (دي) د دویم یوګړي وګړي (مفرد مخاطب شخص) کمزوري نومځري دي اوبیایو کړند چی دګردي غونډه لی اینښی جوړوي ، (مبتلا) له (کړم) سره یو کړ وال غونډه یاپه بله ډنا یو تړښتن کړ رامنځ ته کوي ، د پورتنیو پښو ییزو اړیکو له پلوه ګرد توکونه د اسی غونډه غونډه کوو ؛ چی — په بنکار — دي — مبتلا کړم ،

(چی) خولکه چی وویل شو له تیري غونډه لی سره دیوه څرګندنی اړیکی چار پرغاړه لري ، (په بنکار) یوتوسنی غونډه دي په بله ډنا توسنی سربل (په) د (بنکار) څیز نوم ته توسنپیر ورکړي او په دي توګه پړي واکمنی لري اوبیا د اتول غونډه (په بنکار) په (مبتلا کړم) باندي خپله واکمنی چلوي کت مټ لکه دیوه کړ ول غوندي ، (دي) دیوه یوګړي وګړي کمزوري وګړ نومځـــري (د مفرد مخاطب شخص متصل ضمیر) په بنـه د غونډه لی کړند ، یا په بله ژبـــه (اینښی) جوړوي ، (مبتلا کړم) یو کړ غونډه یا تړښتی کړ دي چی له (په بنکار) سره د غونډه لی اینښونی جوړوي په دي ډول ګرد ه غونډه له پړدوو بنیادي برخو (اینښی او اینښونی) وشلاي شو ؛

دي ——— په بنکار مبتلا کړم

داوه‌وون له‌مخ‌کومه‌نیمگړتیا نلري ۰ دابښن (دي)له‌پښو‌ییز‌دود سره‌سم دابښونې په
مخ کې ورښودل‌کېږي که‌دیوه کمزوري نومحري په‌توګه‌یې په‌سرکې راتلل دودنه‌دي ۰ که‌ابښونې
مخښې برخه(په بنکار) نه‌د‌ولوداي نو هروړ بیا د‌کړ غږنده په‌مخ کې ورښودنه (لکه مبتلا‌دي‌کړم)۰
او که‌د‌دغه‌ترښتې کړ (مبتلا کړم) پرځاي کوم بېرستوي‌کړ (لکه وخورم) واي ۰ نو بیا (دي)
بیخې پاي ته‌وته (لکه وخورم دي) بل څېز چې په‌دې غږنده له‌کې د‌یادولو‌د‌یې‌هغه د‌کړي
(زه) نه راوړل دي او بوختې یې د‌وا‌مخې په‌وګړیزي پایلې (م) بېرته‌راوړل دي چې له‌همدې
کبله‌یې د‌ودیز‌پښو‌ییو‌هان (متصل ضمیر) یا (کمزوري‌متصل ضمیر) او (فعلي ضمیر) بولي ۰

د‌ویمه څرمه‌غږنده له (ته‌س‌وینې) د‌مخښې غږګنده‌ل‌ې په‌بشپړتیا کې نېږده برخه
نه‌اخلي او‌وا‌مخې یو‌ځ‌ای‌ې‌نه‌ل‌ې نو‌که‌یې‌یې هم ماته‌وړلې ۰ زموږ غږګنده‌له‌پرګنې
غږنده‌ل‌ې اوړي چې‌د‌غږنده‌لو‌ځ‌ای‌ې‌د‌وته‌وي ۰ وړ‌وبې اړه ــ د‌ویمه‌څرګندنې څرمه‌اووروستنۍ
تر (عطف)او‌یا‌د‌غږنده‌نه‌بلل کېږي‌د‌غه‌وروستنۍ تر اړغږنده له‌لومړۍ‌په‌لاندې د‌وو‌توکونو
شنل کېږي ۰

ته ــــــ س ــ وینې

(ته)یو‌کرنداویا د‌تولې غږنده‌ل‌ې (ابښې) دي ۰ (س) یو‌کړي دي او(وینې) د‌دویم
یوګړي وګړي یوستوي او‌معمال‌کړ‌ای ۰ د‌اچې‌کړي (ې) د‌کړ (وینې) له‌او‌ږدوشخه
ګټل کېږي نو‌ابښې (ته)په‌وړاندې‌ې‌په‌ګډه‌یو‌ابښونې جوړوي‌یا‌په‌بله‌ژبه‌توله‌غږنده‌له‌پردو
بنیادي برخو‌ویشو ۰

ته ــــــــــــــ ې‌وینې

۳ــ د‌پښتو د‌فعلې اصطلاح ګانو‌واحد‌ونه‌چې د‌جوړښت‌له‌مخې‌به‌په‌دغې مقالې
کې په‌صنف‌بند‌یو‌ویشل‌شوې‌مخې‌او‌د‌یادولو‌وړ ابښې‌یې‌دا‌دي (د‌دولت‌لوستې‌له‌لیکنې‌څخه) ۰
د‌اغږنده‌له‌اه‌د‌وو‌ملو‌غږنده‌لو‌جوړه‌شوې‌ګډولې‌غږنده‌له‌د‌ه ۰ په‌د‌ې‌ډول‌چې‌د‌اړې‌غږنده‌ل‌ې
د‌ابښې‌او‌ابښونې‌ترمخ‌یې‌د‌ه‌څرګندنې‌څرمه‌غږنده‌له‌اچول‌شوې‌د‌ه ۰ څه‌چې‌د‌لته‌نابرې‌ــه

(نامانوسه) اونادوده بریښی هغه داري غونډ لی بیا پیښی (تکرار) دي اودا بیاپیښی اونادودي هله را څرګندیداي شی چی منځپیښی تري وایستل شی لکه : دپښتو دفعلی اصطلاح ګانو واحدونه مهمی اویادولو وړ نښی یی دادي ۰ ښاغلی لودین کولاي شول چی دا ټوله ګډلی غونډله داسی وکاږي :

دپښتو دفعلی اصطلاح ګانو دواحدونو مهمی اودیادولو وړ نښی چی دجوړښت له مخی به په دغه مقاله کی ډلبندي (صنف بندي) شی دادي ۰ خو داډول ده ځکه نه غوښتل چی منځنی څرګندنی څرمی بیاداري غونډ لی موخن توک یا مطلوب عنصر (واحدونو) پوري نه بلکی په نا غوښتلی توک (نښی) اړه پیداکوله ۰ که ټوله ګډ لی غونډ له یی په غبرګغونډلی اړولی واي لکه : دپښتو دفعلی اصطلاحا ګانو دواحدونومهمی اود یادولو وړ نښی دادي چی دجوړښت له مخی به په دغه مقاله کی ډلبندي (صنف بندي) شی ۰ په دي ډول کی بیاهم دمخنی ډول کانه کیده او دارغونډلی ایښونی خبر (دادي) هم بی ځایه ښکاریده ۰ خو یواځینی کره سمونه یی داسی کیده چی داري غونډ لی دایښونی برخه یی له (نوموالی) یاپه بله وینا له ټولوالی یا ملکیت څخه ژغورلی واي لکه په دي ډول : (دپښتو دفعلی اصطلاح ګانو واحدونه — چی دجوړښت له مخی به په دغه مقاله کی ډلبندي (صنف بندي) شی — دامهمی اودیادولو وړ نښی لري :) په نګه پښتو لکه :(دپښتو کړوالو ګړنو یوونونه — چی دجوړښت له مخی به په دغه لیکنه کی ډلبندي شی — داغوري نښی لري :) — په صنف بندیو وویشل شی یوه دخنداوړ تیروتنه ده (صنف بندي) پخپله د (ویشنی) مانا لري ویشنه بیا څنګه ویشل کیږي ۰

که څه هم ځینی لیکوال چی په پښتو کی له ګډلو غونډ لو سره کورټ ناباندي (مخالف) دي ۰ پاسنی ګډ لی غونډ لی په دوو درو بیلا بیلو پرله پسی یوستوو غونډ لو ټوټی کوي خوداکار دژبی له سیا یی ار (اقتصادي اصل) څخه تیري دی ۰ په دي مانا چی په هره ژبه کی داهڅه کیږي چی تروسی وسی پوري چی په لږو اوپرله غښتو (منسجمو) جولیزوتوکونو سره ډیره مانا اوجاج (مفهوم) څرګند کړشی نه داچی په سرچپه ډول په ډیرو ناپرله غښتو جولیزوتوکونوسره

لږ ه مانا اوجاج • نوکه یو بشپړ اوناشنونی مانیز یوون(واحد)په څو جولیزو یوونو (لفظی واحدونو) کی څرګندشی له ژبنی دوي او سول (منطق) څخه ښکاره سرغړ اوي دي •

او س بیرته را ځو خپلی ګډ لی غونډ لی ته چی بیلا بیل رغنده ټوکونه یی څه راز خپل منځی اړیکی او اوډون لري :

د ارغونډ لی ایښی له پښتو دود سره سم اوډل شوي • دکړند (واحدونه) اړوند توکونه دمخه اوپه خپله کړند وروسته راغلی دي • دویم تولوییکی ((د)) کیداي شو چی وسپمیزي ځکه پښتو د ستاینوم په توګه هم کارول کیږي • د دي ارغونډ لی بله برخه(ایښونی) د اوډون له مخی هم کومه نیمګړ تیا نلري • یواځی د (یی) زیاتوالی پکی دګوتنیونی (انتقاد) ټکی د ي چی دمخه موپري رڼا واچوله • دغه ټوله ارغونډ له دواړو خواووته دڅو اړوندو توکونو په د رلود لو سره یوه ارته یو ستوي ـ د ایښونی د ارتوک په ډول د (دي) په لرلو سره یوه نوموالـه اوپه مانیز ډول یوه خبري غونډ له بللاي شو • دابله منځپیښی څرمه غونډ له د اوډون له پلوه سمه ده خود تونپیر په غونډ (په دغی مقالی کی) (دغه) او (مقاله) هسی بیځایه په اوښتی بڼه کښل شوي دي ځکه په (لیکی معیاري)پښتو کی دویونکو د ډیرښت په لاسوند (په ـ کی) دخپل اړوند څیز نوم ډپایلی ونجون دود نه دي لکه (په اسره کی) ـ (په کوټه کی) لکه دحمید مومند په یوه درست شعر کی (خط پرمخ دصنم راغی که سپوږمی شوه په هاله کی ـــــــ دایی غاښ په خوله کی زیب کا که ژاله شوه په لاله کی •••)•

کړاوونـــــــــــه

۱ـ غونډ له پوهه څه ته وایی اوله څه نه غزیږي ؟

۲ـ دغونډ لی پیژوندون (تعریف) څنګه کیږي ؟

۳ـ یوه غونډ له په کومو دوو سترو برخو ویشل کیږي ؟

٤ـ دغونډ لی ډیر بنسټیز توک کوم دي ؟

٥ـ نیمګړي غونډ له څه ته وایی ؟

٦ـ غونډ څه ته وایی ؟

۷ـ دغونډ لی رغنده ټوکونه (متشکله اجزاء) کوم دي ؟

۸ـ د پښتو غونډ لی اوډون څه ډول دي ؟

۹ـ دګرامري چاراومانا له مخی دغونډ لی ډولونه وښیاست !

۱۰ـ غونډ له دجولی له مخی پرڅو ډوله ده ؟

۱۱ـ یوستوي غونډ له پرڅو ډوله ده بیلګی یی وښیاست !

۱۲ـ یو له یوستوي غونډ له په انځور لیک کی وښیاست !

لږ تر لږه دجولی له مخی دهري لنډ ی غونډ له ییز ډول راوپیژنی :

۱۳ـ که په میوند کی شهید نه شوي ـــ ګرانه لالیه بی ننګی ته دي ساتینـــه

۱٤ـ په تور توپک ویشتلی راشـــی ـــ دبی ننګی اواز د مه را څـه مینه

۱٥ـ اشنامی سرپروطن کیښـــو د ـــ په تار دزلفو به کفن ورته ګنډ مـــه

۱٦ـ مخ دي څراغ خوله دي غنچه ده ـــ درته حیران یم چی پتنګ که بورا شمه

۱۷ـ ولی به زه وریسی نه مـــرم ـــ چی مورته شاکړي ماته شنه له خنداشینه

۱۸ـ توري کوه بري به مومـــی ـــ که بري نه وي خوانان تل پروطن مرینـــه

۱۹ـ اخر به وران شی پیښـــوره ـــ دننګرهار پیغلی ښیرا د رته کوینـــه

۲۰ـ له خمارو سترګو دي جارشـم ـــ چه په ژړا شی مرغلري توینـــه

په دي لاندي لنډ يو کی اري (خپلواکی) او څرمه (بيواکی) غونډ لی سره توپيرکړ ي :

۲۱ـ که زه خبر واي چی بيلتون دي ـــ ما به مي يار ترلاس نيولی گرځونه

۲۲ـ که راته گوري د زته گورم ـــ که راته نه گوري پروا دي نلرمه

۲۳ـ بيلتون پرتنگه کوڅه راغی ـــ ماويل سلادي ده ويل کور دې ورانومه

۲٤ـ ماته وعده دخولگی را کړه ـــ حه که د تورو پرسرلاروي د ربه شمه

۲٥ـ مينه يم منکره نه يم ـــ که شينکی خال مي دچړو په څوکوځينه

۲٦ـ له لري مرم له نژدي سوزم ـــ زه ليونی طاقت د دواړو نلرمه

۲۷ـ دخوشالی ياران مي ډيرو ـــ چی ښادي ولاړه ټولو پورته کړ ل لاسونه

۲۸ـ ياري خوتاکړه ماخو نکړه ـــ چی تومت راغی اوس پرماکړي ښه

۲۹ـ سپوز مي پرمادي څه احسان دي ـــ زما اشناد ديواله سيوري ته ځينه

۳۰ـ سپوز ميه سروهه را خيژه ـــ زما اشنا د تورو شپو منزل کوينه

داوروسته شعرونه له سم اوډون سره په نثرولیکی :

۳۱ـ دمسلمان زړگی ازار چی اخلی ـــ څه شول پردي چی کليساته درومی

۳۲ـ مړي دزيار خود ايوسوال کړ ځواب ـــ چی له مادرومی وايه چاته درومی

۳۳ـ د سپيڅلو گروهو گچه مي له پاکوگناهو ـــ اود هيلو پيمانه مي نهيلونه وپوښته

۳٤ـ پرژوند پيښو که دزيار په رښتيا خبريدل غواړي ـــ پرهرژلی نارام ژوند يی له شعرونه وپوښته

۳٥ـ که ستی شوي زياره مينه کی ديار ـــ دياد څلی به دي جوړ شی له ايرو!!

۳٦ـ گړنه څه ته وايی اوپه دري اولاتينی يی څه بولی ؟

۳۷ـ گړنی دمانا اورغاونی له مخی څوډوله دي ؟

۳۸ـ دگرامري چار له مخی دگړنی ډولونه وښياست !

۳۹ـ (له سره تيريدل) دپورتنيو ډولونو له مخی څه رازگړنه ده ؟

٤۰ـ يوکنايی اومجازي مانا لرونکی وی اوگړنه سره څه توپيرلري ؟

نوي نومونـــــــــــــــــــ

اټکل	ګومان ــ حدس ــ تخميـــــن
ــ شمير	تخميني ياغير معيين عدد
اخځ	ماځ خذ
اخځليـــــك	د ماځ خذ ونو فهرست
ار	اصل ــ اصيل ــ اصلي ــ پرنسيپ
ارپير	اصلي حالت
ارته يوستوي‌غونډه له	منكشفه ساده جمله
ارشمير	اصلي عدد
ارغونډه له يا اړه غونډه له	اصلي جمله
ارماني	تمنايي
اړه	اصل ــ منشاء ــ نسب
اړه يوستوي‌غونډه له	اصلي ساده جمله
اړ	شرط ــ مانع
اړوتي	شرطي ــ مشروط
اړوند	تابع ــ متعلق ــ مربوط
اړوندي	تابعيت ــ تعلق ــ ارتباط ــ مربوطيت
اړيكپير	ارتباطي حالت
اړيكومځي	ارتباطي ضمير
اړيكوييكی	ارتباطي كلمه (حرف ربط)
اړين	ضروري ــ حتمي
انځورليك	گراف ــ ديا‌گرام

اند	فکر ــ مفکوره
ــ پوهه	ایدیولوژي
ــ دود	طرز فکر
انګازه	انعکاس ــ عکس العمل
انګینوم	صوتی نوم ــ نام اوا
انګینومیز	نام اوایی
اواز	فونیم ــ واج
اواز پوهه	فونیمیکس ــ فونیمشناسی ــ واجشناسی
اوډل	ترتیبول ــ تنظیمول
اوډون	ترتیب ــ تنظیم
اوریز	سمعی ــ سماعی ــ شنوایی
اوړون	گردان ــ تصریف
اوړونی	گردانی ــ تصریفی
اوړیدونی	گردانیدونکی ــ متصرفه
ــ ژبه	متصرفه ژبه
ــ گړ	گردانیدونکی مورفیم
اوسترېل	پسینه ــ پوستپوزیشن
اوستر مهال	استقبال ــ مستقبل
اوښتون	تغییر ــ تحول ــ انقلاب
اوښتی پیر	مغییره حالت
ایښونی	مسند ــ خبر ــ گذاره

ایښی	مسند الیه ـ مبتداء ـ نهاد
بشپړ	مطلق ـ مکمل
ـ کړ	مطلق فعل
ـ تیرمهال	مطلقه ماضی
ـ اوسمهال	مطلق حال
ـ اوسترمهال	مطلق استقبال
بشپړ اند	بشپړ وونکی
ـ کړ	سوپلاثیف یا ناقص فعل
ـ ترك یا ټوك	بشپړ وونکی عنصر یا جزء
بیاپیښی	تکرار
بیجار	بیکار ـ بی فعالیته ـ مجهول (فعل)
ـ کړ	مجهول فعل
ـ کړ نوم	مفعولی صفت
بیدوده	بیقاعده
بیدودي	بیقاعده گی
بیلتون	فصل
بیلښت	اشتقاق
بیلښتی	اشتقاقی ـ مشتق
بیواك (غز)	کنسوننت ـ صامت
پایڅوړ	ضمیمه ـ تعلیق
پایلینوي	نتیجه گیري ـ استنتاج
پایله	(فعلی) خاتمه ـ نتیجه
پایلیزه	(دکتاب) خاتمه

پرتله	مقایسه ـ مناسبه ـ نسبت
پرتلیز	مقایسوي ـ نسبی
پرنوم	ذات اسم
پژنی	بدنی ـ جسمی ـ ذاتی
پژي	بدن ـ جسم ـ ذات ـ وجود
پښو یپوهاند	گرامریستان
پښویه	گرامر ـ دستور ـ صرفونحو
پښو ییز	گرامري
پلوي	طرفدار ـ سمتی ـ توجیهی
ـ نومځري	سمتی ضمیر
پورغږ	واج قرضی
پورویی	مستعار لغت ـ واژه ي قرضی
پوړ شمیر	رتبی یا وصفی عدد
پوښتغونډ له	استفهامی جمله
پوښتنښه	د سوالیی علامه
پوښتیلیك	پرسشنامه
پوښتنومځري	استفهامی ضمیر
پوښتنی	استفهامی
پیر	مرحله ـ دور ـ دوره ـ حالت
پیژند	ارتیکل ـ حرف تعریف

ـ پانـه	استعلامیه ورقه
پیوستون	وصل
تاړي	وند ـ افیکس
ترغبرګنوند له	عطفیه مضاعفه جمله
ترویکی	حرف عطف ـ دعطف توري
ترانی	امکانی ـ اقتداري
ـ کړ	ـ فعل
توري	حرف ـ ګرافیم
توسن	سبب ـ علت
ـ پیر	الی حالت
ـ غوند له یا توسنی غوند له	علتیه جمله
ـ ویکی	دعلت توري
توسنی	الی ـ علتی ـ علتیه ـ معلول
توك یاتوکی	عنصر ـ ماده
تول	مال ـ ملکیت
ـ نوم	مضاف
ـ نومحري	ملکی یا اضافی ضمیر
ـ تون	محاي ـ ظرفیت
ـ پیر	ظرفی حالت ـ لوکاتیف
تونی	ظرفی ـ مکانی
ـ کـړول	مکانی قید

تیرمحال	ماضی ــ تیره زمانه
ــ کړ	ماضی فعل
توك	جزء ــ جلد
توکر	پاراگراف
تولنوم	عام اسم
تولی	کتیگوري
تولیز یا تولوال	کلی ــ عمومی ــ عامه ــ مجموعی ــ جمعی
جاج	مفهوم
جوت	معلوم ــ ثابت ــ مشخص
جوله	بنیه ــ شکل ــ لفظ
جولیز	شکلی ــ ظاهري ــ لفظی
چار	عمل ــ عملیه ــ فعالیت ــ فنکشن
ــ وال	فعال ــ معلوم
ــ ــ کړ	معلوم فعل
ــ ــ ــ نوم	فاعلی صفت
ــ انګ	عکسالعمل ــ بازتاب
څانګړتیا یا څانګړنه	خصوصیت ــ خاصه
څانګړنومځي	شخصی ضمیر
څانګړي نوم	خاص اسم ــ علم
څپه	هجاء ــ سیلاب
څپیز	هجایی ــ سیلابی
څرګندنی	تشریحی ــ توضیحی

ـــ غوندې له	بیانی یا توضیحی غوندې له
څرګندوینکی	بیانیه ادات
څومره	فرعی ـ ضمنی ـ الحاقی
ـ غوندې له	فرعی جمله
څرنګ والی	کیفیت
څرنګیز	کیفی
څومره والی	کمیت
څومره ییز	کمی ـ کمیتی
څیز نوم	اسم ـ سوبستانتیف
څیز نومیز	اسمی
څیز بل	غیرشخصی
خبر	خبر ـ مسند ـ ګذاره
خبري	خبري ـ بیانی ـ بیانیه
ـ غوندې له	خبري جمله ـ بیانیه جمله
ـ کړ	خبري یا بیانیه کړ
خپلواک (غږ)	واول
خپلواک غوندې له	مستقله یا اصلی جمله
خج	فشار
خـــجن	فشار لرونکی
دود	قاعده ـ رواج ـ مروج
دودیز	باقاعده ـ عنعنی ـ متداول
دوی	قانون

ډيرګړي	جمع
روزد (ي)	معتاد
روزدتيا	اعتياد
روزدنى	اعتيادي
روزدي	عادي
ـ کړ	اعتيادي فعل
روستاړي	پسوند ـ لاحقه ـ سفيکس
زورخج	ديناميکخج
ژيپوهاند	زبانشناس
ژيپوهنه	زبانشناسى
ژيپوهنيز	لينگويستيکى •
ژبنى	لسانى
ستاينوم	صفت
سربل	پيشينه ـ پريپوزيشن
سرغاړي	مستکف ـ سرکش ـ متمرد ـ باغي
ـ غونډه له	مستکفه جمله
سول	عقل ـ منطق
سوليز	معقول ـ منطقى
شمير ترنګ	عددي ترکيبونه
شمير نوم	عدد (اسم)
شننه	تجزيه ـ تحليل ـ تفسير
ښځينه	مؤنث

غارە	لحن ــ ترنم
غبرگەز	دیفتونگ
غبرگەوزە لە یا غبرگەغوزە لە	مضاعفه جمله
غبرگون	انعکاس ــ جواب
ــ کرێ	انعکاس فعل
ــ نومخری	انعکاس ضمیر
غز (زغ)	فون ــ صدا ــ سوند
ــ پوهه	فونو لوژي
ــ پوهیز	فونولوژیکی
غو بنتتی	دعائیه ــ مطلوب
ــ کرێ	دعائیه فعل
غوندە	گروپ ــ فقره
غوندە لە	جمله
ــ پوهــه	نحو ــ سینتکس
ــ ییز	جملوي
ــ پوهیز	نحوي
غوندە نوم	اسم جمع
کرێ	فعل
ــ اورون	دفعل گردان
ــ ترێ	...
ــ تۆك	فعلی عنصر
ــ غوندە	فعلی گروپ
ــ مهال	فعلی زمانه
ــ نوز	فعلی جنس

ـ نوم	فعلی یا مشتق نوم
کړند	فاعل
ـ پیر	فاعلی حالت ـ نومیناتیف
کړوال	فعلی
ـ غوندې	فعلی گروپ
کړوالې غوندې له	فعلی جمله
ـ گړنه	فعلی اصطلاح
ـ ول	قید
ـ ولی	قیدي
کړولې	فعلی ریښه
کړولی غوندې	قیدي گروپ
کړي	مفعول
ـ غوندې	مفعولی گروپ
ـ پیر	مفعولی حالت
گډ غوندې له یاگډ ه غوندې له	مرکبه جمله
گډ لی غوندې له	مختلطه جمله
گړ	مور فیم ـ واج
ـ پوهه	مور فیمولوژي ـ واژشناسی ـ حرف
ـ پوهیز	مور فیمولوژیک ـ صرفی
گړ دود ه	لهجه ـ گویش
ـ پوهه	لهجه شناسی
گړنپوهنه	اصطلاحشناسی ـ فرازیولوژي
گړنه	اصطلاح ـ محاوره ـ ایدیم ـ فراز

گرنس	اصطلاحی ـ محاوروی ـ شفاهی
گنهـه	عدد ـ افراد وجمع
گومانی	شکی ـ احتمالی
لالرنغوتنو مخري	لالري اشاري ضمير
لرتير مهال	بعيده ماضی
لرستاينوم	دمسند صفت ـ دپريديکات صفت
لرکړی	بالواسطه مفعول ـ داتيف
ـ پير	دبالواسطه مفعول حالت ـ داتيف
لرنغوتنو مخري	لري اشاري ضمير
لښتيليك	جدول
لنډ تيرمهال	قريبه ماضی
لنډ ستاينوم	دمسند اليه صفت ـ نژدي صفت
لنډ کړي	بی واسطه مفعول ـ اکوزاتيف
ـ پير	دبی واسطه مفعول حالت ـ اکوزاتيف
لوستلیکی	کتاب قرائت ـ درس کتاب ـ تکسبوك
لوښتن يالوښين	الی ـ انسترومنتال
ـ پير	الی حالت ـ انسترومنتاتيف
لوښی	ظرف ـ اله ـ سامان
ليزند فعل	متعدي فعل ـ ترانزيتيف فعل
ـ چارکړه	کوزاتيف فعل ـ مصدر صناعی
ليکلړ	لست ـ مينيو
ليکنښه	د تنقيط علامه ـ پنکچوپشن
ليکنی	تحريري

لیکس	کتاب
ـ پلور	کتابفروش
ـ پلوري	کتابفروش
مانا	معنی ـ معنا
ـ پوهه	علم معانی ـ سیمانتیک
ـ توك	معنوي توك
ـ نوم	اسم معنی
ـ ونج	معنوي تغییر
مختاړی	پیشوند ـ سابقه ـ پریفیکس
مخکړ	فعلی سابقه ـ پریویرب
مرستیالکړ	معاون فعل
مله غونډ له	ملگري یا فرعی جمله
منځپیښی غونډ له	معترضه جمله
منځتاړي	میانوند ـ انفیکس
منځوالکړ	انعکاسی فعل
موخه	هدف ـ مقصد ـ مطلب ـ مطلوب
موخن	مطلوب
نابشپړ کړ	غیر مطلق فعل ـ استمراري فعل
ناپاي	ناتمام ـ مصدر ـ اینفینیتیف
ناشنونی	لایتجزا ـ غیر قابل تجزیه
نالیزند کړ	لازمی فعل ـ اینترا نزیتیف فعل
ناوړیدونی	غیرمتصرفه ـ نه گردانیدونکی ـ نه اوړیدونکی
نرینه	مذکر

نغوته	اشاره
نغوتنو مخري	اشاري ضمير
نوچار	ابتكار ــ اينيسياتيف
نوز نوم	اسم جنس
نوزي	جنس
نوم	اسم
ــ اورون	داسم گردان
ــ اوښتون	داسم تغيير
ــ پير	اسمي حالت
نومخري	ضمير (مخري ــ نماينده)
نوم نوزي	اسمي جنس
نومال يا نوميز	اسمي
ــ غونډه	اسمي گروپ ــ مسند اليه
نومالهغونډه له	اسمي جمله
ــ گرنه	اسمي اصطلاح
ــ ليك	فهرست اسماء يا اعلام ــ ايندېكس
نومونپوهنه	ترمينولوژي
نومونه	نامگذاري ــ اصطلاح (علمي ــ تخنيكي) ــ ترم
نوميرل	تشخيصول
نوميز يانومال	اسمي
نيمواك (غز)	نيم واول ــ شبه واول
نيوليك	فهرست مندرجات

وتونپیر	دمفعول منه یا منشایی حالت ـ ابلاتیف
ورتلون پیر	دمفعول له حالت
ورمند ون	امر ـ حکم ـ قضاوت
ورمند ي	امري ـ قضاوتی
وگړپوهنه	اتنولوژي ـ انتروپولوژي ـ بشرشناسی
وگړي	شخص ـ صیغه
ولمه	ریشه ـ جذر ـ روټ
ونج	بدل ـ عوض ـ بدلون ـ معاوضه
ونجول	بدلول ـ تبدیلول ـ عوضول ـ معاوضه کول
ونجون	بدلون ـ معاوضه
ونجیدل	بدلیدل ـ غوضیدل
وور شمیر یامات شمیر	کسري عدد
ویش شمیر	انقسامی عدد
ویس	لغت ـ کلمه ـ واژه
ـ اوډون	ترتیب کلمات
ـ پانګه	لغوي ذخیره ـ وکابولري
ـ پور	قرض واژه یی
ـ پوهه	لغتشناسی ـ واژه شناسی
ـ رغاونه	لغوي ساختمان ـ واژه سازي
ویږ	لغري ـ کلموي
ـ خج	لغوي فشار
ویکړ مخري	اداتی ضمیر
ویکی	ادات ـ حرف ـ پارتیکل

همیشنی یاهمیشه یی	استمراري ـ دایمی
هیبن	حیران ـ متحیر ـ متعجب
هیبنتیا	حیرانی ـ تحییر ـ تعجب
هیبنده	محیر ـ تعجباور
هیبننی	تعجبن
یوستوي	ساده ـ بسیط
ـ غونډ له	بسیطه یا ساده جمله
ـ وین	بسیطه کلمه
یوگړی	مفرد
یوون	واحد ـ یونټ

وین پانگـــــــه

پښتـــــو	ناپښتـــو
اخځ	ماځ خذ
ـ لیك	دماځخذ ونو فهرســـت
آر	اصل ـ پرنسیپ ـ اصیل ـ اصلی
ـ پوهه	ریشه شناسی ـ فقه اللغه ـ اتمولوژي
ارزښت	ارزش ـ اهمیت
ارزکتـــه	ارزیابی
ارزونه	اسعار
آرشمیر	اصلی عدد
اروانشاد	مرحوم ـ شاد روان
آروالی	اصالت
اروپا گروهی	اروپایی مشرب
آره	نسب ـ منشاء
له ـــــ	اصلا ـ په اصل کی
آړ	شرط ـ مانع
اړپیچ	اختلاف ـ تضاد ـ ضد
اړپیچن	ضد ـ متضاد
اړنگ	شك ـ اشتباه
ـ لاندي	مشکوك ـ مشتبه
اړوتی	مشروط ـ شرطی
اړوند	مربوط ـ مرتبط ـ متعلق ـ تابع
اړوندي	همبستگی ـ تعلق ـ ارتباط ـ تابعیت

پښتو	نا پښتو
اړیکی	رابطه ـ ارتباط ـ تعلق (جمع) روابط ـ تعلقات ـ مناسبات ـ تماسونه
اړین	ضروري ـ حتمي
اسمانځك	اسمانخراش
اغیز	نفوذ ـ تاثیر
اغیز من	موٴثر ـ متاٴثر ـ متنفذ ـ نافذ
اغیز منی	موٴثریت ـ نافذیت
اغیزه	تاثیر ـ تاٴثر
اکر	وضع
الواك	نظر ـ نظریه ـ نگاه ـ تیوري
ـ دود	طرزنظر
ـ هم	همنظر
الواکی	نظري ـ تیوریکی
ان (هن)	اینك ـ حتی
انځور	رسم ـ تصویر ـ نقش ـ تمثیل ـ گراف
ـ لیك	گراف ـ دیاگرام ـ پیکتوگرام
ـ یز	ترسیمی ـ تصویري ـ مصور ـ تمثیلی ـ دراماتیك
اند	فکر ـ مفکوره
ـ پوهه	ایدیولوژي
ـ دود	طرز تفکر
ـ لیك	هنر وارث ـ ایدوگرام

پښتو	ناپښتو
ـ ي	فکري ـ مفکر ـ متفکر
انګ	حس
انګونه	حواس
انګیرل	ګومان کول ـ تعبیرول ـ حد سول ـ ګڼل
انګیرواله	ایدیالیزم ـ انګارګرایی
اوید انځی	نساجی فابریکه
اوید انه	نساجی ـ بافنده ګی
اوریدا	سماع ـ استماع
اوریز	سمعی ـ شنوایی
اُوریز	بیره یی
اوسپینیز	اهنی
اوښتون	انقلاب
اوښکن	اوښکی بهوونکی ـ اشك اور ـ اشکریز
ـ لوګی	ـــ غاز
ایرنۍ	خاکستردانی
بادوړه	برف کوبه
بد اندي	بد اندیش ـ بدخواه
بدوین	بدبین
بډ	حریف ـ مقابل ـ نظیر
ـ والی	تقابل ـ مقاله
برخه وال	سهیم ـ شامل (کفرانس ۰۰۰)

پښتـــو	ناپښتـــو
بريښنا گاډي	برقی موټـر
چـم گاډي	ترموای
بشپړ تيايی	تکاملی
بشروالـه	بشر دوستی ــ اصالت بشري ــ هومانيزم
بلغز	الوفون
بلگړ	الومورف ــ واجگونه
بلوس	تجاوز ــ تيري ــ غصب
بلوسگر	متجاوز ــ غصبوونکی ــ اشغالگر
بوټهوهاند	بو تانيست
بو ټهوهنـه	گياشناس ــ بوتانيك
بوټيانـه	بوتانيك
بولنتون	قوماندانی
بولندوي	قوماندان
بولنـه	مقوله
بهـر	خارج
بهـرنی	خارجی
بيابانگرځی	بيابانگرد
بيارغاونه	بازسازي ــ ريستوريشن
بياليکون	بازنويس
بيخبـنا	زبربنا
بيدوده	مستثنی ــ بی قاعده

پښتو	ناپښتو
بيدودي	استثناء ــ بې قاعده گي
بيلتا	ميز
بيلا بيل	مختلف ــ بيل بيل
بيلښت	اشتقاق
بيلښتن	اشتقاقي ــ مشتق
بيلنگ	مشتق
بيلنگونه	مشتقات
پاتکی	طبقه
پاتکيز	طبقه يي ــ طبقاتي
پازپيژاند	وظيفه شناسي ــ مسووليت شناسي
پازوالی	مسئوولميت
پانگوال	سرمايدار
پانگواله (پانگوالی)	سرمايداري
پايلنيوي	نتيجه گيري ــ استنتاج
پايله	خاتمه ــ نتيجه
پايليزه	خاتمه (کتاب وغيره)
پتييل	تصميم نيول
پچار	فعال
پدل	اثر ــ تابو ــ تحريم
ــ وين	تحريم شوي کلمه ــ تابو
پراختيا غوښته	توسعه طلبي ــ توسعه جويي

پښتـــو	ناپښتـــو
پراختیایی	توســـعوي
پرتلل	مقایسه کول ـ قیاسول ـ مقابله کول
پرشاتگ	عقب نشینی ـ قهقرایی سیر
پرگنغونډه	میتینگ ـ جلسه (پیښاور)
پرگنواله	کمونیزم
پرگنه	کمون ـ توده ـ کتله
پرگنیز	کمونی ـ توده یی ـ کتلوي
پرله پسیوالی	تسلسل ـ تواتر
پرله غښتل	منسجمول
پرله غښتی	منسجم
پرله غښتیا	انسجام ـ نظم ونسق
پرمختللی	مترقی ـ پیشرفته
پرمختیا	انکشاف
پرمختیایی	انکشافی
پریکړه	فیصله ـ مقاطعه ـ تصمیم
ـ لیك	فیصله لیك ـ قطعنامه
پـژنی	بدنی ـ جسمی ـ عضوي
پژي	بدن ـ جسم ـ عضویت ـ اورگان
پښت پوهاند	نسب شناس ـ ژینو لو ژیست
پښت پوهنه	نسب شناسی ـ ژینـو لوژي
پلارواکی	پدرشاهی
پلوي	طرفدار ـ وابسته

پښتو	ناپښتـــــــو
پلوي	طرفداري
پوچاندي	بداندیش ـ بدنیت ـ بدسگال
پورژپاړه	عاریتی ترجمه
پورتنی	قرض ـ عاریتی ـ مستعار
پورویـــس	قرض یا مستعارلغت
پوښتپانـــه	داستعلام ورقه
پوښتنـــبنه	استفهامیه علامه
پوښتلیك	پرسشنامه
پوهنغونډه	دایره المعارف
پوهنیز	علمی
په بل پسی	دبل پسی
په بله وینا	په بل عبارت
په پای کی	په اخر کی ـ بالاخره
په ترڅ کی	په ضمن کی ـ ضمنا ـ پوصورت کی
په ټولیز ډول	په عمومی ډول ـ عموما
په رښتینـــه	په واقعیت ـ په حقیقت کی ـ واقعا ـ حقیقتا
په وړاندي	په مقابل کی ـ په حضور کی
په هیڅ پوري اړه نلري	دهیڅ پوري اړه نلري
په یو مهال کی	درعین حال
پیښلیك	تاریخ
پیښلیکونکی	مورخ ـ تاریخدان
ترژمی پسرلی بنه دي	دژمی نه پسرلی بنه دي

پښتو	ناپښتـــــو
له کابل څخه تر ننګرهار پوري	د کابل نه د ننګرهار پوري
پییون	نظم ـ تنظیم
ترښت	ترکیب
ترښتن	ترکیبي ـ مرکب
ترنګ	مرکب ـ ترکیب
ترنګونه	مرکبات ـ ترکیبات
ترکموالـه (نژاد والـه)	نژادپرستي ـ اپارتاید ـ نژادي تبعیض
توکیز	مادي ، عنصري
ـ والـه	مادیت ـ ماتریالیزم ـ دمادي اصالت
تونس	مکاني
تاپول	تایپول
تبرپوهنه	نژاد شناسي
تبرنی (تبري)	نژادي ـ قومي
تولنپوهاند	جامعه شناس ـ سوسیولوژیست
تولنپوهنه	جامعه شناسي ـ اجتماعیات ـ علم الاجتماع
تولنوالـه	سوسیالیزم
تولنیز	اجتماعي
تولنیزیدل	اجتماعي کیدل
تولوال	عمومي ـ عامه ـ همګاني
تولوالی	اتفاق ـ اتحاد ـ یک پارچه ګي

پښتو	ناپښتـــو
تولی	کتبګوري
تولیز	عمو می ــ کلی
جوت	ثابت ــ معلوم ــ مثبت
ــ پوهنه	مثبت علم ــ سایینس
ــ تیا	اثبات ــ ثبوت
جوله	شکل ــ صورت ــ لفظ
جولیز	شکلی ــ صوري ــ لفظی ــ ظاهري
چاپخونه	چاپخانه ــ مطبعه
چارانګ	عکسالعمل ــ بازتاب ــ واکونش
چال چلند	سلوك ــ رفتار ــ گذاره ــ معیشت
چانټون (چانچی)	تصفیه خانه
ځان وژنه	خود کشی ــ انتحار
ځانګړتیا (ځانګړنه)	خصوصیت ــ خاصیت
ځانګړي	مخصوص ــ خصوصی ــ خاص ــ مختص ــ شخصی ــ فردي
ځانی	شخصی ــ فردي
خیښـــاك	استثمار ــ استحصال ــ بهره کشی
ځښښاګر	استثمارګر ــ بهره کش
ځمکپوهنه	جغرافیا
ځمکوال	زمیندار ــ فیودال
ځمکوالی	زمینداري ــ فیوډالیزم
ځواك	قدرت ــ قوه ــ طاقت
ځیر	دقیق ــ متوجه

پښتو	ناپښتـــــو
څـار	مراقبت ـ انتظار
څارن	مراقب
څارنوال	مدعی العموم
څارنه	مراقبـت
څارو	مراقب ـ منتظر
څانګوال	متخصص ـ مسلکی ـ درشتی خاوند
څانګه	شعبه ـ رشته ـ مسلك ـ موٴسسه ـ دیپارتمنت ـ تخصـص
څانګیز	رشته یی ـ مسلکی ـ تخصصی
څښاك اوبه	دڅښلو اوبه
څلورلاري	چارراهی
څیړاند	محقق ـ متتبع
څیړندود	طرز تحقیق ـ د تحقیق متود
خبرتیا	معلومات
خبرځای	دخبر منبع
خبرونه	اطلاعیه ـ ابلاغیه ـ اعلان
خپرندوی	ناشر
خپرنځی	محل انتشار ـ دنشرځای
خپرنې	نشراتی
خپلمنځچار	ذات البینی تعامل یافعالت

پښتو	ناپښتـــــو
خپلمنځی	ذات البینی
خت	کمیس
ختی	زنږ پیرهنی
د بیلگی په توګه	د نمونی په توګه
د رسته وال	مسلح ــ وسله وال
ــ ځواکونه	قواوې
د ساري په ډول	د مثال په توګه ــ مثلا
د ود	رواج ــ عنعنه ــ مروج
د ودیالی	مهذب
د ودیز	عنعنی ــ متداول
د وګړو شمیر یا زیاتوالی	د نفوسو شمیر یا زیاتوالی
د وه ګړی	تثنیه ــ دوال
د وه واله	دوالیزم
د وی	قانون
ــ غونډه	د قوانینو مجموعه
ــ لیک	قانوننامه ــ دستور نامه
د ویمی ــ (د ویمنی)	دومی ــ دومین ــ ثانوي
د ویزه	مثنوي ــ د وه روپګی
دینپوهنه	دینیات ــ دینی علم یا علوم ــ تیولوژي
ډار	خطر ــ ویره ــ دهشت
ډارناک	خطرناک

پښتو	ناپښتو
ږ اروونکی	د هشت افگن
ږ بر چاپ	سنگی چاپ ـ لیتوگرافی
ږ بر لیك	کتیبه
ږ برین	سنگی ـ سنگین
ږ لواکی	جمهوري ـ جمهوریت ـ جمهوري نظام
ږ یر پیښی	کثیرالوقوع
ږ یرپیښي	بسامد
ږ یر څپیز	کثیرالهجایی ـ ږ یر سیلابی
ږ یر څښتنی	شرك ـ مشرکی
ږ یرزیزي	کثیرالتولید
ږ یر ژبی	څولسانه ـ پولی لینگوال
ږ یر ژبیز	څو لسانه (قاموس ۰۰۰)
ږ یر بښت	کثرت ـ اکثریت ـ میجاریتی
ږ یر بښتی (ږ یروالی)	اکثریتی
ږ یر بښځنی	د څوښځو خاوند
ږ یر بښځینی	تعدد زوجات
ږ یرمانیز	کثیرالمعنی
ږ یر میړونی	تعدد ازواج ـ پولیاندري
ږ یر ودون	تعدد ازدواج ـ پولی‌گامی
راکښون	جذب ـ جلب ـ جذابیت ـ جالبیت
ږ یړه	پرابلم ـ معضله
رغا	بیزاري

پښتو	ناپښتـــــو
رغاونه	ساختمان ــ سازمان
رغاونی (رغاونیز)	ساختمانی
رغاوه	صنعت
رغاویز	صنعتی
روغتیایی	صحی
روټاندي	روشنفکر ــ منور
ریز (ریژ)	برف کوچ
زړغه	تردد
زړغی	متردد
زغرګاډي	زړه دار موتر
زغرالی	زړه دار
ژبپانګه	لسانی ذخیره ــ لغوي ذخیره
ژبپوهاند	زبانشناس ــ لینګویست
ژبپوهنه	زبانشناسی
ژبپوهنیز	لینګویستیکی
ژبځزاند	زباندان
ژبښود	دژبی خود اموز
ژبښودنه	لسانی تدریس زبان اموزي
ژبلوست	دژبی درس یا تدریس
ژبنی	لسانی
ژبپونج	لسانی تغییر ــ لسانی تحول
ژغی	دمریض تذکره

پښتر	ناپښتو
ژمنه	وعده ـ تضمین ـ تعهد
ژیوهاند	زولوژیست ـ جانورشناس
ژیوهنه	زولوژي ـ جانورشناسی ـ علم الحیوان
ژوند پوهنه	بیولوژي ـ زیست شناسی
ژوند دود	د ژوند طرز ـ کلتور
ژوندنی	حیاتی
ژونی	حیوانی
ساپوهاند	روانشناس
ساپوهنه	علم الروح ـ پسیکولوژي ـ علم النفس ـ روحیات
ساییز	روحی ـ تنفسی
سپرنه	تشریح ـ شرح
سپن	فون
ـ پوهه	فونیتیک
سپمایی	صرفجوبانه
سپوزمیز	قمري
ستاینلیک	تقدیرنامه ـ جایزه نامه
ستر	لوي ـ مهم
سترچاری	کلانکار ـ متکبر
ستورپوهاند	منجم ـ ستاره شناس ـ هیأت دان ـ استرونوم
ستورپوهنه	د نجوم علم ـ د هیأت علم ـ استرونومی
سرینا (مخینا)	روښانا

پښتـــو	ناپښتـــو
سرچپه	برعکس- معکوس
سرليك	عنوان ــ سرنامه
سرليكه	سرمقاله
سريزه	مقدمه ــ سراغاز
سړوښه	شيريخ ــ آيسكريم
سړي سر	فی نفر ــ د سړي سر
ــ كال گټــه	د سړي سركالنی عايد
ــ گټــه	كالنی عايد
سمدلاسه	سمدستی ــ دستی ــعجالتا
سملاسی	فوري ــ عاجل
سمون	اصلاح ــ ترميم ــ تصحيح ــ ريفورم
ــ ليك	غلطنامه
سند	رائي
ــ اخيستنه	رائي گيري ــ ريفرندم
ــ ورکونه	رائي ورکونه
سوب	حاضر
سهــل	هضمول ــ تحمل کول
سيمه	منطقه ــ محل ــ علاقه ــ ناحيه ــ ساحه ــ حوزه
ــ ييز	منطقوي ــ محلی ــ علاقه يی ــ ناحيوي ــ حوزوي
شپه ليك	شب نامه
شمارپوهنه	د احصائيی علم
شماري	احصائيوي

پښتو	ناپښتـــو
شمارخيړنه (شميرخيړنه)	احصائيه .
شننه	تحليل تفسير
ښار مينه	ښاري ناحيه ـ کارته
ښځمـــنه	زنانه ـ سياسر
ښځينـــه	زنانه يي ـ مونث
ښکارندوي	نماينده ـ نمايانده ـ ممثل ـ مظهر
ښکارندوين	نماينده گي ـ تمثيل ـ اظهار
ښکارنده	پديده
ښکارنليک	اظهارنامه
ښنده	افراط ـ مبالغه
ښندي	افراطي ـ اکستريم
ښوونپوهاند	پيداگوگ ـ د تربيي عالم
ښوونپوهنه	پيداگوژي ـ علم التربيه
ښوونيز	تعليمي
ښه ترښه	فبها
غبرگنز	ډيفتونگ
غبرگون	جواب ـ عکس العمل
غورچان	گلچين ـ منتخب
غوره	بهتر ـ مرجح ـ مهم
غوړاوو	چاپلوس
غوړاوي	چاپلوسي ـ تملق

پښتو	ناپښتـــــو
غونډه	مجموع ــ گروپ ــ کل
غونډال	سیستم
کارنده	فعال ــ کاري
کارډیش	تقسیم کار
کالخواي	ولی ــ فامیلی واکمـــن
کرکیل (کرکیله)	کشت وکار ــ زراعتی چار
کرگر	دهقان ــ بزگر ــ زارع
کرنپوهه	علم زراعت
کرنه	کرهنـــه ــ زراعت ــ کشت
کروندگر	ــ ــ ــ
کروندده	مزرعه ــ فارم ــ زراعت
کړاو (یوځپیز)	تمرین ــ مشق ــ ممارست ــ جمناستیك ــ ادمان
کښول	بالاپوشی ــ کوټ
کیڅ	قبر
ــ لیك	دقبرلوحه
کیدون	امکان ــ احتمال
کیدونی	ممکن ــ احتمالی
گیز	نازل
گـــزل	نازلیدل
گچه	اندازه ــ سویه ــ سطح
گـــر	ظلم ــ استبداد
ــ گر	ظالم ــ مستبد
گروهن	معتقد

پښتو	ناپښتـــــو
گروهول	معتقد ول
گروهه	عقيد ه ــ اعتقاد
گروهيد ل	عقيد ه پيد اکول ــ گرويد ن
گناګاره	جريمه ــ کفاره
گډ ی	کرتی ــ جمپر
گډ اګی (بړيځی)	عمال ــ کولابراتيور
گوريت	عقاب
لارښود	رهنما ــ پيشوا ــ رهبر
لاسبري	مسلط
لاسبری	تسلط
لاسکتوی	زير د ست ــ مادون ــ ماتحت
لاسګښلی	خطی ــ قلمی ــ د ستويس
لاسکښنه	د ستويس ــ قلمی يا خطی نسخه
لرغون خونښونه	قد امت پسند ي
لرغون پوهانډ	لرغون پيژند ونکی ــ با ستانشناس
لرغو نپوهنه	لرغون پيژند نه ــ با ستانشناسی
لرليد	د ورنما
لروين	د وربين
لروينون	تلويزيون
لږښت	اقليت
لږښتی	اقليتی ــ اقل ــ اصغري

پښتو	ناپښتو
لسیزه	دهه
لگښت	مصرف ـ استهلاك
ـ وال	مستهلك
لگښتی	استهلاکی
لنډ اندی	کوتاه اندیش ـ کوتاه فکر
لوستلیکی	درسی کتاب ـ تکسبوك
لولاند	مدرس ـ لیکچرر
لولنگر	اواره
لووی	شاهد ـ گواه
لوهه	اشتها ـ ذوق
له	د
ـ پلوه	له درکه ـ له لحاظه ـ له طرفه
ـ توغه وتل	له عهدي وتل
ـ څلمی سره	د څلمی سره
ـ څیلمی	یکسره
ـ خوا	دخوا
ـ ده څخه	د ده څخه
ژمی راهیسی	د ژمی راهیسی
ـ سنگ پرته	د سنگ پرته
لیږد	رحلت ـ هجرت ـ کوچ

پښتو	ناپښتو
ـ ليك	نقل ـ کاپی
ليزدي	هجري ـ مهاجر
ليکچه	رساله ـ کتابچه
ليکلار	دليکنی سبك ـ ستايل
ليك ليکانی	مکاتبه
ليکنښه	د تنقيط علامه
ليکنی	تحريري ـ کتبی
مانا	معنا ـ معنی
ـ بلون	تداعی المعانی
ـ بلونی	متداعی المعانی
ـ پوهه	علم المعانی ـ معنی شناسی ـ سيمانتيك
مخزيزد	قبل الميلاد
مخزيزدي	قبل الميلادي
مخگنه	وصفی شمار
مرينشمير	د مړو احصائيه
مشليکی	جيبی کتاب
منگنی	خزانی
موروائی	مادرشاهی
موخن (موخه وال)	هدفمند ـ مطلوب
موخه	هدف ـ مطلب مقصد
مهالنی	موقوته ـ زمانی
مهالنی	جريده

پښتـــو	ناپښتـــو
مهالویش	تقسیم اوقات ـ پروگرام
مینه وال	علاقمند
ناپیلتوب	عدم انسلاك
ناپیلی	غیرمنسلك
ناسوب	غیر حاضر ـ غایب ـ پس شا
ناسوبتیا	غیر حاضري ـ غیابت
نړیوال	جهانی ـ بین المللی
نړیواله	بین المللیت ـ انترناسیونالیزم
نشتاند	منفی باف ـ نیالیست
نشتمن	نیستمن ـ نادار ـ مفلس
نشتمنی	نیستی ـ ناداري ـ مفلسی
ننگیرل	احساسول ـ محسوسول
ننگیرنه	احساس ـ حس
نوچار (نوښت)	ابتکار
نوزیز	جنسی
نومهالی	عصري ـ مودرن
نومیال (سړی)	مشهور (سړي)
نومیالی	شهیر ـ مشهور
نویسته	اختراع ـ ابداع
نهیـلی	نا امید ـ مایوس
نهیـلی	نا امیدي ـ مایوسی ـ یاس

پښتو	ناپښتـــو
نیاو	عدل ـ انصاف
ـ چار	عادل
ـ من	عادل
یز	عدلی ـ قضایی
نیټـه لیك	کرونولوژي ـ تاریخنویس
واکمن	باصلاحیت ـ داقتدار په سر
ـ گوند	داقتدار په سر گوند
وټپوهاند	اقتصاددان
وټپوهنه	داقتصاد علم
وټیز	اقتصادي
ودانیز	عمرانی ـ تعمیراتی ـ ساختمانی
وده	رشد
ـ ییز	دودي په حال کی ـ مخ په وده (هیواد ۰۰۰)
نوي پرمختایی هیواد ونه	پرمختـــیایی نوي هیواد ونه
ورځچاری	ابن الوقت ـ اپور تونیست
ورځچاري	ابن الوقتی ـ اپورتونیستی ـ اپورتونیزم
ورکوس	گمنام ـ بینام
ورمنـد ون	امر ـ حکم ـ حکمت ـ قضاوت
ورهنـه	کسب ـ پیشه
وړتیا	اهلیت ـ کفایت ـ لیاقت ـ قابلیت
وړجم	پوستین
وزلوبه	بزکشی

پښتو	ناپښتو
وژنشمير	دقتل احصائيه
وگړپال	مردم پرست ـ مردم دوست
وگړپوهاند	بشرشناس ـ انتروپولوژيست ـ اتنولوگ
وگړپوهنه	بشر شناسي ـ انتروپولوژي ـ اتنولوژي
وگړشمير	دنفوس شمير
وگړشميرنه	دنفوس شميرنه ـ سرشماري
وگړنې	مردمي ـ توده يي ـ خلقي
وگړواك	ديموكرات
وگړواكي	ديموكراسي ـ ديموكراتي ـ خلقي نظام
وگړيز	شخصي ـ فردي
ـ روستاړي	شخصي خاتمه (گرامر)
ولس دښمني	ضد ملت ـ ملت پرور
ـ مين	ملت دوست ـ ملت پرور
ولسواك	ديموكرات
ولسواكي	ديموكراتي
ولسواله	مليت ـ نشنليزم
ولسولي	ملت داري ـ هم ملتي
وند ه	سهم
وند ه (لكه تنده)	اندازه ـ سايز (مندوزي)
وياړ	عيب
ـ من	معيوب

پښتـــو	ناپښتـــو
ویارلن (ویارن)	له افتخاره ډک
ویارن	مفتخر ــ مغرور
ویشاك	تجزیه طلبی
ویلار	عزم ــ اراده ــ تصمیم
ویی لیکی	قاموس ــ فرهنگ
هان (منگ)	عمر
هاند (کول)	کوشش
هځوب	کلتور ــ ثقافت
هځویز	کلتوري
هځول	تشویقول ــ ترغیبول ــ مایلول
هڅه	کوشش ــ اقدام ــ میل ــ میلان ــ تمایل ــ شوق
ــ وهاند	جد وجهد
هڅیدل	تشویقیدل ــ مایلیدل ــ ذوق پیداکیدل
همعصر	معاصر
هواپوهنه	هواپیژندنه ــ هواشناسی ــ متروولوژي
هوایی چلند	هوانوردي ــ هواپیمایی ــ هوایی ترافیك
هیبن	حیران ــ متعجب
هیبنتیا	حیرانی ــ تحیر ــ تعجب
هیبنده	محیر ــ حیرانوونکی
هیبنی	تعجبی
هیواد	وطن ــ کشور ــ میهن ــ مملکت ــ دولت

پښتنـــو	ناپښتو
ـ پال	وطنپرست
ـ پالنه	وطنپرستی
ـ پلورنه	وطنفروشی
ـ پلوری	وطنفروش
ـ وال	هموطن ـ وطندار ـ وطنپرست
ـ واله	هموطنی ـ وطندوستی ـ پاتریوتیزم
یادښت	یادداښت ـ یادداشت ـ یادداشت ـ نوټ
یمال	دواوري تړیان
یوځپیز	یوهیجایی
یوښځینی	یـك زنی
یوګړي	مفرد (ګرامر)
یو سیړونکی	یـك شړهري
یون	حرکت ـ سفر
یوند ود	طرز حرکت ـ طرز رفتار ـ رسم ګذشت
یوون	واحد ـ یونټ

سید مسافر

اخځلیـــــک

۱ــ الهام ــ محمد رحیم : روش جدید درتحقیق دستور زبان دري ــ پوهنځی ادبیات ۱۳۴۹ ۰

۲ــ دوکتور پالوال عبدالرازق : پښتونوي مصدر ــ ادبپوهنځی ۱۳۵۰ کابل ۰

۳ــ دکتر پرویز خانلري : ساختمان جمله ــ بخش از جلد دوم تاریخ زبان فارسی بنیاد فرهنگ ایران ــ تهران ۱۳۴۹ ۰

ــ ساختمان فعل ور ور ور ور ور ور

ــ انواع پنجگانه ساختمان فعل جلد دوم تاریخ زبان فارسی بنیاد فرهنگ ایران تهران ۱۳۵۲ ۰

۴ــ دوکتور تزي حبیب الله : نوي ژیپوهنه اوژنی مسایل ــ پښتو ټولنه ۱۳۴۴ ۰

۵ــ دوکتور دولت محمد : دکلام داجزاور جوړ بنت ــ زیري ۴۳ گڼه ۱۳۵۱ کابل ۰

ــ دپښتو ژبی دفعلی اصطلاح گانو واحدونه اودهغوي دقاموس تشریحاتو څیړنی پوښتنی (ژباړه) ــ کابل مجله ــ ۸ گڼه ۱۳۵۱ کابل ۰

۶ــ دوکتور روان فرهادي : دستور زبان دري براي شاگردان مکاتب ــ لیسهٔ استقلال ثور ۱۳۵۴ کابل ۰

۷ــ دوکتور زیار : دژیپوهنی بنسټونه ــ ادبپوهنځی ۱۳۵۳ ۰

PROPERTY OF
PACKU
5596

8. E. Cosoriu:

Einführung in die Strukturelle Linguistik.

Uni. Tübingen 1969.

9. F. De Saussure:

Grundfragen der Allgemeinen Sprachwissenschaft - Uebersetzer: H. Lommel.

2. Auflage, Berlin 1967.

10. G. Helbig & J. Buscha:

Deutsche Grammatik -- Leipzig 1975.

11. H. Krahe:

Indogermanische Sprachwissenschaft 11 Formlehre.

Hamburg Göschen Band 60 - Berlin 1963.

12. A. Martinet :

Grundlage der Allgemeine Sprachwissenschaft.

Kohlhammer Verlag 1967.

13. J. C.Mayer-Ing. :

Untersuchungen von Satzbau des Paschto.

Hamburg 1966.

14. J. M. Ponce : A Tagmemic Grammar of Pashto Clause Structure.

Univ. Microfilms Michigan 1967.

15. H. Penzl : A Grammar of Pashto - Washington 1955.

16. D. A. Shafeev : A Short Grammatical Outline of Pashto - Mouton & Co. 1964.

17. U. Ulbrich : Wörterbuch - Linguistische Grundbegriffe.

Verlag Ferdinand Hirt 1972.